wyaarh.ashnaghar@gmail.com

جنوري 2013

MONTHLY
WYAARH
ASHNAGHAR
میاشتنۍ اشنغر
ویاړ
چیف ایډیټر
معظم جان معظم
ISSN201301

قام یا وطن

حضرت باچاخان رحمة الله تعالی
دهغهٔ قیصه
دهغهٔ په ژبه

د هند پېغله یوازې نهٔ ده
Lest we forget

اهانت

پولیو
څاڅکي او مړکي

دایجازې خاوندانو سره
پریان جرګه
پرخولو لپاره

چې فسادیان ځانونه مورداروي،
نو زهٔ شهادت نه ولې په شا شم؟

دامن بل اذان قتل شو

کهٔ دا جنګ زمونږ نهٔ دے،
بیا هغوي مونږ ولې وژني؟
زمونږ جنګ دے او مونږ به ئې ګټو!
دامن او مینې شهید
بشیر احمد بلور
1 اګست 1943 - 22 دسمبر 2012

دکنټونمنټ او هوائي ځواکونو ګاونډ کښې
باچاخان نړیوال هوائي ډګر باندې برید






حضرت رحمة الله تعالیٰ
باچاخان
غدار نه
بابا پورې


wyaarh.ashnaghar@gmail.com
http://www.pukhto.net
http://www.facebook.com/wyaarh
http://www.twitters.com/wyaarh




د غني خان دارُالأمان
کۀ
د مشال خان دارُالسپايان


جنيد کمپوزنګ هاؤس
دوئم منزل رحمان پلازه مردان روډ چارسده
Deals in all kinds of Composing, Printing and PVC cards for students




إنا لله و إنا إليه راجعون

اروانباد پروفيسر غفور احمد سره د پارلېماني سياست د تاريخ يؤ باب بند شو. د وياړ اداره د هغۀ د مړينې په دروند غم د خواشينۍ څرګندؤنه کوي.

پروفيسر غفور احمد
26 جون 1927-26 دسمبر 2012






د امن لپاره يؤ غږ
وخت فيصله غواړي

پاکستان د شلو ريزو پال مات کړو
وړومبۍ ورځنۍ لوبه کښې
ښۀ برياله شو
هاکي اتلولۍ هم ستر مات کړو



محمد اشرف غمګين
ستاسو کتابونه
روښانه مشالونه

MONTHLY WYAARH ASHNAGHAR

میاشتنۍ ویاړ اشنغر

چیف ایډیټر
معظم جان معظم

ISSN2013

ایډیټر: حیات روغانی

اعزازي ایډیټر: ډاکټر زبیر حسرت

بیورو چیف: اصف علي

سرکولېشن منېجر: حمیدالله جان



Wyaarh.ashnaghar@gmail.com
http://www.pukhto.net/wyaarh
http://www.facebook.com/wyaarh
http://www.twitters.com/wyaarh
0300 933 9128: Asif Ali
0311 886 2384: Hameedullah Jan



پاکستان کښې:

بیعه: 40 روپۍ (کلیزه چنده 350 روپۍ)

| بدل اشتراک | د یوې ګڼې بیه | د کال لپاره |
|---|---|---|
| افغانستان | 25 افغانۍ | 300 |
| یورپ | 5 امریکائي ډالره | 50 |
| خلیج | 10 یواے ای درهم | 200 |

مخپاڼه: حمنا ګرافکس

لیکچارې: داؤد ساکر

انځورګر: فوټوسټې چارسده

چاپ چارې: حمنا پبلیکېشنز پښتونخوا

0300 933 9128



| | | |
|---|---|---|
| سپېڅلے قران (ژباړه) | 01 | مفتي حنیف الله |
| اداریه | 02 | اداره |
| کابل راپور | 04 | شبیر محمد زرمل |
| شهید بشیر احمد بلور: د امن بل اذان قتل شو | 07 | حبیب یونس سالارزے |
| باچاخان هوائي ډګر بْرید: د شېطان بندګان؟ | 10 | ویاړ راپور |
| امانت: د هند پېغله یوازې نۀ ده | 13 | سیال سپاؤن |
| قبائیلي اولس څۀ غواړي؟ | 16 | کریم الله افریدے |
| پولیو څاڅکي اؤ مړدکي | 19 | ویاړ راپور |
| بَلَغَ الْعُلٰی بِکَمَالِه | 21 | مولانا عبدالله دیروي |
| اسلام اؤ د ښځو حقونه | 25 | قاري محب الله |
| عبدالولي خان: یؤ سیاسي اؤ پارلېماني لیډر | 30 | شمس بټګرام |
| ربښتیا ربښتیا دي | 33 | جمال شاه یوسفزے |
| چې فسادیان څانونه مورداروي..... | 34 | چغمټ |
| حضرت باچاخان: د هغۀ قېصه د هغۀ په ژبه | 39 | بهرام اوډیګرام |
| باچاخان اؤ د برصغیر وېش | 43 | ظهور احمد فضل |
| ډرامګۍ: پوهنا، بالکي اؤ خدائي خدمتګار | 45 | حیات روغانے |
| د عبدالغفار خان په ژوندي لیکلي شوي کتابونه | 48 | عالمګیر شاهین |
| بحرالادب: حرفونه | 50 | اروابښاد شېرشاه ترخوي |
| ستاسو کتابونه ــ روښانه مشالونه | 52 | محمد اشرف غمګین |
| په قربان! ــ متلونه | 54 | اداره |
| "اباسین" په "الوت" کښې | 55 | اروابښاد شېرشاه ترخوي |
| شاعري: یؤ غزل، یؤ نظم | 58 | |
| د غني خان "دار الامان" کۀ "دار السپایان" | 59 | معظم جان معظم |
| ویاړ لوبې: چېندرو | 62 | اداره |
| کرکټ پاکستان شلو ریزو پال هند سره مات کړو | 64 | نهاد خان |
| شنو اتۀ کلونه پس اېشین هاکي اتلولي ؤګټله | 65 | نهاد خان |
| هغوي بشیر بلور شهید ؤوژلو؟ | 66 | کاکي جان لالا |
| جده کښې د بشیر بلور شهید درېمه | 68 | فضل مومند |
| موسیقي اؤ تالونه | 69 | خیام یوسفزے |
| چناب ګاندهي: په باچاخان د سنجے بهنسالي فلم | 71 | روزي خان ناز |
| ټي وي اؤ سي ډي: د ستر معیار په څوک ټاکي؟ | 71 | حضرت الله قائد |


**د کال 2013ء رنګین کېلنډر د ویاړ دفتنه تر لاسه کړئ**

شاعري: عمرزاده افغان، فقرالله سالک

Editorial WYAARH

ویاړ اداریه

د میاشتني "ویاړ" مرام د پښتون اولس د تعلیم سره مینه، د پښتنو په خاؤره امن اؤ د پښتنو د اقتصاد د پرمختګ د پاره هلې ځلې کول دي ، هغه په پاکستان کښې دي، کۀ افغانستان کښې اؤ کۀ د نړۍ په نورو برخو مېشته دي ـ دغه لړ کښې مونږ هیله لرو، چې د پښتنو د ژوند په هر اړخ چې تاسو ژور نظر لرئ اؤ دغه نظر د پښتنو ژوند کښې بدلون راوستلے یا د بدلون لاره ښودلے شي، نو مونږ سره ئې زمونږ په بْرېښنائي لیک شریکې کړئ۔

مونږ ئې د خپرولو ژمنه کوو ـ اداره

د سورة البقرة [غوا] تېر پسې برخه......

پـه نامـه د الله چې رحمان او رحيم دے

(فرښتو) ؤوې، سُتائنې ستا دي، مونږ ستا د (را) ښودلې شوي نه پرته څۀ پوهه نۀ لرو او بې شکه تۀ پوهه او څيرکتيا لرونکے ئې . ((بيا) الله) ادم ته ؤوې، چې دوي ته د دغه (توکو/شيانو) نومونه تېر کړه، نو چې کله ورته ادم د دغه (توکو) نومونه تېر کړل، (نو) الله ؤوې، ايا ما درته وئيلي نۀ وو، چې د زمکې او اسمانونو د پټو (څيزونو) پوهه لرم او تاسو چې څۀ څرګندوئ او څۀ ښکاره کوئ، (زۀ) پرې خبر يم . او کله چې مونږ پرښتو ته د ادم وړاندې (د هغۀ د خلافت په درناوي کښې) د ټيټېدلو ؤوې، نو ابليس نه پرته (پرښتې) ټيټې شوې، هغۀ ؤ نۀ منله او لوئي ئې ؤکړه او (بدمرغه) مخ اړونکو څخه شو . او مونږ ادم ته ؤوې، (چې) تۀ او ستا ښځه (حوا) جنت کښې اوسېږئ او څنګه (چې) غواړئ، د دې (مېوو) څخه خورئ او دې ؤنې ته مۀ نزدې کېږئ (ګنې) تېرے کؤنکو څخه به شئ . (نو) شېطان هغوي (دواړه) تېريستل د هغه (جنت) څخه او چرته چې وو، هلته نه ئې (دواړه) ؤويستل . او مونږ ورته (جنت) څخه (زمکې ته) د کوزېدلو ؤوې، چې (هلته به) ځينې ستاسو د نورو (يؤ بل) دښمنان وي او زمکه باندې به ستاسو (يوې ټاکلې نېټې پورې) استوګنه (ځاے) او (د ژوند تېرؤلو لپاره د اړتيا) اسباب وي . نو ادم خپل پالونکي نه څو خبرې (د بخښنې غوښتلو لپاره) زده کړې، نو (د ادم په دغه بخښنه غوښتلو) ؤبخښلے شو . بېشکه چې هغه (الله) بخښونکے او پېرزو کؤنکے دے . مونږ (ورته) ؤوې، چې (تاسو) ټول دې (جنت) څخه کوز شئ، نو کۀ زمونږ لخوا څۀ لارښودنه درشي، نو څوک چې (دغه) لارښودنه ؤمني، نو څۀ وېره به ورسره نۀ وي او نۀ به خواشين وي . او څوک چې (زمونږ اياتونو نه) مخ اړوي او زمونږ ايتونه دروغ ګڼي، دغه (مخ اړونکي او دروغ ګڼونکي) د اور جوګه دي او تل به په دغه (اور د دوزخ) کښې وي . اے د يعقوب (عليه السلام) زوزاده! په تاسو زما کړې پېرزو ياده کړئ او زۀ به (تاسو سره خپل) کړے لوظ سر ته ؤرسؤم، (چې) تاسو خپل لوظ سر ته ؤرسوئ او (يوازې) ما نه وېرېږئ . او په هغه (کتاب (قران)) باور ؤکړئ، چې ما استولے دے (او هم دا کتاب (قران)) د هغه (کتاب) پخلاوے کوي، چې تاسو سره دے او دې نه د مخ اړؤلو پېل مۀ کوئ او زما اياتونه په لږو (نړئيزو/دنياوي ګټو) مۀ پلورئ او زما مرورتيا نه (ځان) ژغورئ . او رېښتيا دروغ کښې مۀ رانغاړئ او رېښتيا مۀ پټوئ او پوهېږئ (چې رېښتيا دروغو کښې رانغښتل او رېښتيا پټول ښۀ نۀ دي) . او نمونځ (پخپل وخت او په ښۀ ډول) کوئ او زکات ورکوئ او رکوع کؤنکو سره رکوع کوئ! ايا خلکو ته د سمې ښونه کوئ او ځانونه هېروئ او (سره د دې چې کتاب لولئ)؟ ايا د عقل نه کار نۀ اخلئ؟ او (په ازمېښتونو کښې) په زغم او نمونځ مرسته (الله څخه) غواړئ او دا (زغم او نمونځ) ډېر سَتغ دي، خو په (الله) اسره کؤنکو نۀ (دي ستغ) . هغه (د الله اسره کؤنکي) چې خپل پالونکي سره د ليدلو باور لري او دا چې (خپل پالونکي ته به) ستنېږي . اے د يعقوب (عليه السلام) زوزاده! په تاسو زما کړې پېرزو ياده کړئ او (دا چې) په نورو مو تاسو غوره کړئ (خپل استازي استؤلو سره) . (47)

ISSN201210

## د امن بل اذان قتل شو

د پښتنې خاوړې کربلا چې څومره اوږده ده،دومره پکښې الله هر زړۀ حسېن پېدا کړے دے . د پښتنو د لښکر هر زړۀ د حسېن زړۀ او هر سر د حسېن سر دے . د شهيد بشير احمد بلور ژوند د يۀ غازي ژوند ؤ او د شهيد دُرناوے ئې په برخه شو . د اے اين پي پارلېماني سياست کښې دا يۀ لوي زيان او د ترهګرۍ لپاره جنګ کښې لويه قرباني . يوازې هارون او عثمان نۀ، پېښور او ټول پښتون وطن يتيم شو . چرته چې هم داسې څۀ پېښه شوې ده، شهيد بشير احمد بلور او غازي ميا افتخار حسېن هغه ځاے ته د اولس او امنيتي ځواکونو ډاډګيرنې له رسېدلي دي . سوال دا پېدا کيږي، چې مونږ به ټول ژوند دغه پټ او ناليدلي دښمن ته په لويه لار کښې ولاړ يو، چې کله ئې خوښه وي، راځي به او مونږ به وژني، يا په کورونو کښې ستر شو؟ او کۀ مونږ يۀ نۀ ختمېدونکي جنګ ته پټون ټپولے دے او مخامخ مو ځان ته د شر د اشرمارو او د تيارو د امامانو ځواکونه فرض کړي دي؟ دې جنګ ته د سياسي او ذاتي مفاداتو له وجې پْردے ويونکو ته به ټول ژوند د شهيد بشير بلور دا خبره پېغور وركوي، چې "کۀ دا جنګ زمونږ نۀ دے، نو بيا هغوي مونږ ولې وژني؟" او د پښتونخوا او ټولې نړۍ امن او سُوله باندې مئېن اولس لپاره به د شهيد دا خبره تل ډاډ وي، چې "د هغوي سره به مرړکي ختم شي، خو زمونږ سينې به ختمې نۀ شي". دا جنګ د اے اين پي جنګ دے، دا جنګ د پښتنو جنګ دے، دا جنګ د هر امن خوښي جنګ دے . د جنګ دويم فريق ښکاره نۀ دے، خو ورک هم نۀ دے . چرته ئې د روښانفکرۍ څادر په ځان خور کړے دے، چرته ئې د مذهب پټکے په سر کړے دے، چرته ئې د پوځ وردۍ کښې پناه اخستې ده، چرته ئې کريم پوډر نه او چرته ئې ړيرو نه تربوځکونه وهلي دي . زمونږ جنګ د دغه دوه رنګي سياست او تشدد سره دے . بايد امن راوستلو لپاره د دغه ترهګرو مخونه اولس ته څرګند کړے شي . د شهيد بشير احمد بلور او په زرګونه د امن شهيدانو وينې به يوه ورځ نړۍ لپاره د امن ناوې په سْره ډولۍ کښې سينګار شوے راولي او د تيارو او شر نه به انتقام اخلي .

## ترهګر مارګلې ته رسېدلي دي

يۀ وخت کښې مارګلې ته د ترهګرو د رسېدلو خبرې د پنډۍ او اسلام اباد مانۍ جړقولې وې . دغه خبره پسې ډېره ملنډې هم ترلې شوې وې او بيا د "هائي الرټ" سيمو دننه د زمکني، فضائي او بحري ځواکونو په تنصيباتو بْريدونو او دا اوس باچاخان نړيوال هوائي ډګر باندې بْريد دا څرګنده کړه، چې ترهګر د پاکستان دي او کۀ د پاکستان نه بهر ګروهې، خو دومره صلاحيت لري، چې مارګله خو د هغوي په منګې پْروت جيځ (جام) نه هم لرې نۀ ده او ولې به نۀ وي، دغه ترهګرو خو د حامد مير د وېنا مطابق په پارلېمان هاؤس کښې "تي پارټيز" کړي دي . يۀ وخت راغلے دے، چې د ترهګرۍ نوغي ويستلو لپاره عملي ګامونه پورته شي، ورومبے جرګه (کۀ د تربوځک د شا مخ چړې وي) او کۀ نۀ وي، نو د اولس ژوند خوندي کولو

لپاره یؤ مخیز اپرېشن ته لاره هواروڵ پکار دي ـ داسې حالاتو کښې د امن خوب لیدل د انتهائي مثبت فکر لرونکو کارنامه ده، چې پوځ هم پخپله دې کښې دوه زړۀ دے، چې امن پکار دے اؤ کۀ پکار نۀ دے ـــ ترهگر د "ښۀ" اؤ "بد" په نوموټو منونکي د امن دښمنان دي اؤ د قام وینه د هغوي په لاسونو ده۔

## څو لفظونه: سوالونه ځوابونه غواړي ----

ویاړ د "قام بیا وطن" غږ سره د امن لاروے دے ـ مونږ (پښتانۀ) د یؤ قام په حېث داسې سوچ سره مخ یو، چرته چې یوه ورځ حکیم الله محسود د روغې کؤلو لپاره مشروط وړاندیز کوي اؤ په بله ورځ د حسن خېلو نه د تښتولے شوؤ یویشت ژوندو مړي رالیږي اؤ پارلېمان اؤ سیاسي گوندونو سره په دې لړ کښې څۀ خبره کؤلو نه اگاهو د پنډۍ د مانۍ ویاند وائي، "مونږ د دغه مشروطو مذاکراتو حق کښې نۀ یو" اؤ د پوځ پلؤ نیولي سیاسي قوتونه خپل مېنډېټ پسې دې ملنډې ته تیټې سترگې ناست دي ـ د دغه وړاندیز په ځواب کښې د میا افتخار حسېن دا بیان منطق ته زیات نزدې دے، چې "طالبان" دې یؤ "با اختیاره مخ" سره وړاندې راشي، چې مذاکرات ورسره وُشي ـ د "سیوري" سره خو مذاکرات نۀ کیږي ـ د پنډۍ د ویاند خبرې زمونږ د قامي اؤ ملکي فکر د تقسیم یوه څرگنده نخښه ده ـ کۀ دې ته څوک "سېکېورټي ایشو" وائي، نو د څنگه سېکېورټي اؤ د څۀ سېکېورټي؟ یقیناً چې اوس د ترهگرو نه کرکه د اولس زړونو کښې زېږېدلې ده اؤ داسې وخت کښې د طالبانو لخوا داسې وړاندیز راتلل، کومې ته چې پوځي ویاند گوته نیولې ده، امکان لري ـــ بیا هم په دې لړ کښې سیاسي گوندونو سره خبرو کؤلو نه بغېر داسې ځواب ورکول ابهام پیدا کوي ـ دا قومي مسئله ده اؤ د نړۍ ټول جنگ د پښتنو کور ته راغلے دے، نو داسې لړ کښې چې څۀ پرېکړه هم کیږي اؤ څۀ گام هم اختسلے کیږي، نو هغه باید د پښتنو مشرانو اؤ خاص کر د پښتونخوا اسمبلي اعتماد کښې واخستلې شي ـ دې لړ کښې د پاکستان بربښنائي اؤ مطبوعاتي میډیا هم خپل کردار نۀ ادا کوي، بلکې د هغوي ټالک شوز اؤ راپورونه ځانونه د پرې نه د ویستلو ترحده وي ـ د الطاف حسېن لخوا د عدالت د سپکاوي بیان راتللو سره چې کراچۍ ته کوم تیلے وهلے شوے ؤ، په هغې سترگې پټې کړې شوې ـــ د مدرسه احسن العلوم د مهتمم مولانا محمد اسماعیل شهادت د یؤ خبر په څېر ځاے ؤموندلو ـــ څنگه چې فاټا کښې د پوځي اپرېشن لپاره خبره کیږي، دغسې خبره په کراچۍ کښې هم د امن راوستلو لپاره باید وُشي، خو زمونږ میډیا کښې دغه غوښتنه نۀ کیږي ـــ د پښتنو په خاؤره د روان جنگ تؤدۀ خبرونه، چؤدنې، ډزې، مرگونه اؤ ژوبلې ترسکون خوند سره وړاندې کیږي، خو د بدترین جنگ په دې حالاتو کښې هم چې صوبه کښې کوم د پرمختګ اؤ ښېگړې کارونه شوي دي، هغوي ته ځاے نۀ ورکؤلے کیږي ـــ د ځنې سیاسي اداکارانو اودس ماتے هم د "نوي پاکستان" د پاره د انقلاب علامت وي، خو د پښتنو شهیدانو وینې دغه میډیا کښې سرتورې اؤ بې څوکه ښکاري ـــ د سیاسي نېنځکو خله باندې پاکستان کښې د التحریر سکوائر ته د یوې میډیا سترگه هم رپ نۀ وهي، خو د پښتنو په خاؤره روانه کربلا یوه کربنه کښې راؤنغاړي ـــ د "دفاع پاکستان کونسل" لکۍ ته هرې کېمره لاس په نامه ولاړه ده، خو د پاکستان جنگ چې په کومه خاؤره کیږي، هلته کۀ د پرمختګ، امید اؤ هیلې څۀ گام هم پورته شوے دے، نو خاؤرې پرې اړولې شوې دي ـــ د امن غږ کؤنکې خلې د امن وینې څښکې، بیا هم امن؟




**شېر محمد زرمل**

د دولت د بهرنیو چارو د وزارت ویاند جانان موسۍ زي د کابل څخه خبریالانو ته وتیلي دي، چې دولت په افغانستان دننه د سولې لپاره هر ضمانت ورکؤلو ته چمتو دے اؤ دې لړ کښې کۀ بهر د شوۀ غونډو اؤ دستورو هرڅو هرکلے کوي، خو دا دریغ لري، چې د افغانستان دننه د داسې جرگو، مرکو، غونډو اؤ دستورو سره به اولس په دې مرام کښې په فکري توگه ملگري شي. د طالبانو سره سوُله له یوې خوا چې څومره مهمه ده اؤ د پارېس غونډې د دولت اؤ طالبانو تر منځه د واټن راکمؤلو لپاره مثبت کردار لوبولے دے، خو له بلې خوا دې لړ کښې د پاکستان سره ډېر خبرې سپینې کؤلو ته پاتې دي. کۀ داسې وُ نۀ شي، نو دا هلې ځلې به خداے مۀ کړه، شنډې وي. افغانستان کښې د سولې لپاره د طالبانو لخوا وړاندیز کښې د طالبانو د نهه سوه مشرانو اؤ دوه نیم زره پورې ملگرو غوښتنه یؤ لوي تپوس دے. دا خبره خو له نمره زیاته ځلانده ده، چې د پاکستان اؤ افغانستان حالات د یؤ بل پلؤ نیولے وي اؤ د دې دواړو هېوادونو اغیزې په ټوله سیمه پرېوځي. د افغانستان اؤ پاکستان دولتونه باید دا ژمنه وُکړي، چې د سوُلې لپاره یؤ وړاندیز اؤ یؤ زیار هم شنډ نۀ شي. د ټوپک په شپېلۍ اؤ مړدکو خپل مرام رسېدونکي کۀ جرگې ته کښیني، نو په جرگو د هرې شخړې لاره ویستونکو ته لاره کښې څۀ خنډ دے؟

دې لړ کښې اسلام اباد کښې د ځلمي رسول د پاکستان د بهرنیو چارو د واکمنو سره ناسته اؤ هغه پخواني طالبان مشران خوشي کؤلو لپاره غونډه کوم چې د پاکستان جېلونو کښې دي اؤ بل اړخ ته د تحریکِ طالبان پاکستان د "مشر" حکیم الله محسود لخوا د مذاکراتو لپاره مشروط وړاندیز باندې د پاکستان د پوځ د ویاند تبصره د ترهگرۍ په ضد د پاکستان د دوه مخې پالېسۍ غمازي کوي. داسې ښکاري، لکه چې فېصلې شوې دي اؤ اوس "لاگو" کیږي. د ډیورنډ د کرښې دواړو اړخونو ته مېشته پښتانۀ، هغه کۀ د صوبه پښتونخوا په انتظامي دائره کښې دي اؤ کۀ د اسلام اباد ـــ دې جنگ کښې ټولو نه زیات نقصان اؤ زیان سره مخ دي. په دې لړ کښې د شهادتونو اؤ قربانیو یؤ اوږد لړلیک دے، کوم



کښې چې د پښتونخوا په خاوره د واکمن سیاسي گوند اووۀ نیم سوه غړي نومونه لري اؤ تر ټولو اوسنے لوي نوم پکښې د شهید بشیر احمد بلور دے. له بلې خوا د افغانستان د نېشنل ډائرېکټورېټ آف سېکېورټي په مشر اسد الله خالد شوي بُرید کښې پاکستان باندې د تور پورې کؤلو سره داسې بُرېښي، لکه چې دواړه هېوادونه لا د یؤ بل نه ډېر لرې دي اؤ داسې ناستې اؤ غونډې د "فارمېلیټیز" یوه "مرتده ریا"

ده . کۀ پاکستان او افغانستان دواړه په دې خبره يؤ غږ وي، چې د طالبانو په نوم دغه د تشدد لاره خپلؤنکو سره دې مذاکرات وشي، نو بيا دا پام کښې ساتل پکار دي، چې د کرښې دواړه اړخونو کښې چې يؤ اړخ ته کوم حالات وي، د هغې نېغ په نېغه اغېزه د بل اړخ په اولس هم وي . د ډيورنډ کرښه يوازې د پاکستان او افغانستان تر منځه کرښه نۀ ده، بلکې دا د جنوبي او منځنۍ اسيا تر منځه کرښه ده او دې کرښې نه پاڅېدلې څپه ټوله نړۍ خپله ولقه کښې اخلي . يقيناً چې دواړه هېوادونه به څۀ تګلاره لري او د يؤ ټاکلي مرام په لور تګ ته به ساهو شوي وي، خو دا وخت د جامع او کاملې تګلارې خپلؤلو دے . کۀ افغانستان ويني، چې پاکستان په دې لړ کښې دواړه غاړې وهي او کۀ پاکستان ويني، چې افغانستان دواړه اړخونه وهي، نو بايد درېمګړې منځ ته راولي او دغه درېمګړے دې چرته هغه قوتونو څخه نۀ وي، چې د پښتنو کور ته د جنګ راؤلو کردار لري .



انقره (ترکيا) کښې دڕې غړيزه غونډه د ښېلګې په توګه وړاندې کؤلې شو . انقره کښې د افغانستان اولسمشر حامد کرزئ او د پاکستان اولسمشر اصف علي زرداري د خپلو کوربنو د ترکيا د اولسمشر عبدالله ګل او وزير اعظم رجب طيب اردوان په شتون کښې د پاکستان او افغانستان په خاؤره د دواړو اړخونو خبرې مخ وړاندې بوتلې . داسې غونډې او ناستې به خپلو کښې منځ ته راغلې غلط فهمي لرې کؤلو او نوې لارو څېړلو کښې مرستيالې شي . د پاکستان لخوا د فېصلې



کؤلو مهم قوت پوځ دے او د افغانستان قسمت د نړيوالو قوتونو د فېصلې سره تړلے شوے دے . دې لړ کښې پاکستان هم دومره خپلواکه دے، څومره چې افغانستان دے . څرګندېږي داسې، چې د افغانستان او پاکستان اولس يؤ داسې اړخ ته روان کړے شوے دے، چرته چې ورور هم په ورور بدګمانه او بې زړۀ دے او خدائے مۀ کړه، هغه وخت را نۀ شي، چې اولس يؤ انتهائي ګام پورته کؤلو ته وګواښېږي .هم دا هغه وخت دے، کوم ته چې د دې سيمې او پښتون قام دښمنان سؤ کښې ناست دے او نوکونه ټرنګوي .

پلازمېنه کابل کښې د يؤ راپور تر مخه د يؤلسو نومؤړو لخوا دولسوه جيريبه زمکه غصب شوې ده .دا خبره د اولس لپاره د تشويش او انديښمنې ده او دولت ته ګوته نيسي . دا څرګندوي، چې د هېواد پرمختګ ته په لاره کښې اوس هم ،چې هېواد د ترهګرۍ او جنګ جاکړ کښې کنډر کنډر دے، هغه خپل مفاد لټؤنکي خنډ دي، کوم چې د خپلو انغرو تؤدو ساتلو لپاره دولت تالا کوي او د خپلو مانيو ودانؤلو لپاره هېواد ړنګوي . دا د فکر وړ خبره ده او بايد د دولت دننه د احتساب يؤ کوټلے او روڼ نظام ترويج کړے شي . دا وخت

دولت د بشپړې خپلواکۍ او خود انحصارۍ په لور روان دے . نړیوال مرسته کوونکي قوتونه د افغانستان څخه د وتلو تابیا کوي او دا کور خپل اولس ته پاتې کیږي . داسې حالتو کښې د داسې غاصبو او ځان لپاره کار کوونکو له مخې نیولو لپاره باید یوه خپلواکه لاره او د احتساب نظام وړاندې کړے شي، تر څو د دولت د تالا کوونکو زړۀ هم څوک ؤ نۀ کړے شي .

یؤ خوا کښې د افغانستان امنیت ساتونکې ادارې 2012ء کښې ډېر پرمخ لاړلې او دومره توان ئې د وخت تېرېدلو سره ترلاسه کړو، چې نۀ یوازې به د دولت د خاورې او جغرافیه ساتندوئي ؤکړې شي، بلکې دې سره سره به دولت ته په بهرنو سترګو کتونکو قوتونو ته هم ځواب ورکړے شي، نو بلخوا د هېواد دننه په تورسرو د تېري کوونکو او اعتصاب پېښو شمېر هم جیګ شوے دے .



2012ء کښې د ناموس او غیرت په نوم یویشت مرې شوي دي . تېره میاشت کښې په کوچنیو جینکو د اعتصاب کوونکو پېښې ټولې نړۍ ته د افغانانو یؤ وحشي مخ ښودلے دے او دغسې په بېلابېلو سیمو کښې د مخې ته راغلو پېښو سره څرګندیږي، چې یوازې د ځواکونو روزنه نۀ ده، بلکې دا ځواکونه چې کوم مرام لپاره روزلي کیږي، د هغه مرام ټاکنه هم باید ؤشي . د پښتنو د ژوند لاره پښتو ده او په پښتو کښې د داسې پېښو او رزائلو ګنجائش او امکان نشته . داسې حالاتو کښې چې دولت امنیت او سُولې لپاره لاره خپله کړې ده، د اولس د حرمت ساتلو او د غصب مخنیوي لپاره باید کوټلي ګامونه پورته شي .



د پاکستان لخوا اتۀ دېرش ګېنټې د تورخم ور پورې کوّلو د هغه افغانو کډوالو ستونزو کښې نوره هم اضافه کړې ده، چې د بې وزلۍ او بې وسۍ ژوند تېروي . دا وخت، چې کۀ افغانستان کښې هر څو د پاکستان په نسبت حالات ښۀ دي، خو بیا هم د ژمي په دې وژونکې یخنۍ کښې هغه بې وسه افغانانو ته کډې په سر کول د جینېوا د معاهدې، د انسانیت او ګاونډګیرۍ خلاف ورزي ده، کوم افغانان چې د خپلې کډې رسوّلو او ځان لپاره افغانستان کښې د سر سیوري لټوّلو تابیا کوّلې نۀ شي . د ویاړ په پاڼو کښې مونږ دې نه اګاهو هم د پاکستان او افغانستان د واکمنیو څخه غوښتنه کړې وه، چې د ژمي یخنیو کښې دې افغانان ته دې ستونزو نه ډک ژوند کښې نورو ازمېښتونو ته نۀ مخ کوي . دغه هېوادونو څخه چې د افغانانو خپل هېواد په لوري تګ لپاره کوم وخت ورکړے شوے ؤ، باید د انسانیت احترام کښې دې هغه وخت لږ نور پراخه کړے شي .

ISSN201301

# شهید بشیر احمد بلور
# د امن بل اذان قتل شو...

حبیب یونس سالارزی

د پښتونخوا د هرې برخې خاوره پېښور ته راغله اؤ د پېښور د ځوي لاس نیوې ته کېښناستله اؤ پېښور سره ئې درې ورځې د ماتم تور رنګ واغوستلو . د پېښور دغه مېړنے شهید ځوے بشیر احمد بلور دے .

د هغهٔ نیکونه د باجوړ ماموند سیمې د کټکوټ نه پېښور ته راغلي وو اؤ د هغهٔ پلار بلور دین د پېښور نوموړو تاجرانو کښې شمېرلے کېدلو. بلور دین د خدائي خدمتګار جوړښت سره اړیکې لرلې خو ځامن ئې په عملي توګه سیاست ته راغلي نهٔ وو . د اګست په ورومبۍ نېټه 1943ء کښې زېږېدلے بشیر احمد بلور تر هغې د پلار تجارت کښې د یؤ پوهه، ځیرک، ایماندار اؤ یؤ مخیز تاجر پېژندګلو لرله . 1969ء کښې ئې وادهٔ وکړو اؤ په 1970ء کښې ټوله کورمه په نېشنل عوامي پارټۍ کښې په باقاعده توګه شریکه شوه ـــ دا هغه وخت ؤ، چې د نېپ سره تلونکي هم ستانهٔ شوي وو، ځکه چې د حکومت لخوا پرې هر ډول ازمېښتونه راتلل . 1975ء کښې هغه سره د نورو ورونو سرکار جېل ته ولېږلو، کور ئې ایف سي قبضه کړو اؤ د هغوي ګودام ئې تالا کړو . 1976ء کښې په ورومبي ځل د ګوند مرستیال صوبائي صدر، 1977ء کښې صوبائي سترسېکتر اؤ 1979 کښې صوبائي سرمشر (صدر) وټاکلے شو . 1988ء کښې په ورومبي ځل هغهٔ ټولټاکنو کښې برخه واخستله، خو خپله ځوکۍ ګټلو کښې بریالے نهٔ شو. دې نه وروستو په هره راتلونکې ټولټاکنه کښې ځوک د هغهٔ مخې ته ټینګ نهٔ شول، تر دې چې د متحده مجلس عمل سېلاب کښې ورته اووهٔ ګوندونه یؤ شول، خو بیا ئې هم په هغهٔ برے ؤ نهٔ موندلو. د 2008ء ټولټاکنو کښې هغه د عوامي نېشنل پارټۍ له اړخه یؤ ځل بیا وټاکلے شو اؤ د سینئیر صوبائي وزیر ځوکۍ سپارلو سره ورته لوئې ذمه وارۍ ورکړې شوې . ګڼې خلې ګویا وې، چې د پښتونخوا د وزارت اعلیٰ د پاره هر چا نه زیات حق د بشیر بلور ؤ، خو د ګوند پرېکړه باندې د هغهٔ په تندي چا یوه کرښه هم ؤ نهٔ لیدله اؤ دا د ګوند اؤ نظریې سره د هغهٔ د مینې یوه نیازبینه اؤ سپېڅلې حواله وګرځېدله .



د پاکستان په خاوره عمومي اؤ د پښتونخوا په خاوره خصوصي اغېزې د دوي د واکمنۍ نه د اګاهو تېر شوي حکومت پرتې وې . دغه حکومت کښې په سوېلي سیمو کښې د ترهګرو کلکې شوي جرړې اؤ په لوېدیزو قبائیلي سیمو کښې د ډرون برېدونه په ټوله پښتونخوا کښې د ترهګرۍ د پاره د یؤ جواز په توګه وړاندې کړې شوې وې . د اے اېن پي حکومت سره دغه ترهګرو خپلې شومې هیلې سر ته رسولو د پاره په صوبائي حکومت دباؤ وغورځولو، خو هغوي نه هېر وو، چې دا ځل هغوي د دې خاوړې وارثانو سره مخ دي، څوک چې خپل سرونه پخپله خاوره ورکړي، خو دا خاوره به د تیارو اؤ ترهګرۍ کومې ته ؤ نهٔ سپاري . د بشیر احمد بلور د ګوند سره ترون لرونکي دوه غړي شمشېر علي خان، عالم زېب خان اؤ د بشیر احمد بلور غونډې هسکه حوصله

لرونکي د میا افتخار د ناویاته ځوي سره سره دغه ترهګرو څلورنیم سوه نه زیات قام پرست شهیدان کړل، خو بشیر احمد بلور او د هغۀ ګوند حوصله ئې ماته نۀ کړې شوه.



د سوات امن لاسلیک ماتېدلو نه وروستو صوبه کښې واکمن ګوند د ترهګرۍ په ضد ؤدرېدلو او اولس باندې ئې څرګنده کړله، چې د پاکستان د ډېرو سیاسي ګوندونو د مخالفت پرته هم هغوي پخپله خاوره د امن راوستلو او د خپل اولس ژوند خوندي کولو د پاره د خبرو او جرګې لاره هم خپله کړه، خو رېښتیا هم دادي، چې د اسلام په نوم ټوپک لاس کښې اخستونکي نۀ د پښتنو د جرګې د پاره زړۀ کښې ځاے لري او نۀ د اسلام په رڼا کښې د میثاقِ عهد معنا پېژني. دا ورومبے ځل ؤ، چې پښتنو ترهګر د یؤ غېر ریاستي وران کاري ټولګي په توګه ؤپېژندل او دغسې د رېښتیا او دروغ تر منځه یوه کرښه راکښلې شوه.

د بشیر احمد بلور غړ په دغه لړ کښې ډېر اوچت، زړۀ ور او زورَور ؤ. هم له دغه امله، د هغۀ ژوند دړکې سره مخ ؤ، خو بیا هم چې کله هغۀ سره خبره شوې ده، نو هغۀ هم دا ځواب ورکړے دے، چې "مونږ په پښتو کښې وایو، چې د کور شپه په ګور او د ګور شپه په کور وي. په پالنګ کښې د مرګ نه مې دا زیاته خوښه ده، چې مېدان کښې شهید شم". دې سره سره په رسنیو کښې خپلو وېناو کښې هغۀ په جار وئېل، "مونږ اوس هم ویشلي شوي یو. څۀ سیاسي ګوندونه اوس هم وائي، چې دا زمونږ جنګ نۀ دے. زۀ دوي نه تپوس کوم، چې کۀ دا جنګ زمونږ نۀ دے، نو بیا هغوي مونږ ولې وژني؟ زمونږ بچي ولې وژني؟ زمونږ کورونه، جوماتونه، حجرې، ښوونځي او بازارونه ولې ورانوي؟ دا زمونږ جنګ دے او مونږ به ئې ګټو".

د بشیر احمد بلور هم دغه خبرې چې کومو غوږو ته هم رسېدلي دي، هلته ئې ځان له ځاے موندلے دے او دا یؤ لوي بریالیتوب دے.

پېښور کښې چې چرته هم د ترهګرۍ پېښې شوې دي او د پښتونخوا په نورو سیمو کښې هم چرته چې لوي زیان شوے دے، بشیر احمد بلور هغه ځاے ته ځان رسولے دے او د اولس او امنیتي ادارو ډاډګیرنه ئې کړې ده. د هغۀ د موجودګۍ له امله به زیاتره د رسنیو ملګري او د امنیتي ادارو کارکوونکي هم دې وېره کښې پړاتۀ وو، چې چرته په هغۀ برید ؤ نۀ شي. چرته چې هم داسې پېښې شوې دي، د پېښې نه وروستو هغه هاغه ځاے ته رسېدلے دے، خو د دوېشتم دسمبر په ورځ هغه د پېښې نه اګاهو رسېدلے ؤ. ځانمرګي د هغۀ لاره څارله او د هغۀ په لیدلو ئې ځان والوځولو. د هغۀ سره نهه نور شهیدان شول، چې د هغۀ سپکتر حاجي نور محمد او ایس ایچ او ستار ختک هم پکښې وو. د هغۀ په مېړانه او ننګ هغۀ ته د پاکستان حکومت لخوا د مېړانې سپوږمۍ "هلالِ جرأت" هم ورکړے شوے ؤ.



د شهید بشیر بلور پېژندګلو به د یؤ قامي مبارز
اؤ د امن خوښي سیاستمدار په توګه تاریخ کښې
تل ژوندۍ وي. د هغهٔ په شهادت د هغهٔ د ګوند
مشر اسفندیار ولي خان رسنیو ته وؤیل،
"ترهګر یؤ موټے دي، خو د امن چغې وهونکي
اوس هم برخو کښې ویشلي شوي دي. ځنې خو د
ترهګرۍ د څهٔ پېښې غندنې نه هم څنډه کوي. کهٔ
هم دا سوچ دغسې وي، نو نن بشیر بلور لاړو،
سبا به هم دغه سیاستمداران ځي، ځکه چې یؤ
زمونږ ګوند هغوي ته په نخښه نهٔ دے. هغوي د
جمهوري نظام په ضد ولاړ دي اؤ باید اوس د
جمهوریت بېرغ لاس کښې نیولي یؤ غږ شي اؤ د
دې جاکړ مخه ؤنیسي".

دا یؤ څرګند رېښتیا دي، چې دا وخت د ترهګرۍ
په ضد یوازې د اے این پي مؤقف واضح اؤ رون
دے. د دې نه څوک هم مخ کرځولے نهٔ شي، چې د
ترهګرۍ په ضد نړیوال جنګ کښې د ټولو نه
زیات زور هم د پښتنو صوبې اؤ دې سره د تړلو
قبائیلي سیمو اولس ته رسېدلے دے. د سیاست د
پلؤ شا ته د دغه ترهګرو مٰلاتړ کؤنکي سیاسي
ګوندونه د قبائیلي سیمې د اولس خپل دي اؤ نهٔ د
پښتونخوا د اولس. کهٔ داسې وه، نو باید چې تر
اوسه ئې یؤ ښکاره اؤ څرګند مؤقف خپل کړے ؤ.
د پښتونخوا دننه چې څومره هم د ترهګرۍ پېښې
کېږي، د هغوي اړیکې په قبائیلي سیمه کښې
موندلې کېږي. د قبائیلي سیمو اولس هم په خپله
خاؤره اؤ خپل کور کښې یرغمال کړے شوي دي.
دغه اولس هم غواړي، چې د ترهګرو پټغالي دې
رنګ کړے شي اؤ د هغوي د ژوند رنګونه اؤ
خوندونه دې بیا راوستلي شي، خو له بدمرغۍ
چې کله په دغه سیمو کښې د پوځي عملیاتو غږ
ؤشي، نو کله په کراچۍ، لاهور اؤ اسلام اباد
کښې ناست د ترهګرو مٰلاتړ کؤنکي لاسونه ورته
لاره کښې خنډ شي، چې مُرسته ورسره د قلم
قبیلې هغه دیاړیمار کوي اؤ کله د پوځ واکمن د
خپلو ګټو خوندي ساتلو د پاره دغه سیمو کښې د
عملیاتو کولو نه څنډه کوي. دې دوه مخیزې
تګلارې د سیمې اولس یؤ عذاب ته ځپلمه کړے
دے اؤ هغوي ته خپله خاؤره دوزخ کړې شوې ده.



قامي جنګ هاغه وخت ګټلے کېږي، کله چې قام
یؤ موټے شي اؤ اوس نور سیاسي ګوندونه هم په
دې خبره رسېدلي دي، چې د ترهګرو په سرونو یؤ
د اے این پي سودا پُرته نهٔ ده، بلکې هغوي د
اولسواکۍ (جمهوریت) نوغے ؤباسي. دې وخت
کښې باید اے این پي امن لپاره یؤ نکاتي دریز
خپل کړي اؤ د پاکستان دننه هر سیاسي قوت ځان
سره ملګرے کړي. دې لړ کښې یؤ بشپړ اؤ پراخه
اولسي تحریک هم منځ ته راؤړل غواړي، تر څو
کوم سیاسي ګوندونه طې ظې کوي، چې مخونه
ئې اولس ته ښکاره شي.

اے این پي کهٔ د پښتنو سیاست کوي اؤ خپل
دُریز کښې رېښتوني دي، نو باید د قبائیلي
سیمې د اولس ښېګړې اؤ د پښتونخوا دننه امن
راوستلو د پاره کلک مؤقف خپل کړي اؤ په دغه
سیمو کښې د ترهګرو د پټغالو اؤ اډو په ضد د
عملیاتو لړ کښې په اسلام اباد اؤ راولپنډۍ د هر
اړخ نه فشار راولي. اولس به دې لړ کښې هغوي
سره اوږه په اوږه ولاړ وي.

# باچاخان نړیوال هوائي ډګر کۀ په فضائیه برید؟

## د شیطان دغه بندیان له کومې راغلل؟

**ویاړ راپور**

پرهرونه هسې هم یادونو کښې ساتل هم په ځان تشدد وي ـــ خو په زړۀ راکښلي شوي نوکونه د پښې تکېدل نۀ دي، چې وخت به ئې درمل ؤکړي. پېښور کښې د عدم تشدد د نوم اؤ پېژندګلو لرونکي باچاخان په نوم باچاخان نړیوال هوائي ډګر باندې د نور کله ګنه ګونه وه. په زړونو کښې کۀ هر څومره څړیکې وې، خو په مخونو د مودو نه د ورک ورور اؤ جانان لاره څارونکو نیازبینه موسکا ځاے کړې وه اؤ یا د وطن پرېښودونکو لپاره د امیدونو اؤ هیلو نه د موسکا رنګونه جوړ شوي وو. په دې کښې ناڅاپه پنځۀ ترهګر خداے زده چرته نه راغلل اؤ دغه نیازبینو رنګونو کښې ئې څړیکې ؤپوکلې. غرمه د شوي وړومبي ډز سره د بارودو لوګي اؤ د ډزو غږونو پنځلس ګېنټې پېښور ساه اخستلو ته پرېښې نۀ ؤ. درې ترهګر ؤویشتلي شول اؤ دوۀ مخامخ زنځیرونه لیدلو سره ځانونه ؤوژل. یؤ پولس هم شهید شو. دغه اشر رانغښتلو نه وروستو امنیتي ادارو د پېښور شاؤخوا سیمو کښې پلټنې ؤکړې اؤ نور پنځۀ ترهګر چې د نوؤ بریدونو لپاره پټ ناست وو، هم ؤویشتلي شول. په هوائي ډګر د وژلو شوؤ پېژندګلو د ازبکو په حېث شوې ده اؤ بله ورځ ویشتلي شوي "نامعلومه" ګرځولي شوي دي. د نامعلومه دغه غړ ته مونړ د "بین الاقوامي امن معاهدې" برخه ؤوایو کۀ "سټرېټېجک پالیسي"؟ خداے دې نۀ کړي، چې پېښور بیا داسې واقعه ؤویني، ځکه چې اوس خو ژوبل پرهر ته دلاسه ورکؤنکے هم شهید کړے شوے دے. د پېښور سر نه د بشیر بلور پښتون اؤ پتمن لاس پورته شوے.

دې برید سره د ترهګرۍ په اړه دا خبره کؤنکي هم دروغژن شول، چې د ترهګرو ملا ماته شوې ده اؤ دا برید هغو لپاره هم پېغور دے، څوک چې اوس هم دې جنګ ته پردے وائي. یقیناً چې دا جنګ زمونږ نۀ ؤ، خو اوس دا جنګ زمونږ شوے دے. دا جنګ چې د چا دے، د هغوي خاؤره د دې جنګ نه محفوظه اؤ خوندي ده، خو زمونږ خاؤره سوزي، زمونږ اولس وژلے کیږي، زمونږ جوماتونه اؤ ښؤنځي رنګیږي اؤ زمونږ ژوند د مرګ انځور کیږي. نن هاغه مذهبي اؤ سیاسي ګوندونه ځان له اؤ خپلې وېرې اؤ ګمان له پرتوګ ګنډي، خو د پېښور پرهرونه خلۀ کښې څپق ورکوي. زمونږ جنګ پېریانو سره دے ـــ پېریان ځکه، چې په شړو کښې اوسیږي، پټ مخونه راځي اؤ بیا ورک شي. د هغه قاتلانو اؤ وحشیانو یؤ فکر اؤ یؤ هدف دے، خو په چا چې بریدونه کیږي اؤ څوک چې وژلي کیږي اؤ بې کوره کیږي، د هغوي ذهنونه ویشلي شوي دي.



دې برید نه شل پنځویشت ورځې اګاهو پېښور نه یؤ دیارلس کلن ځانمرګے د بلال په نوم نیولے شوے ؤ، چې امنیتي ادارو ته د تپوسونو ځواب کښې ئې څرګنده کړې وه، چې هغه په هوائي ډګر

بْرید لپاره استولے شوے دے. د خیبر ایجنسۍ نه راتلونکي بلال پنځهٔ نور وګړي هم په ګوته کړي وو، چې امنیتي ادارو نیولي دي.



تپوس دا سر ؤچتوي، چې قبائیلي سیمې پېښور اؤ ټوله پښتونخوا کښې د ترهګرۍ بْریدونو لپاره یؤ "لانچېنګ پېډ" ګرځولے شوے دے اؤ پوځ هم په دغه سیمو کښې ناست دے. ایا د پوځ یوازینۍ ذمه واري د هغې لارې ساتل دي، کومه لاره باندې چې ناټو ځواکونو ته ډکې ډکې لارۍ ځي اؤ کهٔ په سیمه کښې امن راوستلو لپاره د ترهګرو ښکار هم دے؟ کهٔ د قبائیلي اولس خبره کیږي، نو مونږ دا په جار وایو، چې پخپله خاوره، مذهب اؤ امن مئین اولس به چرې هم د ترهګرۍ برخه نهٔ شي اؤ کهٔ داسې څهٔ پېښېږي کښې هغوي ته ګوته نیولې کیږي، نو دا به ځکه زیاتے وي، چې یؤ ځوا تا هغوي د ترهګرو سرپیخورو دارو ته لکه د قربانۍ د څاروي پْرېښي دي اؤ له بلې ځوا ورته ګوته هم نیسې؟

په هوائي ډګر بْرید پسې په بله ورځ د ترهګرو سره بیا د امنیتي ادارو نخښته اؤ پنځهٔ نور ترهګر وژل دا ریښتیا په ډاګه کوي، چې هغوي ښهٔ ډول سُرنا سره راغلي وو اؤ هغوي پېښور خوب ته نهٔ پْرېښودلو. د اولس لخوا د امنیتي ادارو سره مْرسته یؤ مثبت بدلون دے. داسې حالاتو کښې چې قام د جنګ سره مخ دے، قام ته دا پوهه اؤ احساس ورکول به د ترهګرۍ په ضد جنګ کښې لوي بریالیتوب وي. کوم سیاسي ګوندونه، هغوي رېږې اوړدوي، بونډۍ کوي اؤ کهٔ خږوي، باید د هغوي مخونه اولس ته څرګند شي، چې هم دغو د قام ذهنونه ویشلي دے.

د پېښور مضافات کښې د ویشتلو شوؤ ترهګرو په مْلاګانو شېطاني انځورونه، د هغوي رنګونه، سْرهٔ وېښتهٔ اؤ سفاک زړونه ښائي، چې دغه نهٔ پښتانهٔ دي اؤ نهٔ مسلمانان. هغوي رېږې اوږدې کړې وې، خو دغه رېږې د کلیمه ویونکو نهٔ وې. د دغه بې کلیمې رېږو په شا داسې د کلیمه ویونکو رېږې مْرستې، ډاډ اؤ مْلاتړ لپاره وینو، چې وطن ئې را ته ژوبل ژوبل کړے دے اؤ دلته ئې د ژوند د یوې نخښې نهٔ پْرېښودلو اؤ د امن هر مؤذن وژلو سوګند کړے دے.





د شېطان انځورونه په مْلا د لرونکو ترهګرو غږ راتللو سره د هغوي مْلاتړ کوُنکو ته د پْروپېګنډه کولو له نوي مواد اؤ "دلیلونه" هم په لاس ورغلل. اوس خو هغوي په ټولنیزو رسنیو (سوشل میډیا) اؤ نورو رسنیو خپلو تْرخونو کښې لاسونه اېښې دي اؤ دا چغې ئې نورې زیاتې کړې، چې ګورئ! مونږ نهٔ وایو، چې دا ترهګر بهرني دي اؤ زمونږ په سیمو کښې عملیات کوي، خو دا تْرې هېر دي، چې دغه بهرني ترهګر هم دې سیمې ته د سْپوږمۍ اؤ وریځو نه نهٔ راکوزیږي. کوم ځاے کښې چې ستاسو پېدا کړي شوي ترهګر پټ دي، هماغه قبائیلي سیمې دوي هم خپل پټغالي ګرځولي دي اؤ هم دغه څوندي لارې خپلو عملیاتو لپاره پکاروي. کله چې په قبائیلي سیمو

ISSN201301

کښې د امنیتي ادارو لخوا د اپرېشن غږ کیږي، نو دوي خپل غږونه نور هم غښتګ کړي اؤ دا چرې هم د قام اؤ وطن لپاره نهٔ، بلکې د دغه ترهګرو د خوندي ساتلو لپاره وي.



د ترهګرۍ په اړه کهٔ د چا مؤقف واضح اؤ یؤ مخیز دے، نو هغه د عوامي نېشنل پارټۍ دے اؤ تر دې ټولو نه زیات د هم دې ګوند غړي شهیدان کړي شوي دي. ټولو نه وروستے شهادت د شهید بشیر احمد بلور ؤ. د هغهٔ دا تپوس د دې جنګ د تعین لپاره ټولو نه څرګند ریښتیا دي، چې "کهٔ دا جنګ زمونږ نهٔ دے، نو بیا هغوي مونږ ولې وژني؟" یقیناً چې د شهید په دې څواب دې جنګ نه د تېښتې بانې لټؤنکې خُلې چاړۍ شي (خو کهٔ هغوي د عقل اؤ دلیل منونکي وي). له بده مرغه په دې جنګ کښې چې کوم فکري تصادم سره مونږ مخ یو، د هغې له رویه په دې جنګ کښې بالواسطه د ترهګرو مرسته کؤنکي د عقل اؤ دلیل منونکي نهٔ دي. د هغوي په خبرو کښې هم د هغوي د نظریو تشدد اؤ ترهه څرګند وي. هغوي دومره سفاک وي، چې ستا د شهید به هم ستا اؤ ستا د شهید سپکاوے کوي.

قبائیلي اولس کهٔ نن یؤ خوا د ترهګرو په رحم و کرم پرېښودلي شوي دي، نو بلخوا د یؤ نریوال ترون لاسلیک کؤلو سره پرې د اسمان نه ډرون هم توغندي وروي. پښتون لپاره د زمکې مخلوق اؤ د اسمان تخلیق دواړه یوه پېرزو لري ـــــ مرګ!

اوس اوس د ترهګرو لخوا د طالبانو په نوم د یؤ مشروط مذاکراتو وړاندیز شوے دے، خو دغه نوم سره یؤ مخ هم څېلمه راغلے نهٔ دے. کله چې دغه وړاندیز مخې ته راتلو، هم دغه ورځو کښې د ایف سي د دیریشت تښتولے شوؤ اهلکارانو د شهادت خبرونه هم راغلل. هر څو کهٔ د دغه دیریشت جنازو خبرې دومره ځاے زمونږ خپلواکه اؤ غیر جانبداره میډیا کښې ؤ نهٔ موندلو، څومره چې د پاکستان اؤ هند تر منځه د وړومبۍ ورځنۍ لوبې په برخه ؤ، بیا هم د دیریشت ځوانانو جنازې ځان سره ګڼ شمېر تپوسونه منځ ته راوړي. دا خو یؤ حقیقت دے، چې ترهګر هم په بېلو بېلو ډلو کښې ویشلي شوي دي، خو اګرچې هدف ئې یؤ دے، نو له دې امله کهٔ هغوي یؤ موټے وي اؤ کهٔ ویشلي شوي وي، د نقصان په شرح اثر نهٔ پرېوځي. لکه څنګه چې سوات کښې اے اېن پي امن معاهده باندې د تش په نوم روښان فکرو اؤ امریکا په غوښتنو پښې ایښې وې، باید دغسې یوې امن معاهدې لپاره دې د دې ترهګرو سره هم لاره هواره کړې شي اؤ کهٔ مثبت اثرات ؤ نهٔ لري، نو د ترهګرۍ مونږ ویستلو لپاره دې دغه سیمو کښې هم اپرېشن ؤشي. تر څو چې د اولس خبره ده، اولس د اپرېشن حق کښې دے، خو مسئله د هغه سیاسي دیاړیمارو ده، کوم چې د تشدد په لاره په دې خاؤره واک تر لاسه کول غواړي. فاټا د پښتونخوا صوبې انتظامي برخه نهٔ ده، خو د فاټا هر اثر په پښتونخوا اؤ د پښتونخوا اؤ فاټا په اولس دي. جرګه دې ؤشي، خو د مکمل ډز بندۍ سره اؤ ترهګر فکر دې ختم کړے شي ـــ دغه ترهګر کهٔ کلیمه ویونکي دي اؤ کهٔ د شېطان بندیان. اسلام امن دے اؤ پښتون مسلمان.

ISSN201301



# د هند پېغله يوازې نۀ ده

# Lest we forget

# امانت

سیال سباؤن

د "اقليما" او "لوزا" حرمت لا خوندي نۀ دے ـــ
د قابيل هوس اوس هم غرغنډې کوي ـــ

د اترپردېش د باليه سيمې دې ديريشت کلنې پېغلې په ډيلي کښې د ميډيکل زدکړې تر سره کؤلې . د هغې پلار کلي کښې د هغې د زدکړې د لګښت لپاره ډېره پلرنۍ زمکه خرڅه کړې ده . د فروري روانه مياشت کښې د هغې د وادۀ تابيا کېدله . د دسمبر د شپاړسمې په ماښام هغه خپل چنغل سره په ډيلي کښې يوې سورلۍ (بس) ته وختله . سورلۍ کښې دوي نه پرته شپږ سړي وو . څو شېبو کښې هغوي هغه ونيوله . د هغې چنغل ئې هم ژوبل کړلو او بيا په هغوي سترګې پټې وې .مور ، خور ، لور او ښځه ـــ دا هغوي نۀ پېژندل . روند هوس د هغې په غاړه نۀ ايښودلو هغه دومره وزورله او وزبېخله، چې يوازې د هغې څرمن نۀ، د هغې د ځاندرې دننه برخې هم څيرې شوې . د خپلو تؤدو ټېرونو يخؤلو نه وروستو هغوي دغه ديريشت کلنه پېغله په لويه لار کښې مرګ ته لوڅه لغړه ژوبل ژوبل وغورځؤله . د ښار رناګانې بقې سترګې او تياري ګاګيرې پاتې شوې .پېليزې روغتيا لپاره هغه د ډيلي صفدر جهنګ روغتون ته يؤړلې شوه . پرهرونه دومره ژور او د وينې بهاند دومره توند ؤ، چې ساګانو ئې د ژوند پلؤ ته ګوتې ورلې نۀ شوې .دوه ورځې د مرګ او ژوند په پوله ولاړه پېغله بيا سينګاپور کښې اېلزبتهـ روغتون ته يؤړلې شوه . ډيلي کښې چې د هغې دننه پرهرونو نه بهېدونکې وينې ودرېدلو سره کومه هيله زېږېدلې وه، په هغې زمکې نه دېرش زره فوټه اوچت د څلورو ګېنټو مزل کښې اوبۀ واوړېدلې .د پېښې نه ديارلس ورځې پس هغې په ډيلي کښې ژوبل شوې ساه سينګاپور کښې وتوکله . په دېرشم دسمبر د هغې مړه ځاندره د هغې د مذهب له مخه په اور وسوزولې شوه او ايرې ئې د ګنګا مور څپو ته وسپارلې شوې . په ژوند د هغې په آتما پراتۀ پرهرونه نۀ روغتون کښې ورغلل، نۀ د چندڼ د لرګو مقدس اګنې ديؤ او نۀ د ګنګا مور څپو ووينځل.



د پېښې په وړومبۍ ورځ ټول هند يؤ زوړ شو . زاړۀ، ښځې، پېغلې او ځلمي په يؤ غږ پاڅېدل او هغې له ئې "امانت" نوم ورکړو .هغوي يؤ پاڅون وشوروۀ او يوه چغه ئې خپله کړه،

"مونږ به دې هېره نۀ کړو!!!"

تېرے کؤنکي رام سنګهـ، مکېش سنګهـ، راجو ، وينے شرما، پوان ګپتا او اکشے ټاکور پولسو د بېلابېلو ځايونو نه ونيول او د تورو تمبو شا ته ئې وتړل .پوان ګپتا خپل تېر ومنلو او د نورو پېژندنه کښې ئې خپلې مرستې پولسو ته وړاندې کړې . د ډيلي په يوه لاره روانه سورلۍ کښې مخې ته راغلې پېښې د ټولې نړۍ سترګې ونيولې .

ISSN201301

نۀ خو "امانت" ورومبۍ جینۍ ده، چې دا پېښه ورسره ؤشوه اؤ نۀ دا ورومبے ځل دے، چې لارې د دې تېرې غندنې لپاره اولس برجقې کړې. د هند، پاکستان، افغانستان اؤ د نړۍ په نورو برخو کښې دا لړۍ چې پېل شوې ده، مخنیوے ئې شوے نۀ دے. د هند د اولسمشر، وزیراعظم اؤ د سونیاګاندهي سره سره د واکمنۍ لخوا د اولس اؤ د رسنیو د زور سره سم د تېرې کؤنکو نیول دې لړ کښې هغه یؤ پېلام دے، چې د داد ور دے.




اولس دغه تېرې کؤنکو ته د سختې نه سختې سزا غوښتنه کوي اؤ د هغوي تېزندي کولو نه لږې خبرې ته غاړه نۀ ږدي. د "چار مینار" سره نژدې ولاړو پېغلو لاسونو کښې بېنرونه نیولي وائي، "تېرے کؤنکي په کانو ویشتلو ؤوژنئ!".

له بده مرغه، د داسې پېښو منځ ته راتګ سره مونږ له د ژوند د نورو چارو دلته هم وېشلي شوي یو - چې د مذهب تر لارې حل پله ځو، نو ځان ته روښان فکره ویونکي دېوال شي اؤ چې ځان ته د روښان فکره ویونکو حل ته ګورو، نو لاره کښې مذهبپالي خنډ شوي وي. په دې تصادم کښې ټول زور مظلوم ته رسیږي اؤ تر اوسه، د داسې تېرونو کرښه اسمان پله هم ځکه ځي، چې د حل لاره ویستلو کښې مونږ د فېصلې کولو لپاره یوه لاره خوښه کړې نۀ ده.

زمونږ په اند، د داسې پېښو د مخنیوي یوه فطري لاره د اسلام سره ده. د اسلام تعزیراتي نظام اؤ د ظلم اؤ تېرې مخه نیولو لپاره ښودلې شوې لاره د انساني جبلت اؤ فطرت سره بېخي سمون خوري. هغه ورځ د ښځو د ښېګړې لپاره د کارکؤنکې یوې تورسرې سره په دې زمونږ خبرې کېدلې. هغې د ښځو د حقونو اخستلو اؤ په هغوي شوؤ تېرونو کښې ککړو ته ابې یادؤلو لپاره خپله مرۍ په خبرو ؤچه کړه، خو چې کله ورته د "رجم" خبره ؤشوه، نو هغې ورته وحشت ؤوې. نن د چار مینار سیوري کښې د پېغلې لاس کښې د لیکلې بېنر سره مونږ ته هغه د ښځو د ښېګړې اؤ برخې دیاړیماره مخې ته ؤدرېدله. مونږ هغې ته ؤوې، "دا تپوس د هغې پېغلې نه ؤکړئ، چې تېرے ورسره شوے وي، چې هغه څۀ وائي؟ تاسو ځان لیکه کړئ! داسې ؤګڼئ، چې ستاسو د خوښې نه بغېر څوک تاسو راؤنیسي ــــ"

په دې خبره د هغې سترګو کښې مونږ د پاره ویرپا. پړیوانه اؤ بشپړه ګرکه مونږ هغې سره هر ملاقات کښې لیدلې اؤ محسوس کړې ده. کۀ چرې داسې تېري کؤنکو ته یؤ ځل د اولس په وړاندې سزا ورکړې شوه، نو چې بیا کله هم د چا پرتوغاښ له لاس وړي، نو زر ځله به سوچ کوي ــ ځکه چې ستا د ژوند سره تول کښې چې د نړۍ هر خوارۀ کېږدي، ژوند به درته زیات خوږ وي.

د سړو برلاسې دې نړۍ کښې د تورسرې د برخې تړوړلو اؤ هغوي سره په یوه اؤ بله خبره تېرے کولو دا خبره ډېره زړه اؤ دا لړۍ ډېره اوږده ده. پولسو سره تانو اؤ قاضیانو سره عدالتونو کښې داسې راپورونه ورک اؤ وراستۀ شي. د عدالت نه بهر په چل، زور، رضا داسې خبرو کښې لوړې ژورې ته راکښلې شي، چې د تېرې کؤنکو زړونه

نور هم ډاډه او سفاک کړي. د داسې پېښو په شا
هوس نهٔ دے ـــ د داسې پېښو په شا یوه رویه
پټه ده. دغه رویه ځان کښې لکه د شرمخ
پالونکے خورغود او مورغود دا نهٔ پېژني، چې
نهه میاشتې هغه په خپله ګېډه کښې ګرځوئنکې،
خپل خوبونه او د ژوند اسانتیاوې هغهٔ لپاره لاس
نه ورکوئنکې، د زړهٔ وینې د تي په پیو کښې
ورکوئنکې، د دهٔ غول وینځونکې او په هره تؤده
سړه کښې ځان نه زیات د دهٔ پام ساتونکې یوه
ښځه ده. دغه رویه "اقلیما" سره مینه او "لوزا" نه
کرکه کښې ورور وژني. دا رویه د تاریخ په هر
ګوټ پېر را تېره شي او تر مونږ را اورسیږي. لا به د
هېر خاورې پرې باد نهٔ وي، هغه بله ورځ مختارا
مائي هم دې رویې اذیت ته ښېلمه کړې وه ـــ
پسې بله ورځ هم دې رویې رمشا مسیح پسې
ګواښ کړے ؤ ـــ بله ورځ ئې ملاله یوسفزئ وژله
ـــ پرون ئې افغانستان کښې تنکۍ غوټۍ ژوبل
کؤلې او نن ئې "امانت" ؤوژله. ایا مونږ به دا رویه
زمونږ راتلونکي کهول ته پرېږدو؟



د سر په بدل کښې د تېژندۍ ښیاسته د انصاف غږ
دے، خو په دې کېس کښې باید د امانت مرګ
دې هېر کړے شي. تېژندي دې د زنا بالجبر په نوم
ؤرغړلې شي. د اولس وړاندې دې یؤ داسې تاریخ
ؤلیکلے شي، چې بیا څوک پردۍ لور خور مور ته
ګوري، نو چې خپله لور خور مور ورته ؤدرېږي.



کهٔ عدالت دې فیصله کښې شپږ په شپږ تېري
کؤنکي ؤوژني او د قتل په قصاص کښې ئې
ؤوژني، نو هم د امانت سره انصاف نهٔ دے ـــ
ځکه چې امانت د دغه تېري نه وروستو هسې هم
مړه وه ـــ خو کهٔ د یوې تورسرې سره اجتماعي
زیاتي کولو او بیا هغه ژوبل ژوبل، وینې وینې،
لوڅه لغړه په لویه لاره کښې مرګ ته پرېښودلو
باندې تېژندي د هغوي مرۍ کښې واچؤلې شي،
نو دا به د دغه رویې د وژلو یوه شعوري هڅه وي.
د اسلام تعزیراتي نظام کښې داسې کرکژنې او
ناوړه رویې وژلې کېږي. انساني فطرت چې
څومره مئېن او نیازبین دے، دومره کرکژن او
سفاک هم دے. د داسې رویو په شا هاغه هیجان
خېزې سندرې او نڅاګانې هم دي، چې د پاکستان
او هند سنېما کښې د کلتور او جدیدیت په نوم
ښودلې کېږي ـــ کهٔ نن داسې ؤ نهٔ شو، نو دا لړۍ
به چرته هم پښه نیولې نهٔ شي او زمونږ راتلونکي
نسلونه به هم دغسې زوري او ځبیخي. تېژندۍ
سره دې تېرے کؤنکے نهٔ. دغه رویه ؤوژلې شي.
د قابیل هوس به هم دغسې غرغنډې کوي، خو
باید د اقلیما او لوزا حرمتونه خوندي شي. هم دا
به د قابیل هوس ته سرپټوب او انسانیت ښائي.




# قبائيلي اولس څهٔ غواړي؟

کريم الله افريدے

رواني چارې اؤ تېرو ورځو کښې د خېبر پښتونخوا ګورنر ښاغلي مسعود کوثر د قبائيلي سيمو نه چونې شوؤ سنېټرانو سره د وانا ته تګ اؤ هلته د پرمختګ د کارونو، ښوُنځو اؤ لارو بشپړتيا اؤ پراختيا دپاره د شوؤ کارونو جاج اؤ بيا د ګورنر خبرې پخپله د تول د پاره ډېر دي.

قبائيلي سيمه کښې مېشته اولس يؤ خپلواکه اؤ ازاد فطرت لرونکے اولس دے. د هغوي د وطن سره د مينې اؤ د خپل کلتور سره د نزدېوالي يؤ اوږد تاريخ خوندي دے. دغه خواريکښ اولس په يؤ وخت کښې هم د بل وړاندې لاس غځولو خوښه کړې نهٔ ده. هغوي خپلو سيمو کښې د قبائيلي روايتونو، جرګو مرکو اؤ خپل کلتور خوندي ساتلو لپاره د څهٔ ډول قربانۍ نه ځنډه کړې نهٔ ده.

د دې هر څهٔ پرته، په افغانستان کښې د غرغنډه کړے شوي اور اغېزې دا سيمه هم ځان سره واخستله اؤ د امن، مينې اؤ ورورولۍ دا سيمه هم د فساد نخښه ؤګرځېدلې ده. په دې پښتنه سيمه کښې د طالبانائزېشن منظر اؤ پس منظر اؤ ټول کردارونه د دې سيمې نهٔ دي، نو ځکه اولس د پاره ئې د مخنيوي کولو کښې سټونزې ګنې وې اؤ وسائل نيشت وو. د پښتنو سيمو ته د دغه جنګ راؤړونکي پوهه وو، چې "څرګند سکندر اعظم" هم دلته ګټه کولې نهٔ شي اؤ ځکه د جنګ کولو يؤ نوے اؤ ناشونے ډول ئې دې سيمه کښې خپل کړو اؤ تر دې دمه په خپله دغه سټرېټيجي کښې بريالي هم دي.

د خبرې منځ نه خبره دا راؤوتله، چې ايا پښتنو د يؤ داسې "بې مخه"، "نهٔ ښکارېدونکي" اؤ "پټ" دښمن لاسونو ته خپل ژوند اؤ خپلې خاؤرې نه لاس واخستل؟

نه!

چرې هم نه!

په دې سيمه يوازې نهٔ، بلکې د جنوبي اؤ منځنۍ اسيا امن اؤ پرمختګ د دې سيمې د حالاتو سره تړلے شوے دے. هغه شعر دے، چې:

د دنيا د ابادۍ دعوې دروغ دي
چې تر څو د پښتنو کورونه وران وي

اوس د جنوبي اؤ منځنۍ اسيا لوې هېوادونه ولې غلي دي؟

د دې تپوس يؤ کليوال ځواب دا دے، چې "خانه! تهٔ پخپله "شه پا شه پا" کوې اؤ شلتالو نهٔ وائې، نو زما په خېټه څهٔ ځنډه پښه ايښې ده؟ تهٔ دعوىٰ ؤکړه، چې زهٔ درسره ډانګې ته لاس کړم؟ خو چې تاسو خپل ورونه خپلو کښې يؤ غږ نهٔ يئ، نو ګاونډي څهٔ حق لري؟

په داسې وخت کښې هم، چې د پښتنو خاؤره د يؤ مسلسل عذاب په ولقه کښې ګېره ده، زمونږ قام اوس هم برخو کښې ويشلے شوے دے. دا وخت هم چرته چې چاؤدنه يا د ترهګرۍ بله څهٔ پېښه کېږي، نو قبائيلي سيمو ته ګوته نيولې کېږي.

مونږ دا نۀ وایو، چې دغه خبرې په سل په ریښتیا وي، خو البته سل په سله دروغ هم نۀ دي. باید د قبائیلي مشرانو دې خبرې ته غوږ کېښودلے شي، چې هغوي پخپله ازاده خاوره شرمخانو ته سپارلې شوې دي. افغانستان هم هلته د ترهګرۍ په پښنو کښې د قبائیلي سیمو پله ګوته نیسي او پاکستان کښې هم د ترهګرۍ په ضد ولاړ سنجیده قام پرست ګوندونه د یوې مودې نه دې سیمو کښې د امنیتي ادارو لخوا د ترهګرو نوغي ویستلو د پاره د عملیاتو کولو چغې وهي. د فکر وړ خبره دا ده، چې د پاکستان د جغرافیائي حدونو ساتندویه پوځي مشران په دې سیمو کښې د عملیاتو کولو نه ځنډه کوي. دا وخت په دغه سیمه کښې موجود پوځونه ترهګرو باندې څۀ ډول غم غرض نۀ کوي. هلته څمڅونو او کنډاوونو کښې ځلمو ته د جنت په پټواري ستامونو مهر لګوي او خفیه ادارې هم دا چغه وهي، چې خودکش یا ترهګر ښار ته ننوتلو، نور څۀ عملي ګام څرګند نۀ شو. دغه خلک هر ډول



وسائل او سوَرلۍ لري. نوې وسلې ورسره دي او د یۀ انسان د وژنې لپاره چې د کومې سفاکۍ او کانې کانې زړونو اړتیا وي، هغه د هغوي په سینو کښې لکه د شنو کانو پراتۀ دي. نولس کروړه ابادي، اووۀ لکونه پوځ د ګوتو په شمېر طالبانو لره کۀ ماته ورکولې نۀ شي، نو د دې نه څرګنده ده، چې قام ویشلے شوے دے، ادارې ویشلې شوې دي او د "ښۀ طالبان" او "بد طالبان" خبره د ترهګرۍ د بریالیتوب نخښه ده.

د طالبانو سره دښمني د پېریانو دښمني ده، ځکه چې هغوي څۀ مخ نۀ لري، پېژندګلو نۀ لري، ځاے نۀ لري. هغوي ټول هېواد او په ځانګړې توګه د پښتنو خاوره ځان لپاره د جنګ مېدان ګرځولے دے او هغوي په دې سیمو کښې ډېر ډاډه او سپړدلې تنۍ ګرځي او چې د چا وژل غواړي، وژني ئې ـــ چې کومه ودانۍ ړنګول غواړي، ړنګوي ئې او چې څۀ ئې په زړۀ سمه وي، کوي. ځکه چې د هغوي مخنیوي لپاره څۀ شعوري او عملي ګام نۀ پورته کېږي.

دې حالاتو کښې یوازې اے اېن پي یۀ داسې ګوند دے، چې د ترهګرۍ په ضد ئې مؤقف هر چا نه زیات څرګند، روڼ او یۀ مخېز دے. هغوي دغه ترهګري د پښتون د پرمختګ او سوکالۍ لاره نیولو د پاره یۀ استعماري فکر ګڼي. هغوي وائي چې ترهګر دې د ریاست قانون کښې دننه د پښتنو د کلتور سره سم جرګه شي او مونږ به ورسره خبرې ؤکړو. په داسې مؤقف کښې مونږ دا ځکه منلې شو، چې اے اېن پي دې نه اګاهو هم د ښي لاس سیاسي ګوندونو لخوا د سوات امن معاهده شدید مخالفت باوجود هم لاسلیک کړې وه، چې له بده مرغه زر ماته شوه. دا ځل هم کۀ اے اېن پي د څۀ داسې لاسلیک خبره کوي، نو دا یوازې د اے اېن پي خبره نۀ ده. بلکې د پښتون قام د ژوند او مرګ خبره ده او څوک چې دا جنګ په پټو مخونو کوي، د هغوي د جنګ څۀ مرام او هدف نشته، پرته د دې نه، چې پښتانۀ ؤوژني او پښتونخوا ورانه کړي. د ترهګرو په نظر کښې

ټول پښتانۀ اے اېن پي او اے اېن پي پښتانۀ دي .هغوي چې څنګه نور پښتانۀ په نخښه کوي، هم دغسې اے اېن پي هم د هغوي په نخښه ده. شهيد بشير احمد بلور د اے اېن پي د شهيدو شوؤ غړو شمېر کښې اووۀ سوه نهم ۆ. په دې اووۀ سوه نهه غړو کښې د شهيد بشير بلور نه اګاهو ډاکټر شمشېرعلي خان او عالم زېب خان هم د صوبائي اسمبلۍ غړي وو. دوي سره د ترهګرۍ په ضد يؤ بل وياړمن مبارز ميا افتخار حسېن د هغۀ د ځلمي او ناوياته ځوي څلي ته کښېنولے شو، خو د هغۀ عزم او حوصله ئې ماته نۀ کړې شوه.

د قبائيلو لوي شمېر د ترهګرۍ د نوغي ويستلو په حق کښې دے او څوک چې په دغه لړ کښې د ښي لاس سياسي ګوندونو او د جماعت اسلامي، تحريک انصاف او دفاع پاکستان کونسل غونډې "ادارو" لهجه وائي، نو هغوي نه يؤ تپوس دا دے، چې په قبائيلي سيمو کښې د ډرون برېدونو د مخنيوي خبره کؤنکي په پښتونخوا کښې د ترهګرۍ د واقعاتو تشه غندنه هم ولې نۀ کوي؟ اے اېن پي خو چې کله هم د مذاکراتو يا د عملياتو خبره کوي، نو طالبانو لپاره د هغوي لهجه هماغسې درنه او پښتنه وي، څنګه چې د پښتنو دود او دستور دے، خو ولې د طالبانو په اړه خبره کولو کښې د کنځلو او لعنتونو حد پورې تلونکي الطاف حسېن ته ولې طالبان غلي شي او د پنجاب حکومت ولې د طالبانو د پاره قابلِ قبول دے؟ د داسې سوالونو په شا ډېر سوالونه دي.

د ښاغلي ګورنر او د قبائيلي سيمو نه ټاکلے شوؤ سنېټرانو لخوا د وانا دوره يقيناً چې يؤ ښۀ علامت دے او د دې په نتيجه کښې مونږ دا هيله لرو، چې قبائيلي سيمې به ډېر زر د پرمختګ او سوکالۍ په لاره يون وکړي. دغه سيمه به يوازې د افغانستان او پاکستان نۀ، بلکې د جنوبي او منځنۍ اسيا لپاره د اقتصادي هلوځلو مرکز وي. د دې سيمو دننه به ښؤنځي، روغتونونه او د ښېګړې مرکزونه وي او د اولس لپاره د روزګار او کارونو نوې لارې پرانستلې شوې وي، خو د دې




خوبونو تعبير لپاره ټولو نه وړومبے ګام امن دے. د دې امن لپاره بايد ټول هغه سياسي ګوندونه چې د پښتنو په خاوره سياست کوي، خپلو کښې سره جرګه شي او يوه نکاتي اېجنډه د امن په نوم واخلي او د اسلام اباد په ايوان کښې يؤ غږ شي. نور قام په تياره کښې ساتل به د تاريخ سنګين ترين جرم وي. بايد اوس حقيقي سياسي ذهنونه يؤ شي او د هغه ذهنيت په ضد ؤدرېږي، کوم ذهنيت چې ګاندهي جي ويشتلو ــــ کوم ذهنيت چې د جناح صېب ګاډے ورانولو ـــ کوم ذهنيت چې باچاخان بابا له اذيتونه ورکول ـــ کوم ذهنيت چې ملاله يوسفزۍ ويشتله او کوم ذهنيت چې شهيد بشير احمد بلور باندې حمله کوله او کوم ذهنيت چې د خدا ے په زمکه فساد يؤ مقدس فرض ګڼي. بايد اوس په امن او سوله مئېن سياسي ګوندونه هاغه مخونه اولس ته لغړ کړي، کوم چې د اولس په مړو سياست کوي. د دغه مخونو کۀ هر څومره اوږدې ږيرې وي ــــ هر څومره ګڼ ستوري او سپوږمۍ ئې په اوږو ځليږي ــــ هر څومره کۀ ئې سپينې جامې اغوستې وي او کۀ هر څومره د جديديت او انقلاب د چغې شا ته پټ شوي وي، هم دا د فېصلې وخت دے.

ISSN201301



# پولیو ښاخکي اؤ مړدکي

ویاړ راپور

دوه سوه یؤ نوي کلونه ؤشول ـ 1721ء کښې چې رنځپوهـ (ډاکټر) زابدیل بواستېن د چیچک ناوړه ناروغتیا نه ژغورنې لپاره ښاخکي ؤموندل اؤ له هر چا اګاهو ئې پخپل شپړکلن ځوي اؤ د خپل یؤ غلام په ځوي ؤپلټول ـ د ښاخکو په کره ختلو ئې دا ښاخکي د چیچک په نورو ناروغو هم ازمېښت کړل، چې شمېر ئې 248 ؤ ـ د رنځپوهي په نړۍ کښې کۀ د ښاخکو دغه لړۍ په شپاړسمه پېړۍ کښې چین اؤ هند کښې موندلې کیږي، خو د بواستېن خبره تاریخ خوندي کړله اؤ کله چې خوره شوه، نو هماغه وخت پسې د عیسائي مذهب مشرانو ډانګي ته لاس کړل ـ د هغوي وېنا وه، چې "داسې ناروغۍ په ګناه کؤنکي د خداے عذاب دے اؤ د داسې ناروغۍ نه د ژغورنې هڅه کول د خداے سره شرک دے". دې سره نورې هم داسې شوشې خپرې کړې شوې، تر دې چې بواستېن عدالت کښې مخ کړے شو ـ

د پولیو ناروغتیا هم د دې پېړۍ نۀ ده ـ د تاریخ په اوږدو کښې د دې ناروغتیا پلټنې ؤشوې، دوا دورمل ئې ؤپلټلې شول اؤ د ژغورنې لارې ئې هم ؤموندلې شوې، خو تر هر څۀ بریالۍ هڅه د رنځپوهـ جونس سالک منلې کیږي ـ 1952ء کښې هغۀ د پولیو نه ژغورنې لپاره ښاخکي ؤموندل اؤ په څوارلسم اپریل 1955ء کښې د ازمېښتونو اؤ پلټنو نه وروستو روغنتونو ته واستولې شول ـ

د روغتیا د نړیوالو پلټنو د یؤ راپور تر مخه د 1988ء پورې ټوله نړۍ کښې د پولیو 350,000 ناروغه وو، چې 2007ء پورې 1,652 ته دغه شمېر راوستلے شو ـ د افریقه چاډ سیمه پسې پاکستان د دې ناروغۍ دوېم شمېر لرونکے هېواد دے ـ هند اؤ افغانستان سره نائیجریا کښې هم د پولیو اغیزې تر دې موندلې کیږي، ولې په نوره نړۍ کښې د دې ناروغتیا مونډ ویستلے شوے دے ـ

یوازې پاکستان اؤ افغانستان پورې دا خبره تړلې شوې نۀ ده ـ په نړۍ کښې چې چرته هم پرمختګ کؤنکي قامونه دي، هلته داسې شوشې اؤ اپلتې خپرؤلې کیږي تر څو د اولس پام ځان ته را ؤګرځولے شي اؤ د واک اؤ زور څوکۍ تر لاسه کړې شي




وړومبے هند کښې اؤ بیا په پاکستان اؤ افغانستان کښې د پولیو ښاخکي د مذهب په نوم د پرچاؤ کولو هڅه ؤکړې شوه ـ بنګله دېش په دې اړه تر هر چا زیات پوهه اؤ ځیرک ؤ، ځکه چې د ښاخکو راتګ سره هغوي مذهبي اؤ سیاسي لاربښؤنکو ته دغه کار ؤسپارلو، چې د اولس په سرونو کښې د دې ناروغۍ اغیزې اؤ د مخنیوي لارې کښېنوي اؤ څۀ ډول اندېښنې اؤ وسوسې ئې زړونو څخه ؤباسي ـ

هند د سرتېره مذهبي ګوندونو اؤ ډلو زور اوبۀ کولو د پاره د بالیوډ مُرسته واخستله اؤ د هندي سنېما لوي سُتوري ئې د پولیو د رنځ سره ډغره

ISSN201301

وهلو د پاره استازي وټاکل . دې سره هلته هم اولس د پولیو مخه نیولو ته ؤدرېدل .

پاکستان کښې هم، دا څاڅکي د "امت مسلمه" د نوغي ویستلو لپاره د "یهود و نصاریٰ سازش" په توګه اولس ته وړاندې کړے شولو اؤ دغسې اولس یوې دروغژنې وېرې ته په توره لاره پرېښودے شو.



د سرکار لخوا د دغه شوشې د مخنیوي هڅه کۀ هر څو ؤشوله، خو اولس چرې هم دا سوچ ؤ نۀ کړو چې کۀ یهود و نصاریٰ ارومرو د امت د نوغي ویستلو تابیا کړې وي، نو د شین کاغذ اؤ سُور کاغذ ګولۍ اؤ د توخي اؤ پْرنجي شربتونه ولې نۀ پکاروي . څرګنده ده، چې یهود و نصاریٰ دوه سوه کلونه مخکښې سوچ کوي (افسوس) .

د 2012ء هره بده ورځ دې متره شي، خو د دسمبر منځ کښې د پولیو څاڅکو کوچنیو ته ورکؤنکو ډلو باندې بْریدونه کۀ یؤ خْوا د تولنیزو ښېګړو کؤنکو جوړښتونو (تنظیمونو) لپاره لاره کښې خنډ شوې، نو بلخوا ئې دغه جوړښتونو د پاره د روغتیا د نړیوالې ګروهې تر سیورې لاندې کار کؤنکي بې ګناه ځلمي اؤ پېغلې هم ؤوژلې . لکه څنګه چې مونږ د راپور په پېل کښې ؤوئېل، چې دغه ذهنیت د نړۍ په هر قام اؤ هره خاؤره شته، خو دا ډول سْپک اؤ کْرکژن ګام یوازې پاکستان اؤ په ځانګړې توګه په پښتنه خاؤره ؤشو . مونږ دا چرې هم نۀ وایو . چې د مذهب د بېرغ لاندې ولاړ تول لاسونه د دغسې سْپکو اؤ ناوړه کارونو ډاډ اؤ مْلاتړ ورکوي، خو دا خبره پته نۀ ده، چې اوس کۀ هر څوک داسې د ترهګرۍ اؤ انسان وژنې کار کوي، نو هغه په مذهبي ګوندونو اؤ ډلو تپلې کېږي.

داسې وخت کښې په مذهبي لارښودونکو لوئې ذمه وارې راځي . باید هغوي په څرګنده د داسې ګامونو غندنه ؤکړي اؤ اولس ته ؤښائي، چې د امن، مینې اؤ ورورولۍ مذهب اسلام چا ته هم د کْرکې، تشدد اؤ ترهګرۍ ښونه نۀ کوي . باید په خپلو اولسي وېناؤ کښې هغوي اولس ته د دې رنځ زمونږ په قام اؤ تولنیز ژوند ناوړه اغیزې د مذهب په رڼا کښې ؤڅېړي اؤ دغسې په هاغه تولو پْراپېګنډو اؤ تورونو پښه راکاږي، کوم چې د څو ورانکارو اؤ ترهګرو ذهنونو سره د مذهب د بدنامۍ لاره کېږي اؤ د مذهبپالو نه د اولس په زړونو کښې د کْرکې اؤ وسوسې بزغلے نالوي.



اوس هم لا وخت زمونږ په لاسونو کښې دے . اوس هم مونږ کولے شو، چې راتلونکي کښې د داسې ناوړه پېښو اؤ حادثو مخه ؤنیسو اؤ خپل راتلونکي کهول ته د تاریخ په پاڼو کښې اوچتې سترګې اؤ هسکه غړۍ ؤدرېږو . مونږ سره نور د غلطو اؤ تېرونو کولو ځاے نشته . کۀ اوس یؤ غږ نۀ شو ، زمونږ راتلونکے به مونږ چرې ؤ نۀ بخښي .




# بلغ العلیٰ بکماله

مولانا عبدالله ديروي

د دولسم ربيع الاول په راتګ د مسلمانانو لپاره د دې ورځ د "يوم ميلادالنبيﷺ" نمانځل کۀ يۀ څوا مختلف الراي ده اؤ ځنې مسلکونه ئې يۀ بدعت ګڼي اؤ د "سالګره" نمانځلو مخنيوے کوُنکي زيات زور سره دا خبره کوي، نو بلخوا زۀ په شخصي توګه د دې ورځ د نمانځلو حق کښې يم ـــ داسې نۀ، لکه څنګه چې په دې سپېځلي ياد کښې مشکرانه اؤ بدعتانه کارونه کيږي، بلکې داسې چې بايد په دې ورځ داسې دستورې اؤ غونډې تاپيا شي، چې د ادم نه تر دې دم د نړۍ تر ټولو د غوره انسان د ژوند بېل بېل اړخونه پکښې وُڅېړلي شي اؤ مونږ راتلونکے ژوند د هاغه عظيم شخصيت د سپېځلي اؤ مقدس ژوند په رڼا کښې تېرؤلو د پاره دې غونډو اؤ دستورو نه رڼا واخلو.

د لوي څښتن لخوا د انسانانو لارښودنې لپاره د نړۍ په لور استولي شوؤ انبياء عليهم السلام د سلسلې ټولو نه اخيري استازے، چې د هغوي نه وروستو بل پېغمبر نشته، حضرت محمدﷺ د عبدالله (ځوے د عبدالمطلب نمسے د هاشم) اؤ امنه بي بي (لُور د وهب نمسۍ د عبدمناف) کره په مکه (چې اوس د سعودي عرب د حجاز جنوبي اړخ کښې د مسلمانانو د يۀ سپېځلي ښار په حېث شتون لري) کښې د ګل په ورځ 571ء کښې د سپوږميزو مياشتو له مخه د درېمې مياشتې (ربيع الاول) په دولسمه اؤ د نمبريزو مياشتو له مخه د څلورمې مياشتې (اپرېل) په شلمه نېټه زېږېدلے ؤ ۔ د ګل ورځ، 571ء کال اؤ ربيع الاول په مياشت ټول تاريخ ليکونکي يۀ غږ دي، خو د تاريخ په حواله درې خبرې کيږي ۔ يوه خبره د طبري اؤ ابن خلدون ده، چې هغوي د ربيع الاول دولسمه نېټه ښائي، دوېمه د حافظ ابن کثير ده، چې لسم ربيع الاول د زېږون ورځ په حېث بيانوي اؤ درېمه خبره د "تاريخ دول العرب و الاسلام" د ليکونکي محمد طلعت عرب ده، چې هغوي نهم ربيع الاول ته د حضرت محمدﷺ زېږون ورځ وائي

. د اسلامي کتابونو د خپرولې نړیوالې ادارې "دارالسلام" لخوا د ډاکټر شوقي ابوالخلیل کتاب "اټلس سیرت النبيﷺ" کښې هم د نهم ربیع الاول ورځ دې دعوې سره ښودلې شوې ده، چې کله د ورځو حساب د جدید سائنسي تحقیق سره وګورو، نو د ګل ورځ (چې ټول تاریخ ویاند پرې یؤ غږ دي) په دغه کال د نهم ربیع الاول سره سمون خوري.



د حضرت محمد ﷺ ژوند باندې په لکونو کتابونه د نړۍ په هره ژوندۍ ژبه کښې لیکلي او ژباړلي موندلے شو. دې کتابونو کښې لوي شمېر د هغه لیکوالانو هم دے، چې مسلمانان نۀ دي، خو بیا هم هغوي د الله د نیازبین استازيﷺ ژوند د نړۍ د امن او د انسانیت د ښېګړې لپاره تر ټولو غوره او سپېڅلې حواله منلې ده او بې له څۀ تعصب او مذهبي توپیر ئې رانۀ او ښکاره لیکل کړي دي، چې دغه لیکونه خپل یؤ اغېز او اثر لري.

مونږ د دې خبرې کلک او ټینګ منونکي یو، چې د "اِنَّکَ لَعَلیٰ خُلُقٍ عَظِیْم" سره الله د هغويﷺ ژوند ټول انسانیت د پاره یوه نازولې تګلاره ګرځولې ده او باید مونږ خپل ژوند د هغويﷺ د ژوند رڼا او د هغوي د ښونې او ښودنې سره سم تېر کړو او چې کوم ځاني، ټولنیز او قامي ستونزې او اټکلونه ؤلرو، چې د دغه سپېڅلي سیرت په رڼا کښې ئې د سمون لارې ؤلټوو.

په دې لړ کښې څۀ پېښې نېغ په نېغ او څۀ زمونږ په وړاندې د علامتونو شکل کښې موجودې دي.

ټولو نه وړومبے په دې لړ کښې د "حرب فجار" ذکر کوو. دا جنګ قرېش او د هغې ملګرې قبیلو د قېس عیلان او د هغې ملګرې قبیلو سره کړے ؤ. "عکاظ" چې هاغه زمانه کښې د قرېشو لپاره د تجارت یؤ لوی بازار ؤ، هلته په تجارتي حق دارۍ د یؤ مړي (عزوة الرجال چې د خرڅ لپاره ئې دلته سامان راوړے ؤ او د بنوکنانه قبیلې د بُراص بن قېس د لاسه وژلے شوے ؤ) په سر پېل شو. دې جنګ کښې قرېش او د هغې ملګرې قبیلې په برابر حېثیت شاملې شوې وې. قرېش دې جنګ کښې بریالي کېدونکي وو، خو ناڅاپه ګټه قېس عیلان پله لاړله او د قرېش لخوا عتبه بن ربیعه د سُولې غږ ؤکړو. دواړه ډلو خپل خپل مړي ؤشمېرل، قرېش د قېس عیلان د زیاتي مړو دیّت ورکړو او دا جنګ ختم شو. دې جنګ کښې د قرېش لخوا په صفونو کښې پنځلس کلن محمد ځوے د عبدالله هم ؤ، چې غشي ویشتونکو ته به ئې غشي ورکول. دې جنګ د نورو سره د زیاتي کولو مخنیوي او د مظلوم مرسته کولو لپاره یؤ فکر منځ ته راؤړلو. دا فکر زبېر بن عبدالمطلب (د حضرت محمدﷺ ترۀ) وړاندې کړو. "حربِ فجار" نه وروستو د یمن یؤ سوداګر زبېد مکې کښې څۀ تجارتي سامان خرڅولو. عاص ځوي د وائل ترې دغه ټول سامان واخستلو او بیا ئې قیمت نۀ ورکولو. زبېد انصاف لپاره مخؤریز درشلونو باندې ؤدرېدلو، خو چا ئې خبره نۀ اؤرېدله، نو هغۀ په څو شعرونو کښې په ځان شوے ظلم وړاندې کړو. زبېر بن عبدالمطلب چې دغه وخت کښې د قرېش سردار ؤ، هغۀ په دې اؤرېدلو هلې ځلې ؤکړې او پنځۀ قبیلې بنوقاشم،

بنو مطلب، بنو اسد ، بنو زهره او بنو تَیّم ئې ځان سره ملګرې کړې او دا لوظ ئې لاسلیک کړه، چې مکه کښې کۀ هر چا سره ظلم کیږي، هغه د مکې وي او کۀ د بهر نه راغلے وي، هغۀ لپاره به انصاف ګټو" او هم دې سره هغوي د زبېد حق واخستلو او دې لاسلیک ته "حلف الفضول" (د سپین روبو لاسلیک) ؤوئیلے شو ۔ دا جرګه د عبدالله ځوي د جدعان په کور کښې شوې وه او مولانا صفي الدین مبارکپوري خپل کتاب "اَلرَّحِیْقُ الْمَخْتُوْم" کښې لیکي، " محمد ﷺ په دې جرګه کښې خپلو ترونو سره شریک شوے ؤ او د پېغمبرۍ نه وروستو به هم هغوي ﷺ وئېل، چې ما د عبدالله ځوي د جدعان په کور کښې یوه داسې جرګه کښې ګډون کړے ؤ، چې په بدل کښې ئې زۀ یوه کاسیره هم نۀ اخلم، خو کۀ نن هم دغه جرګه کښې زۀ راؤبللے شم، نو یقیناً چې دغه بلنه به قبلوم".

"حربِ فجار" او "حلف الفضول" کښې دوه خبرې زمونږ وړاندې راځي ۔ جنګ د قرېشو د معاشي او اقتصادي قتل د مخنیوي یوه هڅه وه ۔ مونږ په حېث د یو مسلمان دا عقیده لرو ، چې د حضرت محمد ﷺ ذات او سیرت د هر ډول نفساني بدیو نه پاک او سپېځلے دے ۔ په دې تناظر کښې، کله چې هغوي ﷺ په دې جنګ کښې پنځلس کلنۍ کښې برخه اخستله، نو دا مونږ ته زمونږ د ذاتي او قامي حق لپاره د ؤدرېدلو ښونه کوي ۔ هر څو کۀ د اسلام راتګ نه وروستو باید د انصاف او عدل تر مخه د داسې واقعاتو راتلل پکار نۀ دے، خو بیا هم کۀ څوک زمونږ د خوښې نه پرته په زور او زیاتي زمونږ ذاتي یا قامي حق د غصب کولو زړۀ کوي، نو باید مونږ ئې په پرامن ډول مزاحمت ؤکړو او کۀ هغوي جنګ کوي، نو چې خپله دفاع ؤکړے شو ۔ "حلف الفضول" یوازې هاغه وخت نۀ، بلکې نن هم د هغې هغومره ضرورت دے ۔ زمونږ ټولنه کښې د ډېرو نخښتو او جنګونو نه مونږ د دې جرګې منځ ته راؤړلو سره وتلې شو ۔




دې سره سره ټولنیز ژوند کښې یو لوي خنډ په مکه کښې د قرېش لخوا د "حُمْس" د رواج سره منځ ته راغلے ؤ ۔ "حُمْس" تشدد ته راغلے ؤ او د دې اصطلاحي معنا دا ده، چې یو سړے په مذهبي یا ذاتي توګه ځان د نورو نه غوره ؤګڼي او دا خبره په نورو منلو لپاره د تشدد لاره خپله کړي ۔ د دې رواج تر مخه قرېشو د مکې ښار او د حرم د وجود تر مخه ځانونه د نور هر چا نه غوره ګڼل او د بهر نه راتلونکي قبیلې ئې ټیټې ګڼلې ۔ د دې رواج په نوم قرېش ځانونو لپاره د حج مناسک هم د بهر نه راتلونکو په نسبت نور کړي وو ۔ حضرت محمد ﷺ نۀ یوازې دا چې اسلام نه اګاهو د دې رواج مخالفت کړے ؤ، بلکې د اسلام راتګ سره ئې د دې رواج نوغے منځ نه ؤویستلو او د مساوات او برابرۍ یو تاریخ ئې د نړۍ هر انسان لپاره خوندي کړو ، چې نن هم مونږ لپاره د رڼا مناره ده ۔

کله چې هغوي ﷺ ته د پېغمبرۍ زېرے ورکړے شو، نو وړومبۍ خبره د "اِقْرَاْ" (ۆلوله) وه او بیا چې کله د اسلام د خپرونې او تبلیغ لپاره ۆئیلي شول، نو هغوي ﷺ ټولو نه وړومبے خپل کور او خپل ته دا خبره ښکاره کړه. دې سره څرګندېږي، چې هره خبره، هغه کۀ ښۀ پله بلنه ده او کۀ د بدۍ مخنیوے، د ځان نه پېل کېږي او چې پخپل عقل او شعور او زړۀ سره ۆمنلې شي، نو بیا خپل کور، خپل خپل، خپل کلے او دغسې د نړۍ هره برخه. د خپل کور او خپل نه د اسلام د خبرې پېل نن د نړۍ په هره برخه کښې د رڼا یۀ روښان او ځلنده نمر دے. هاغه وخت د هغوي ﷺ خپل کور او خپل دغه خبره د وړوکي علي ځوي د ابوطالب نه بغېر ۆ نۀ منله او د هغوي ﷺ ژوند ئې د هر ډول ازمېښتونو او کړاوونو سره مخ کړو، خو دا هم د هغوي ﷺ د ژوند په رڼا کښې الله مونږ ته ۆښودل، چې د سمون او رېښتیا لاره کښې هر ازمېښت او کړاو ته زړۀ ۆ نۀ بائېلو او مرام ته رسېدلو کښې به بریالي شو.

د اسلام تاریخ او د سیرت النبي ﷺ کتابونه زمونږ په وړاندې پراتۀ دي. د رېښتیا او سمون لارې کۀ هر څو د ازمېښتونو او کړاوَنو نه برجقې دي، خو د مرام پورې رسېدلو ضمانت لري.

مونږ دلته په دې لړ کښې خپله اخیرے سرلیک هغه وینا ګرځوو، کومه چې د "خطبه حجة الوداع" په نوم تاریخ خوندي کړې ده. په دې خطبه کښې څو خبرې داسې دي، چې زمونږ ټولنیز ژوند لپاره پکښې ډېرې سپېځلې رناګانې دي. د بېلګې په توګه کله چې هغوي ﷺ داسلام نه اګاهو شوي مړي د بخښلو د پاره وائي، نو ټولو نه وړومبے د خپل تږۀ حمزه وژونکي بخښي. کله چې د سُود د حرام کولو خبره کوي او تېر سُودونه بخښي، نو دا غږ کوي، چې د عباس (عباس بن عبدالمطلب) سُود معاف دے. تاریخ لیکي، چې کله د عباس سُود معاف شو، نو درې برخې اولس په مکه او د مکې خواۆشا کښې د پردې پور نه خوشې شو. هم په دې خطبه کښې د انسانانو تر منځه د قبیلې، رنګ، نسل، مالي قد او نور داسې دېوالونه ړنګ کړے شول. کوم چې د الله د مخلق تر منځه د هسک او ټیټ معیار ګرځولے شوے ۆ.

لکه څنګه چې په دې پورته کرښو کښې لیکلي شوي دي، د حضرت محمد ﷺ په سپېځلي ژوند د نړۍ هره ژبه کښې بې شمېره کتابونه لیکلي شوي دي. باید مونږ د دغه کتابونو لوستلو ته وخت ورکړو. د هغوي ﷺ د ژوند لوستل او د هغوي ﷺ د ژوند لارې موندل او د هغوي ﷺ د ژوند په فکر او فلسفه خپلولو کښې زمونږ د ځان، زمونږ د کور، زمونږ د خپل، زمونږ د قام او د ټول انسانیت خېر دے. نن چې د فساد او کړکې او د انسان وژنې کومه سپېره سیلۍ زمونږ په خاوره رالوتې ده، د دې په شا زمونږ خپل تېرونه دي. مونږ د مذهب په ښونه د ځان پوهولو چرې هم هڅه کړې نۀ ده. مونږ چرې هم دغه لړ کښې وخت ویستلے نۀ دے. باید مونږ د سیرت النبي ﷺ د لوستلو او په دې ځان پوهولو لپاره وخت ورکړو. د داسې غونډو او دستورو تابیا ۆکړو، کومې چې د هغوي ﷺ سپېځلي ژوند باندې مونږ ته پوهه راکړي او بیا د دغه پوهې په رڼا کښې مونږ د ځان او ټول انسانیت لپاره د امن، سُولې، ښېګړې او پرمختګ لارې ۆموندلے شو.

(مونږ به روانه ګڼه کښې "حلف الفضول" باندې د اوسنې دور د حالاتو تر مخه یۀ راپور وړاندې کوو. هیله لرو، چې زمونږ په سیمه د امن او سُولې لپاره به زمونږ لار ښودنه ۆکړي. اداره)

# اسلام اؤ د ښځو حقونه

قاري محب الله داروزه

په دنیا کښې بېلا بېل نظریه لرونکي خلک شته دے ـ چې د ښځې په حقله د هغوي نظریې یؤ شان نۀ دي ـ ځني خلکو ښځو ته ډېره ازادي ورکړې ده اؤ د خپل حقیقي مقام په ځاے ئې د هغوي نه د نمائش اؤ سینګار یؤ شے جوړ کړے دے اؤ د هغوي په اپوټه داسې خلک هم شته، چې وائي، ښځه دې خپل کور کښې ناسته وي اؤ د زده کړې حق هم نۀ لري، ځکه چې دې سره د هغوي عفت اؤ پاکي خرابیږي اؤ ځني خو تر دې حده ښځه سپکه اؤ بې ارزښته ګڼي، چې خپل د وراثت اؤ داسې نور حقونه هم ورله نۀ ورکوي ـ په دې لیکنه کښې دا کوښښ شوے دے، چې د ښځو د اصلي اؤ حقیقي حقونو اؤ د هغوي حد د اسلام له نظره څرګند کړے شي ـ

مسلمانان دا عقیده لري، چې د ټول جهان پیدا کؤنکے رب الله دے ـ هاغه ذات چې باقدرت اؤ د انسانانو د تفکر څخه اؤچت دے ـ هم دا خداے دے چې د خرافاتو، پوچو اؤ بېځایه اعتقاداتو د محوه کولو په غرض ئې د هم دې خپلو بندګانو څخه غوره بندګان (صالح اؤ خېر خواه) د خپل استازي په ډول د رسالت په معنا د وکالت په معنا مقرر کړي دي، چې مونږ هغو ته پېغمبر یا نبي وایو اؤ هر یؤ د الهي استازي په شکل الهي کتاب څخه ګټه اخېستله ــــ لکه تورات، زبور، انجیل اؤ قران ـ دې پیغمبرانو اؤ انبیاؤ د الهي کتابونو څخه د خپل امت د پاره لارې اؤ قوانین درلودل ـ

مونږ د قران عظیم الشان د مقدس کتاب په درلودلو سره د ټولو هغه اسماني کتابونو اؤ صحیفو قبلؤنه کوو، چې په هغه وخت کښې (تر حضرت محمد ﷺ نه مخکښې) موجود وو، خو د شریعتِ محمدي ﷺ په راتللو سره د هغه کتابونو اؤ قوانینو پابند نه یو، ځکه مونږ ته پروردګار عالم جامع اؤ کامل کتاب قران په تحفه کښې راکړے دے اؤ د پخوانو پېغمبرانو حالت اؤ احوال ئې په منظمه اؤ کامله توګه تشریح کړي دي اؤ نور دینونه ئې د فعلاً د پاره بې اعتباره ګرځولي دي ـ ځکه خو مونږ دلته د قران عظیم الشان ارشادات څېړو، څو ؤکړی شو، هر هغه څیز تفاهمات چې د خلکو په ذهنونو کښې ثبت دي، لرې کړی شو اؤ دا ثابته کړو، چې ګناه اؤ د هغې مرتکب انسان دے ــــ الهي قانون نۀ ـ دلته مونږ د ښځې حقوق د اسلام د مقدس دین له نظره څېړو اؤ دا ثابته کولی شو، چې فقط په نړۍ کښې د انسانانو د قانون اؤ برابرۍ محافظ هم دا د اسلام مبارك دین اؤ موجوده د پروردګارِ عالَم کلام دے ـ دا ځکه چې خداے دې دین ته کامل وئیلی دے، لکه چې فرمائي:

ژباړه: مونږ نن ورځ ستاسو لپاره مکمل ؤګرځوۀ دین ستاسو اؤ تمام مو کړل نعمتونه خپل په تاسو باندې اؤغوره مو ؤګرځوۀ ستاسو لپاره دین د اسلام ـ المائدة

دا سُپېځلے ایت هغه اخیرنی لاربښونه ده، چې د ډېرو علماؤ بلکه اکثریت عقیده په دې ده، چې دا اخیرنی ایت دے، چې په حضرت محمد ﷺ باندې نازل شوے دے اؤ پس له دې څخه بیا بل ایت نۀ دے نازل شوے ـ مخکښې له دې چې د دې مبارك ایت په تحلیل اؤ څېړنه پېل ؤکړو، باید ؤوایو اصلي هدف چې د اسلام څخه دے، ؤڅېړو، دا څنګه کلمه ده؟ چا ؤوئېل؟ څنګه منځ ته راغله؟ اؤځۀ معنې لري؟

اسلام: داهغه کلمه ده، چې حضرت ابراهیم علیه السلام دخپل شوق اؤمحبت په توګه وئېلې اؤ پېروانان ئې د اسلام یا مسلمانانو په نوم معرفي کړي دي.لکه چې قران په دې اړه فرمائي:

ژباړه: نۀ ئې دے ګرځولے په تاسو باندې کوم زور اؤ مشقت په دین کښې. تاسو مطابعت وُکړئ د خپل پلار ابراهیم علیه السلام اؤ نوم د اسلام هم دۀ ایښے دے مخکښې.الحج

داسلام معنا: داکلمه هرڅوك پخپل ذهن سره معنا کولې شي. په داسې شرط چې دسلامتی، سالم والي اؤتسلیمیدلو معنا وُلري، ځکه دا لفظ هغه وخت رائج شو، چې د ابراهیم علیه السلام د خلې څخه راؤوتلو.په تائید د دې خبرې ټول ادیان چې د حضرت ابراهیم علیه السلام د زمانې څخه د حضرت محمد ﷺ تر مبعوث کېدلو منځ ته راغلي دي، په هغه شرط چې د خداے ارشاداتو انبیاء علیهم السلام اؤ پېغمبرانو ته ئې د تسلیم غاړه ایښې وي، هم وئېلے کیږي ـــ خو د حضرت محمد ﷺ تر مبعوث کېدو وروسته هغه ټول پخواني ادیان محوه شوه اؤ صرف د حضرت محمد ﷺ دین د اسلام په نوم وُپيژندلے شو.

دلته په هم دې خبرې باندې کفایت کوو، ځکه د خپل اصلي هدف څخه وُځو. د ښځې قوانین په قران کښې څومره حقوق لري اؤ په کومه اندازه کولی شي، په جامعه کښې خپل رول په مثبته اؤ سالمه توګه وُلوبوي. د کار د کولو اؤ د علم د حاصلولو په غرض تر کومو شرائطو لا ندې کولے شي، فاعل شي، دا ځکه مونږ د حد اؤ حدود نوم ذکر کړے، ځکه چې اسلامي جامعه اؤغیراسلامي جامعه یود بله متضاد قوانین لري اؤهېڅکله یوه مسلمانه ښځه د غیر اسلامي جامعې د ښځو نمائندګي نۀ شي کولې. دلته یوه لازمي خبره لرو اؤ هغه دا چې پوهه شو، ښځه څنګه پېدا شوه؟ ولي پیداشوه اؤ څومره حقوق لري؟ دا مبارك ایت راخلو:

ژباړه: هم دغه رب العزت دے چې تاسو ئې پېدا کړي يئ د يؤ انسان څخه اؤ ګرځولې ئې ده (پیدا ئې کړه) د دغه انسان څخه ښځه په خاطر د دې چې د دۀزړۀ ارام اؤ تسکین شي .الأعراف

انشاءالله د پورته سوالونو ځواب په مکمله توګه سره پېدا شي.

تفسیر: کۀ په غور سره دا مبارك ایت تر خپلې څېړنې لاندې وُنیسو، دا به راته معلومه شي، چې د حوا ابی پېدایښت په هرقسم چې وُ، د حضرت ادم بابا علیه السلام په خواهش اؤ د دۀ د سکون د پاره وُشو، ځکه د حضرت ادم علیه السلام وُسیدل په یوازې توګه د دۀ خپل د پاره د قبول وړ نۀ وه. انسان اجتماعي خصلت لري اؤ یوازې والی یوازې دالله د پاره بس دے. بل دا چې خداے اکثره مخلوقات جوړه جوړه پېداکړي دي، چې بیا به په پړې کۀ وخت سمون وُخوړو، بحث وُکړو. ځکه حضرت ادم علیه السلام هم د خپلې جوړې د پاره غوښتنه اؤ دعاګانې کؤلې.کۀ څۀ هم ادم علیه السلام ښځه نۀ وه لیدلې اؤ تصور ئې د ښځې هم نۀ لرلو، خو خداے پخپل کامل علم سره پوهېدۀ، چې د ښځې ضرورت لازمي دے.ځکه د ژوندانۀ رونق هم بې له ښځې سمون نۀ خوري اؤ په اصل کښې د کورونو د ترتیب اؤ هم روښانه ساتلو د پاره يؤ نۀ هېرېدونکے جز دے، نو ځکه ئې دا نفیس اؤ باقدرته انسان غوره کړو، چې په هره زمانه اؤ هر وخت کښې ورته بې حده ضرورت لیدلے کیږي اؤ کۀ مبالغه وُنۀ کړو، باید وُوئیلے شي، چې ژوند بې له ښځې کامل نۀ بلکې نیمګړے دے اؤ هغه هم په تیارو کښې.دا

برتري د ورومبي ځل د پاره خدا ے حوا ابی ته ورکړه . اوس به څنګه سترګې پټې کړو او یا هم ووایو، چې ښځه بې اهمیته ده او یا هم په کورونوکښې د زینت وسیله ده . هغه وخت چې زمونږ پلار ادم علیه السلام بې ارامه او بې قراره و، دا معنا نۀ وه، چې ګو کۀ هغه وږې او تږې وو او یا هم د کور د جنجال او دیګ پخولو له امله په تنګ راغلي وو او یا ئې هم ټوله ورځ جاروب کوۀ، بلکې هدف دلته و، چې د خپل همجنس په نۀ درلودلو سره ئې دکمبود احساس کولو، خبرو کولو او ځواب اخیستلو د پاره ئې همجنس نۀ لرلو، ځکه نو بې ارامه ښکاره کېدلو. په دې خاطر چې په ائنده کښې خوشحال ارام او د ژوند په تېرولو کښې سعادت ور په برخه وي او د نورو موجوداتو په څیر دی هم جوړه ولري او خدا ے ته په زاری و . پروردګار هم د دۀ د خپل وجود څخه د حضرت بي بي حوا پیدا ایښت وکړو.

هر هغه څۀ چې په مشکل او زحمت سره لاس ته راځي، هغه ډېر ګران او با ارزښته وي او هېڅ وخت د هغۀ د ضائع کېدلو طرز نۀ منلے کیږي، خو بل عکس کۀ په ډېره ارزانه او یاهم وړیا توګه کم سوغات او یا هم د ژوند د ضروریاتو اسباب د بنده لاس ته ورسیږي، د هغۀ قیمت او قدر لږ وي. په هم دې وجه خدا ے ددۀ د خپل وجود څخه د دۀ همجنس په داسې وخت کښې پیدا کړه، چې هم د دۀ انتهائي ضرورت و او هم د دۀ د بدن یوه ټوټه وه، چې ضرور د دۀ د محبت سبب شوه او داسې یوه تحفه وه، چې هم د نسل د ډېروالي، هم د خون شریکی او هم د ضرورت جزء لا ینفك و . د خدا ے مقبول ترین بنده سردارِ دو عالم حضرت محمد ﷺ څخه د لورد پیدا ایښت په باره کښې داسې ارشاد دے،

"په هغه کور کښې څلوېښت ورځې نور وریږي، چې هلته لور پیدا شي".

هغه وخت چې رسول اکرمﷺ دحراء د غرۀ په یوه څمڅ کښې په عبادت باندې اخته و، د الله پاك لخوا بندګانو ته په خدمت کولو باندې مامور شو او دا ئې ورته وښودل:

ژباړه: ولوله په نامه د پروردګارخپل، هاغه ذات چې کائنات ئې پیدا کړي دي او پیدا کړے ئې دی انسان د دترلي شوې وینې څخه. ووایه دا چې رب ستا لوي کریم دی، هاغه ذات دی، چې ښونه ئې کړې ده په قلم سره اوښونه ئې کړې ده انسان ته د هغه څۀ چې مخکښې نۀ پوهېدلو. العلق

کله چې کورته راغلو او خپله قیصه ئې بي بي خدیجې ته وکړه، د خدا ے د مهربانۍ او رحمت له امله په هغه ساعت بي بي په محمد ﷺ باندې ایمان راوړلو او د مسلمانې ښځې په نوم مشهوره شوه . دا اولنۍ انسان او ښځه وه، چې په پېغمبرﷺ باندې ئې ایمان راوړو او هغه ئې تصدیق کړو او قبوله ئې کړه چې محمد ﷺ پېغمبر د اخر زمان دے . تر خپل هر څۀ تېره شوه . خپل مور، خور، پلار، قوم، قریه او ټول دوستان ئې تر شا کړل، خود حق وتیلو څخه ئې انکار و نۀ کړو . کۀ څۀ هم دا پخوا تجار پیشه ښځه وه، د مالدارې کورنۍ څخه وه، د ژوندانۀ په هرڅۀ باندې پوهېدله . د هغه وخت د سیاست، ګټې او تاوان سره ښه بلده وه، بیا ئې هم دا هر څۀ د ترازو په یوه تله کښې واچول او د رب العزت په هدایت سره ئې د نبي اخرالزمان حضرت محمدﷺ محبت او صداقت په بله پله د ترازو کښې واچوۀ، مشاهده ئې کړل، په زرګونو جائداد، خپلولي او تجاري سامان په تله د ترازو کښې واچول، بیا هم سپك ووـــ ځکه ئې د خوب تعبیر معنا شو. کلك عزم

اؤ پخه اراده د دي باعث شوه، چې ځان د اسلام په وړومبۍ لیکه کښې حساب کړي، خپل نوم په وړومبي قطار کښې ثبت اؤ جهانیانو ته دا ؤښائي، چې ښځه هم د پوره واك ، اختیار اؤ عقل لرونکې ده . د نر اؤ ښځې تر منځ د عقل اؤ ایمانداری په منځ کښې هم توپیر نشته، خو په بیولوژیکي ساختمان کښې چې کوم نیمګړتیاوي بلکې بدلونونه لیدلي کیږي، هغه د خدای کار دی نۀ د عقل کموت . په هم دې منظور کۀ چرې بي بي خدیجې د رسول کریمﷺ پیغمبري نۀ وه منلې، ایا دا کور اؤ کهول د پیغمبر به څه رنګه وو؟ په داسې حال کښې چې حضرت محمدﷺ د پاره د کور نه د باندي هم ځای کافرانو نۀ ؤ پرېښے اؤ خدای نخواسته په کور کښې هم بي بي ورسره شخړې کولې، دا ژوند به څنګه تېرېدلو؟ مونږ په دې باره کښې ډېر ښۀ ضرب المثل لرو، چې:

"د بهر غم به په کور کښې حل کړو، خو د کور غم به چرته یؤسو؟" کۀ دې خبرې ته په کلکه مونږ متوجه شو، حتماً نتیجه اخلو، ښځه هم ذهن لري اؤ کۀ د تعلیم اؤ تربیې څخه لرې ؤساتلې شي، د کور څۀ چې د جامعي خرابۍ هم منځ ته راتللې شي . د بي بي خدیجې حال اؤ احوال کۀ په دقیقه توګه ترمطالعې لا ندې ؤنیولے شي، حتماً دا ثابته کیږي، چې ښځې ته باید په سپکه سترګه ؤ نۀ کتلے شي اؤ نۀ هم باید په څلورو دېوالونو کښې محدودې شي . د ښځې حقوق د تعلیم اؤ تربیې په لاره کښې د نارینه سره بلکل مساوي دے . نن ورځ چې د جهان علمي نظریات ورځ په ورځ مخ په لوړه ځي، د ښځې د پوهې ضرورت هم لازمي عنصر ګڼلے کیږي ـــ دا چې څۀ رنګه؟ په کوم حالت اؤ چرې باید د ښځو د پاره مدرسې جوړې شي؟ څنګه باید درس ؤوائي؟ کوم شرائط باید ورته مساعد شي؟ دا هغه خبرې دي، چې د وخت واکمن باید پرې خبرې ؤکړي اؤغور ؤکړي . ځکه د تعلیم اؤ تربیې د پاره سهولیات د حکومت اؤ واکمن لخوا باید سرته ؤرسیږي، نۀ د یؤ محکوم اؤ بې تدبیره اشخاصو لخوا، ځکه د علم اؤمعرفت چشمې کېدی شي، په خاؤرو اؤ خټو کښې لاهو شي . مونږ د دې بحث وړومبۍ برخه په هم دې څو کلیمو کښې لنډولی شو . د ډېرې سرګردانۍ اؤ یا هم د خبرو اؤریدلو څخه په لنډو الفاظو کښې مهم ټکي تشریح کوو.

اول: د حوا ابۍ موجودیت اؤ پیدا کېدل د رب العزت په واسطه د حضرت ادم علیه السلام په درخواست سره دا معنا لري، چې بې له ښځې د انسان ژوند مکمل نۀ دی . اول خو بې له ښځې د بشر د نسل ډېرېدل امکان نۀ لري (کۀ خدا ے ؤ نۀ غواړي) .

دوېم: دا چې د افهام اؤ تفهیم لاره بلکل بندیږي . انسان خپل ژوند په خوشحالۍ سره نۀ شي انجام ته رسولی اؤ اخره جمله خو لا دا ده، چې انکار نۀ شو ترې کولی، هغه مخلوق چې رب العزت پخپله خدایۍ سره پیدا کړي اؤ هغه د نارینه د پاره بهتر ؤګرځوي، ایا دا د کفر اؤ ناشکرۍ ځای نۀ دے، چې انسان هغه د نظر څخه لرې ؤګرځوي اؤ یا هم هغې ته په سپکه سترګه ؤګوري؟

دریم: د حضرت موسیٰ علیه السلام د پېدا ینښت اؤ د هغۀ د ژوندي ساتلو باعث اؤ کارمند د زمکې په مخ د دۀ مور نۀ وه؟ کۀ چرې د رب العزت نظر د ښځې څخه لرې ؤ، اول به ئې نۀ پېدا کوله اؤ دوېم به ئې هغې ته تدبیرونه نۀ ښودل اؤ د زمکې په مخ به ئې د یؤ باقدرته انسان په حېث نۀ معرفي کوله . په هم دې تائید باید ؤوایو، هم دا ښځه وه، چې په تدبیرِ الهي سره ئې موسیٰ علیه

ISSN201301

السلام ته نجات ورکړو اؤ بیا ئې د خپل دښمن په کور کښې د دښمن ښځې پخپل تدبیر اؤ اسرار سره ؤروزي . اوس نو مونږ دلته د دې دوؤ ښځو اهمیت اؤ موجودیت څنګه له نظره ؤباسو اؤ کۀ ئې په ساده نظر سره ؤګورو، ایا د خداے د بندګانو سپکاوی نۀ دے؟

**څلورم** : د حضرت عیسیٰ علیه السلام د مور بي بي مریم پېدایښت، د هغې روزنه اؤ بیا هغې ته دومره لوي مقام ورکول، چې خداے په قران کښې د هغې صفت تشریح کړی، د نظر څخه ویستلے شو؟ بیا هم کۀ خداے خپله مهرباني د بي بي مریم څخه کمه کړې وه، نو حضرت عیسیٰ علیه السلام به څنګه پېداکېدلو؟ کۀ څۀ هم د هرکُن فَیَکُوْنٌ سره هرهغه څۀ چې د پروردګار اراده وي، سر ته رسیږي، خو تدبیر ئې د پروردګار سره مخکښې شوی وي.مونږ دلته د زمکې په مخ د یؤ انسان د موجودیت اؤ د هغۀ د احترام په باره کښې بحث کوو، نۀ چې د خالق العالمین په خدایۍ کښې.

د بي بي مریم نقش اؤ د هغې احترام په وړکتوب کښې حضرت عیسیٰ علیه السلام پخپله ژبه بیان کولو .ایا مونږ ته پکار ده چې د خالق العالمین په مخلوقاتو باندې د پرمختګ، ترقۍ اؤ تعلیمي زدکړو د لارو چارو په برابرؤلو کښې سترګې پټې کړو؟

**پنځم**: د حضرت سلیمان علیه السلام د پاخۀ تدبیر په مقابل کښې د بي بي بلقیس ځواب ستاسو په نظر یؤ ساده کارښکاري؟ داسې نۀ ده . مونږ ؤوئېل، ټولو تکړه پالوانانو اؤ وزیرانو ورته ؤوئېل، چې مونږ څو، د هغۀ سره جنګ کوو. ولې د دې د عقل فراست باعث شو، چې خپل ملك اؤ قوم د بدبختۍ څخه ؤساتي، ځکه جنګ هېڅکله ابادي منځ ته نۀ راوړي اؤ نۀ هم په جنګ کښې حلوا تقسیمیږي . نۀ دا چې خپل ملك ئې ؤساتۀ، بلکې د خپل ملك په وسعت کښې ئې هم ځلانده رول ؤلوبوۀ . په هغه جنګ کښې چې باخت حتمي وي، د بري لپاره لاره د هرانسان په ذهن کښې نقش نۀ شي لوبؤلے .

**شپږم**: د حضرت محمد ﷺ تر بعثت مخکښې تجارت، صنعت اؤ سیاسي مسائل په ډېره چټکۍ سره مخ ته تلل اؤ خلک په پوره پوهۍ اؤ دانایۍ سمبال وۀ . حضرت بي بي خدیجه چې د یوې شتمنې اؤ بډایې کورنۍ څخه پخپل عقل اؤ کمال رسېدلې ښځه وه، د خپل عقل اؤ منطق په لرلو سره ئې حضرت محمد ﷺ د خپل تجارت نمائنده ؤټاکلو. کۀ څۀ هم دی په دې وخت کښې په پېغمبرۍ نۀ مبعوث شوی نۀ ؤ . ولې د یؤ امانت ساتونکي په نوم مشهور ؤ اؤ بیا ئې د وخت په تېرېدلو سره د خپل محرم په حیث انتخاب کړلو اؤ وروستو ئې بیا د اخر الزمان پېغمبر په حېث قبول کړو . کۀ چرې په هغې کښې عقل، بینائي اؤ فراست نۀ ؤ، د ائنده د پاره خپله دنیا اؤ دولت غورځول، بیا مېړۀ کول اؤ بیا د هغۀ سره ټول زحمتونه ګالل اؤ په هغۀ ایمان راوړل د یؤ عادي انسان په حقله مثبت ثابت کېدلی شي؟ واضحه خبره ده، چې نه . دا ډول تدبیرونه د یؤ سالم اؤ هوښیار انسان په واسطه کېدی شي. هر څوك په هر زمان کښې د داسې تدبیرونو پوره لیاقت نۀ لري، ځکه مونږ پروفېسران، عالمان اؤ ډېر دانشمندان لیدلي دي اؤ وینو ئې، چې د عقل د کموت له امله درست اؤ ثابت پلانونه نۀ لري، بلکې د یؤ ماشوم په ډول عمل اجراء کوي .

(کۀژوند ؤ، روانه ګڼه کښې به د قران په رڼا کښې د ښځو د میرات په اړه خبره ؤکړو)

# عبدالولي خان
# یؤ سیاسي پارلېماني لیډر

شمس بټګرام

د برصغیر په خاوره د سیاست په لړ کښې په سلګونو نومونه دومره روښانه دي، چې په نړیوال کچ د هغوي پېژندګلو ډېر درناوي او مینې سره کیږي. د دغه نومونو او نامتو سیاست مدارانو د نومونو یؤ اوږد لړلیک مونږ د بېلګې په توګه وړاندې کولے شو. په دغه ټولو نومونو کښې د خداے بخښلي خان بابا (چې نړۍ ئې د خان عبدالولي خان په نامه پېژني)، نوم داسې دے، چې د هغۀ خاوره کښې سپېڅلے سیاست اغزلے شوے ؤ. د پارلېماني جمهوري سیاست په نړیوال تاریخ کښې د هغوي نوم د سر نومونو کښې دے.
خان بابا کۀ هر څو د کوچنیوالي نه د خدائي خدمتګار خوځښت کښې د خپل پلار فخرِ افغان حضرت باچاخان باباؒ سره اوږه په اوږه د خپلې خاورې او خپل اولس خدمت کښې برخه اخستله، ولې د وخت تېرېدلو سره هغۀ دغه سپېڅلي ښوونځي کښې د پښتون قام سترو او سرلوړو لارښودانو نه سیاسي پوهه هم زده کوله. د هند د وېش نه وروستو هر څو کۀ په کال 1948ء کښې د دې ملک سیاسي قوتونو د یؤ جمهوري نظام د رغون تنده محسوس کړې وه، ولې بیا هم د وراثتي واکمنۍ لاره او غېرجمهوري قوتونو غر د دغه تندې لاره کښې ولاړ ؤ. د 1948ء نه اتۀ کلونو وروستو پورې دغه هڅې رواني وې، تر دې چې په لویدیز پاکستان کښې څو سیاسي ګوندونو او جوړښتونو د نېشنل پارټي آف پاکستان تاده کېښوده. دې ګوند کښې پښتونخوا نه د حضرت باچاخان باباؒ مشرۍ کښې "خدائي خدمتګار"، د بلوچستان نه د شهید عبدالصمد خان اڅکزي باباؒ مشرۍ کښې "ورور پښتون" او شهزاده عبدالکریم مشرۍ کښې "اتمان ګل"، د سنده نه د جي ایم سید مشرۍ کښې "سنده عوامي محاذ" او د حېدر بخش جتوئي مشرۍ کښې "سنده هاري کمیټي" او د پنجاب نه د میا افتخارالدین مشرۍ کښې "ازاد پاکستان پارټي" ګډون وکړو.
یؤ کال وروستو چې د نمرختیز پاکستان نه د مولانا عبدالحمید بهاشاني مشرۍ کښې "عوامي لیګ" او "ګوناونتري دل" ګډون وکړو، نو دې ځانګړو ټولو سیاسي ډلو ته یؤ نوم "پاکستان نېشنل عوامي پارټي" ورکړے شو او مولانا بهاشاني د دې ګوند ورومبے سرمشر وټاکلے شو.
د مولانا بهاشاني مشرۍ کښې د دغه ګوند پرمختګ کښې د خان بابا د ځیرکتیا ډېره لویه او لوړه برخه وه. د خان بابا په وېنا دې ګوند د پوځي واکمنۍ وړاندې څلور خبرې کېښودې:

الف) د دې ګوند غړیتوب به د ملک هر وګړے کولے شي، هغه کۀ د هرې سیمې، مذهب، ذات او پېښې سره تړون لري.

ب) د ون یونټ د ختمولو او د صوبو پخوانے ځانګړے حېثیت په ځاے کولو.

ج) ازاده خارجه پالیسي او دغسې د "سیټو" او "سینټو" نه د وتلو غوښتنه.

د) د قومي دولت او پنګې په مساواتو وېش.

د دغه څلورو غوښتنو رڼا کښې دې ګوند د زمکې د ملکیت کم نه کم حد ټاکلو د پاره زیار وکړو او یا هغه وخت ؤ، چې غریب به د خان کوټه کښې ناست ؤ او اوس کۀ بې کوره ځان له د کور د پاره زمکه اخستلې شي، نو دا د خان بابا د غوښتنې مېوه ده.

د دې ګوند پرمختګ د اسټېبلشمنټ سترګو کښې ازغي شو اؤ يؤ خوا کۀ دغه ګوند کښې چوډي کولو د پاره زوروونه وکړل، نو بلخوا فيلډمارشل ايوب خان هم د زور لاره خپله کړه.



دغه ترمو شپو ورځو کښې دغه ګوند دوه برخې شو . يوه برخه د مولانا بهاشاني سره لاړله اؤ بلې برخې په شريکه خان بابا خپل مشر وټاکلو. ياده دې وي، چې دې ګوند کښې ګډون کوونکو زياتو مشرانو خان بابا خپل مشر وټاکلو . د خان بابا په زيار اؤ هلوځلو د ملک ټول سياسي ګوندونه د "قومي جمهوري محاذ" (NDF) د سيوري لاندې يؤ ځاے کړل . د دغه جمهوري محاذ تر فشار لاندې فيلډمارشل دومره مات شو ، چې کال 1965ء کښې د ټولو سياسي ګوندونو يؤ ګول مېز کانفرنس راؤبللو . په جمهوريت اؤ اولسواکۍ مئېن ګوندونه دغه کانفرنس ته راغلل اؤ فيلډ مارشل د يؤ غېرجمهوري ائين لاندې د صدارتي انتخاباتو اعلان وکړو. د هغه وخت په سياست کښې ځلېدلے نوم د ذوالفقار علي بوټو و ، چا چې خپلې سياسي هلې ځلې دغه وخت پورې ډېرې تُوندې کړې وې، هغۀ په دغه کانفرانس کښې د ګډون نه څنډه وکړه . خان بابا د غېرجمهوري ائين لاندې د صدارتي ټاکنو په ځاے د ائين سازې اسمبلۍ د ټاکنو غوښتنه وکړه . قومي جمهوري محاذ دې غوښتنه کښې د خان بابا سره يؤ غږ شو اؤ دغسې خان بابا د پاکستان پارلېماني تاريخ کښې يؤ ځلند رول وُلوبولو . له بده مرغه ايوب خان د اقتدار واګې سياسي ګوندونو ته د سپارلو په ځاے د جنرل يحیٰ خان د مارشل لاء په لاس کښې ورکړې، خو د يحیٰ خان له خوا د بالغ راي دهۍ ورکولو په بنسټ د ائين ساز اسمبلۍ د پاره د ټاکنو اعلان وکړو. دې سره پاکستان کښې د پارلېماني نظام راوستلو اؤ ون يونټ د ماتولو فېصلې د خان عبدالولي خان بابا د جمهوري مبارزې ګټې وې .

کله چې د نولسوه اويايم د ټاکنو نه وروستو يؤ ځل بيا ګډوډے منځ ته راغلو . نو خان بابا يؤ ځل بيا د جمهوريت مرستې د پاره وډرېدلو . جنرل يحیٰ خان د اولس د پرېکړې منلو نه مخ واړولو اؤ تر دې درکې ورکړې شوې، چې کۀ څوک ډهاکې ته تلل، نو پښې به ئې ماتې کړې شي . خان بابا دغه درکې د پښو لاندې کړې اؤ د هغۀ مشرۍ کښې مولانا مفتي محمود، مولانا شاه احمد نوراني، پروفېسر غفور احمد اؤ ميا ممتاز محمد خان دولتانه ډهاکې ته قومي اسمبلۍ کښې ټولو نه زيات اکثريت اخستونکي سياسي مشر شېخ مجيب الرحمان سره ملاقات له لاړلو چې څۀ منځنۍ لاره وُباسي . خان بابا ډهاکه کښې دې نه خبر شو، چې پوځي لاسونه د جمهوريت لاره نيولو ته غځېدلي دي . دغه سياسي انا پرستۍ پاکستان دوه ځاے کړو اؤ تاريخ د مملکتِ خداداد په خاوره د هغه بنګاليانو وينه په توئېدلو ولِيده، کومو چې د پاکستان تر لاسه کولو د پاره هر چا نه زيات زيار کړے اؤ زياتې قربانۍ ورکړې وې . مغربي پاکستان بنګله دېش شو اؤ مشرقي پاکستان يؤ داسې سياسي کردار ته وسپارلے شو، چې هغه د سويلين پېژندګلو



لرلو پرته چیف مارشل لاء اېډمنسټرېټر شو ـ خان بابا د هغهٔ خلاف هم د بغاوت غږ پورته کړو اؤ هغه ئې د قامي اسمبلۍ رابللو اؤ ملک کښې د عبوري ائين ترتيب کولو د پاره مجبوره کړو. دغه وخت خان بابا قائد حزب اختلاف ؤ. بوټو دې ته غاړه کېښودله، چې عبوري ائين ترتيب کړي، خو خان بابا ؤوې، چې عبوري ائين به منتخبه اسمبلي ترتيبوي اؤ په دې غږ خان بابا سره ټول سياسي ګوندونه اؤ ميډيا ملګري شول ـ د اسلامي نظرياتي کونسل په نوم يوه داسې کمېټي روغه کړې شوه، چې د ائين په روغولو کښې بنسټيز اؤ اغېزمن رول ؤلوبوي ـ

کله چې د بوټو جمهوري حکومت آمرانه خويونه خپل کړل اؤ د صوبو حقونه اؤ په ځانګړې توګه د پښتونخوا اؤ بلوچستان حقونه غصب کېدلو ته ئې تُوره تېره کړه، نو خان بابا يؤ ځل بيا خپله مبارزه پېل کړه ـ دغه په نوم جمهوري حکومت کښې خان بابا د قېد و بند ازمېښتونو ؤزېبخلو، خو د خپلې خبرې نه په شا نهٔ شولو ـ د جېل نه بهر د خان بابا تحريک مخ په وړاندې لاړلو اؤ بيا د دغه آمرانه جمهوريت سر ته رسېدلو باندې يؤ ځل بيا د مارشل لاء توري بلا ملک خپل کُومې کښې ؤنيولو. خان بابا ته د وزيراعظمۍ وړانديز ؤکړے شو، خو خان بابا ؤوې، چې زهٔ به دغه څوکۍ ته غاړه کېږدم، خو ورسره به د عامو انتخاباتو اعلان کؤم ـ د خان بابا دا ځواب چې کله د جنرال فضل حق

په خلهٔ د جنرال ضياء الحق غوږونو ته ورسېدلو، نو هغهٔ انکار ؤکړو، ځکه چې ضياء الحق خو د خان بابا د وزيراعظمۍ په لاره خپل امريت باندې ردې ايښودلې ـ

د وزيراعظمۍ د وړانديز د پاره چې کهٔ د خان بابا دغه ځواب ته ځير شو، نو پوهه به شو، چې خان بابا د دې ملک د ټولو نه لويه انتظامي کرسۍ باندې اصولو اؤ جمهوريت ته ترجيح ورکړه ـ

د دغې مارشل لاء په ضد خان بابا يؤ ځل بيا د بغاوت بېرغ پورته کړو اؤ خبره ئې دې له راوسته، چې ضياء الحق د عامو انتخاباتو اعلان په کال نولسوه پنځهٔ اتيايم کښې ؤکړو ـ خان بابا پخپله دغه ووټونو کښې برخه وا نهٔ خستله، ځکه چې دغه ووټونه په غېرسياسي بنيادونو کېدل اؤ خان بابا دغه يؤ غېر جمهوري اقدام ګڼلو ـ




د عملي سياست نه لاس اخستلو پورې کهٔ مونږ د خان بابا سياسي ژوند ؤګورو، نو هغه يوه نهٔ ستړې کېدونکې مبارزه ده، چې د جمهوريت اؤ پارلېمان د سرلوړۍ د پاره شوې ده. د ضياء الحق نه وروستو کهٔ مونږ د خدائے بخښلې بېنظيربوټو دوه دورونه اؤ د ميا نوازشريف دوه دورونه ؤګورو اؤ څهٔ مُوده پکښې د متحده مجلس عمل هم ياد کړو، نو ښکاره به ؤوينو، چې خان بابا ټول ژوند کښې هره خبره د جمهوريت د پاره کړې ده اؤ هر ګام ئې د جمهوريت د پاره اخستے دے ـ ميا

نوازشریف چې نولسوه شپږ نوي کښې د پارلېماني تاریخ د ټولو نه زیات مېنډېټ تر لاسه کړو اؤ ولي باغ ته د خان بابا سره صلا کولو له لاړلو ، نو خان بابا ورته ؤوې، چې

"پښتونخوا کښې خپل حکومت روغ کړه، مونږ به دې مرسته ؤکړو ، خو سندهـ کښې د پیپلز پارټۍ اکثریت دے، هغوي حکومت روغولو ته پرېږده!"

دې نه ښکاره کیږي، چې خان بابا څومره جمهوري فکر لرلو. میا نواز شریف هغه وخت د خپل دروند مېنډېټ خمار خود نه ویستلے ؤ اؤ د خان بابا دغه خبره ئې په دوېم غوږ ؤویسته، خو اوس به هم چې هغه ځان سره یوازې کښېني، نو د خان بابا خبره پسې به لاسونه مږوړي .

نن د پاکستان د هرې برخې، هرې ژبې اؤ هر سیاسي ګوند سره تړون لرونکي دې خبرې نه مخ اړولے نۀ شي، چې پاکستان کښې د پارلېماني سیاست بنسټ ایښودلو ، د ائین تاده ایښودلو اؤ د جمهوري پاکستان پېژندګلو کولو د پاره چې څومره زیار خان بابا کړے دے، دومره هغه چا هم نۀ دے کړے، څوک چې دغه لاپې د خپل سیاسي ژوند پنګه ګرځوي .

نن کۀ خان بابا مونږ کښې نشته، خو د هغوي پوهه، د هغوي تدبر اؤ د هغوي جمهوري ښونه مونږ ته په سیاسي لاره کښې بل مشال دے اؤ مونږ به د دغې مشال په رڼا کښې د خپلې خاؤرې، خپل اولس اؤ قام د سوکالۍ اؤ خوشالۍ د مرام په لور تګ کوو اؤ دا عقیده اؤ باور به ساتو ، چې نیتونه مو نېغ وي، نو لاره کښې به نۀ تېروځو .

اے په دې لېلا وطن مئېن لکه مجنون ولي!
ننګ ولي! غېرت ولي! پښتو ولي! پښتون ولي!
(اکمل لېونے)

# ریښتیا ریښتیا دي

جمال شاه یوسفزے

د اروانښاد عبدالولي خان کتاب "ریښتیا ریښتیا دي" اوس د پاکستان سیاسي مفروضو اؤ سیاسي حادثو د پاره د یوې استعارې په توګه پکارولے کیږي . دغه کتاب کښې اروانښاد د پاکستان د تاریخ ټول سفر د پیرنګي واکمن د سرکاري لیکونو اؤ کاغذونو نه په راخستې شوؤ داسې حوالو اؤ ضمیمو اډانه لیکلے دے، چې د ثبوت اؤ دلیل منونکي تړې د انکار جواز نۀ مومي .

د اروانښاد عبدالولي خان هاغه خبرې به نن هم د ترهګرۍ د اور محسوس کؤنکو پاکستانیانو فکر اؤ پوهې لره پېغورونه ورکوي، چا ته چې به هغۀ وئېل، "ګاونډي کره د بل شوي اور لمبې به دېخوا هم راشي ــ تاسو د پاکستان نه د بارودو ډېرۍ روغه کړه اؤ سبا به دا اور واخلي اؤ پوهېږئ به نۀ، چې دِ کوم ځاے نه ؤشو ــ پاکستان نرۍ د پاره د ترهګرۍ مخ ګرځولو نه ځنډه ؤکړئ".

د اروانښاد دغه خبرې نن هر چا ؤمنلې، خو له بده مرغه، د خپلو سیاسي اناګانو غلامان نن هم د دې ریښتیاؤ نه مخ اړوي اؤ په تېر وخت کښې خپلو کړو ناوړه کارونو باندې د پښېمانۍ په ځاے ځان له د جوازونو پرتوګونه ګنډي . دغه سیاسي فکر لرونکي باید یوه خبره هېره نۀ کړي، چې

د شپو تیارو باندې ډېر ناز مۀ کوئ!
د یؤ ریښتوني نمر ښکالو ته غوږ شئ!
د شب پرستو ژوند کۀ ډېر اوږد شي
خو بس، د نمر د راختلو پورې
سحر به ستاسو تور مخونه راڅرګند کړي یؤ ځل
ستاسو فکرونه، عقیدې نظریې
چې د تیارې دي، نو فنا ئې واخلئ!




## چې فسادیان ځانونه مورداروي، نو زۀ شهادت نه ولې په شا شم؟

نه مړه! دوي خو ملنډه راخستې ده.

زۀ ورته وېم، علم حاصلول په هر مسلمان فرض دے، دې را له ځواب کښې سکولونه ورانوي ـــــ

زۀ ورته وېم، جوماتونه اؤ حجرې د معاشرې سُتنې وي، دې پکښې بمونه خلاصوي، پښتانۀ وژني، قرانونه اؤ سيپارې سُوزوي ـــــ

زۀ ورته وېم، رسول اللهﷺ په جنګ کښې د ښځو، ماشومانو، سپين ږيرو، جنګ نۀ کؤنکو، ځاروؤ اؤ فصلونو لپاره نقصان نه منعې فرمائيلې ده. دا را ته په جار د رسول اللهﷺ د حديث مخالفت کوي اؤ ځان ته مسلمان هم وائي ـــــ

زۀ ورته وېم، دا جنازه خداے ته جرګه ده، چې زمونږ دا مړے ؤبخښي، دا راځي اؤ زمونږ اؤ د خداے په جرګه کښې ځان ډزوي ـــــ

زۀ ورته وېم، بې د څۀ جواز نه د انسان وژل فساد دے، دا ما وژني اؤ زما وطن د جهاد په مقدس نوم ورانوي ـــــ

زۀ ورته وېم، را شه! کۀ څۀ ګيله دې وي، چې جرګه شو خپلو کښې، دا ما سره د ټوپک په شپېلۍ خبرې کوي ـــــ

نه مړه! دوي خو ملنډه راخستې ده.

وطن ئې را له ټول وران کړو اؤ هغه هم د هاغه مذهب په نوم، کوم مذهب چې دې ټولې سيمې ته ما ښودلے دے اؤ زما نه زيات پرې څوک هم عمل نۀ کوي. نن د دۀ له مخه زما په باچاخان هوائي ډګر حمله کيږي اؤ د شېطان عبادت کؤنکي ورته راځي د دۀ په جامه کښې اؤ دنيا زما قام پسې خاندي. نن د دۀ د خرتوب په وجه زما د جرګې مشران اؤ زما د مستقل شُنه شونډه ځوانان وژلې کيږي اؤ د دۀ په خوَا کښې د ټوپک اؤ خوَراک ګاډي تېريږي، دا ئې مخه نۀ نيسي.

دا د الله بنده نۀ دے، د شېطان غلام دے ـــــ

دا مسلمان نۀ دے، کافر دے ـــــ

دا مجاهد نۀ دے، د فساد ديا‌ړيمار دے ـــــ

دا پښتون نۀ دے، ځناور دے ـــــ

دا طالبان نۀ دے، د فتنې نشان دے ـــــ

دا انسان نۀ دے، هاغه وحشي دے، چې نۀ الله پېژني اؤ نۀ حضرت محمدﷺ ـــــ نۀ قران پېژني اؤ نۀ حديث ـــــ نۀ اسلام پېژني اؤ نۀ بل مذهب •

دا انسانان وژونکے مشين دے، چې مينه نۀ پېژني، ژوند نۀ پېژني، جذبې نۀ پېژني، اوښکې نۀ پېژني اؤ انسانيت نۀ پېژني.

هغه په جار د الله اؤ د حضرت محمدﷺ وېنا نه مخ اړوي اؤ د انسانانو وژنې ته د يؤ مقدس جهاد نوم ورکوي.

نه! نه! نه!

د الله، حضرت محمدﷺ، قران اؤ حديث خلاف ژوند کؤنکي اؤ انسان وژونکي مسلمانان نۀ دي.

کۀ فساديان ځانونه مُورداروي، نو زۀ شهادت نه ولې په شا شم......

زما قام لپاره زما هر لفظ اؤ هر ګام جهاد اؤ مرګ شهادت دے.

ISSN201301





په جنازه کښې مې ولاړ قاتل ته زړهٔ ؤوئیل "چې ته ئې ؤوژنې، هغه دومره ژوندے څنګه شي؟
چې د ګلونو کر کوې څوک د خزان موسم کښې د هغوې ژوند د پښتانهٔ وطن سپرلے څنګه شي؟"
د هغهٔ سر کښې د هغهٔ د امامت وېره ده
د هغهٔ زړهٔ کښې د شهید د بغاوت وېره ده














تولټاکنې Election انتخابات
په هره ژبه کښې سم
خو دې سوچ سره نهٔ




ترهګري اؤ
امنيتي اداري
نهٔمی دانم؟

HAMNA PUBLICATIONS

| | | | |
|---|---|---|---|
| گل | 14 | جنوري | ربیع الاول |
| نهه | 12 | فروري | ربیع الثاني |
| زیارت | 14 | مارچ | جمادی الاول |
| جمعه | 12 | اپرېل | جمادی الثاني |
| اتبار | 12 | مئي | رجب |
| گل | 10 | جون | شعبان |
| شورو | 10 | جولائي | رمضان |
| زیارت | 08 | اگست | شوال |
| خالي | 07 | ستمبر | ذوالقعدة |
| اتبار | 06 | اکتوبر | ذوالحجة |
| نهه | 05 | نومبر | محرم |
| زیارت | 05 | دسمبر | صفر |




# 2013

1434 - 1435

MONTHLY
WYAARH
ASHNAGHAR
میاشتنۍ اشنغر
وياړ
چیف ایډیټر
معظم جان معظم

03009339128
03118862384

## جنوري

| خالي | اتبار | گل | نهه | شورو | زیارت | جمعه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | 1 | 2 | 3 | 4 |
| 5 | 6 | 7 | 8 | 9 | 10 | 11 |
| 12 | 13 | 14 | 15 | 16 | 17 | 18 |
| 19 | 20 | 21 | 22 | 23 | 24 | 25 |
| 26 | 27 | 28 | 29 | 30 | 31 | |

## فروري

| خالي | اتبار | گل | نهه | شورو | زیارت | جمعه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | 1 |
| 2 | 3 | 4 | 5 | 6 | 7 | 8 |
| 9 | 10 | 11 | 12 | 13 | 14 | 15 |
| 16 | 17 | 18 | 19 | 20 | 21 | 22 |
| 23 | 24 | 25 | 26 | 27 | 28 | |

## مارچ

| خالي | اتبار | گل | نهه | شورو | زیارت | جمعه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | 1 |
| 2 | 3 | 4 | 5 | 6 | 7 | 8 |
| 9 | 10 | 11 | 12 | 13 | 14 | 15 |
| 16 | 17 | 18 | 19 | 20 | 21 | 22 |
| 23 | 24 | 25 | 26 | 27 | 28 | 29 |
| 30 | 31 | | | | | |

## اپرېل

| خالي | اتبار | گل | نهه | شورو | زیارت | جمعه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 |
| 6 | 7 | 8 | 9 | 10 | 11 | 12 |
| 13 | 14 | 15 | 16 | 17 | 18 | 19 |
| 20 | 21 | 22 | 23 | 24 | 25 | 26 |
| 27 | 28 | 29 | 30 | | | |

## مئي

| خالي | اتبار | گل | نهه | شورو | زیارت | جمعه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | 1 | 2 | 3 |
| 4 | 5 | 6 | 7 | 8 | 9 | 10 |
| 11 | 12 | 13 | 14 | 15 | 16 | 17 |
| 18 | 19 | 20 | 21 | 22 | 23 | 24 |
| 25 | 26 | 27 | 28 | 29 | 30 | 31 |

## جون

| خالي | اتبار | گل | نهه | شورو | زیارت | جمعه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | 2 | 3 | 4 | 5 | 6 | 7 |
| 8 | 9 | 10 | 11 | 12 | 13 | 14 |
| 15 | 16 | 17 | 18 | 19 | 20 | 21 |
| 22 | 23 | 24 | 25 | 26 | 27 | 28 |
| 29 | 30 | | | | | |

## جولائي

| خالي | اتبار | گل | نهه | شورو | زیارت | جمعه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 |
| 6 | 7 | 8 | 9 | 10 | 11 | 12 |
| 13 | 14 | 15 | 16 | 17 | 18 | 19 |
| 20 | 21 | 22 | 23 | 24 | 25 | 26 |
| 27 | 28 | 29 | 30 | 31 | | |

## اگست

| خالي | اتبار | گل | نهه | شورو | زیارت | جمعه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | 1 | 2 |
| 3 | 4 | 5 | 6 | 7 | 8 | 9 |
| 10 | 11 | 12 | 13 | 14 | 15 | 16 |
| 17 | 18 | 19 | 20 | 21 | 22 | 23 |
| 24 | 25 | 26 | 27 | 28 | 29 | 30 |
| 31 | | | | | | |

## ستمبر

| خالي | اتبار | گل | نهه | شورو | زیارت | جمعه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 | 6 |
| 7 | 8 | 9 | 10 | 11 | 12 | 13 |
| 14 | 15 | 16 | 17 | 18 | 19 | 20 |
| 21 | 22 | 23 | 24 | 25 | 26 | 27 |
| 28 | 29 | 30 | | | | |

## اکتوبر

| خالي | اتبار | گل | نهه | شورو | زیارت | جمعه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | 1 | 2 | 3 | 4 |
| 5 | 6 | 7 | 8 | 9 | 10 | 11 |
| 12 | 13 | 14 | 15 | 16 | 17 | 18 |
| 19 | 20 | 21 | 22 | 23 | 24 | 25 |
| 26 | 27 | 28 | 29 | 30 | 31 | |

## نومبر

| خالي | اتبار | گل | نهه | شورو | زیارت | جمعه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | 1 |
| 2 | 3 | 4 | 5 | 6 | 7 | 8 |
| 9 | 10 | 11 | 12 | 13 | 14 | 15 |
| 16 | 17 | 18 | 19 | 20 | 21 | 22 |
| 23 | 24 | 25 | 26 | 27 | 28 | 29 |
| 30 | | | | | | |

## دسمبر

| خالي | اتبار | گل | نهه | شورو | زیارت | جمعه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 | 6 |
| 7 | 8 | 9 | 10 | 11 | 12 | 13 |
| 14 | 15 | 16 | 17 | 18 | 19 | 20 |
| 21 | 22 | 23 | 24 | 25 | 26 | 27 |
| 28 | 29 | 30 | 31 | | | |

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ لَا تَسْفِكُونَ دِمَآءَكُمْ وَلَا تُخْرِجُونَ أَنْفُسَكُمْ مِنْ
دِيَارِكُمْ ثُمَّ أَقْرَرْتُمْ وَأَنْتُمْ تَشْهَدُونَ ۝ ثُمَّ أَنْتُمْ هٰؤُلَآءِ تَقْتُلُونَ أَنْفُسَكُمْ
وَتُخْرِجُونَ فَرِيقًا مِنْكُمْ مِنْ دِيَارِهِمْ تَظَاهَرُونَ عَلَيْهِمْ بِالْإِثْمِ
وَالْعُدْوَانِ ط وَإِنْ يَأْتُوكُمْ أُسٰرَىٰ تُفَادُوهُمْ وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْكُمْ إِخْرَاجُهُمْ ط
أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ ط فَمَا جَزَآءُ مَنْ يَفْعَلُ
ذٰلِكَ مِنْكُمْ إِلَّا خِزْيٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ج
وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يُرَدُّونَ إِلَىٰ أَشَدِّ الْعَذَابِ ۝ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ۝ البقرة،85-84

اؤ یادکړئ کله چې مونږ تاسو نه پوخ لوظ واخستلو، چې د یؤ بل وینې به نهٔ تویوئ اؤ نهٔ به (په زور زیاتي) یؤ بل د کورونو نه وُباسئ، نو تاسو د دې لوظ پخلاوے وُکړو اؤ په ځان ګواه یئ . بیا (د دې لوظ د پاسه هم) تاسو یؤ بل وژنئ اؤ ستاسو نه یوه ډله د هغوي کورونو نه وُباسئ اؤ په هغوي تېري اؤ ظلم کښې د یؤ بل مُرسته کوئ . اؤ کله چې ستاسو قېد کښې درشي، نو فدیه (تاوان د خوشي کولو لپاره) ترې اخلئ اؤ د دوي کورونو نه ویستل (اؤ دا فدیه یا وژل) په تاسو حرام دي . ایا تاسو د کتاب په څنې برخه باور لرئ اؤ څنې برخه باندې کفر کوئ؟ نو چې تاسو کښې څوک (دا وژل، تاوان اخستل اؤ کورونو نه ویستل) کوي، نو د هغهٔ په برخه به نړۍ کښې د سپکاوي غمژن ژوند وي اؤ د قیامت په ورځ به ډېر د کړاؤ عذاب ته راکښلے شي اؤ الله ستاسو عملونو نه غافل نهٔ دے

# چې قام نهٔ وي، وطن د زمکې یوه برخه ده

**بیا ځاروي پکښې څریږي، کهٔ پېریان پرې اوسیږي**
**قام چې ژوندون وُلري، وطن سباؤن وُلري**


دیؤ مسلمان اؤ یؤ پښتون په حیث
په تورسرو د
تشدد مخه ؤنیسئ!
دا چې طـلاق تهٔ راکوې غـرور اؤ قهر سره
نو پېغلتوب مې هم راستون کړه! زما مهر سره
طلاق دے تو رہے ہو غرور و قہر کے ساتھ
میرا شباب بھی لوٹا دو، میرے مہر کے ساتھ




بهرام اوډیګرام

(د اولس د سترګو، بېسوادۍ، ناپوهۍ، ناداريٰ او بې اتفاقۍ غوندې رنځونو درمان ـــ د اولسو مرګینو د ویښولو، پوهولو ـــ د ټولنیز، ملي او اولسي خدمت او منظم کولو ـــ د استعمار استبداد ظلم و ستم د جغه ځخه د ازادولو مبارز، رهبر عبدالغفار خان، د "انجمن اصلاح افاغنه" او "خدائي خدمتګار" مؤسس او لاربښود په توګه د ژوند په مشخصو مرحلو د اولس لخوا د "فخرِ افغان" او "باچا خان" په القابو ستائیلے شوے بابا ـــ د هغوي ژوند د هغوي په ژبه)



زهٔ د اشنغر په اتمانزو نومي کلي کښې په کال 1890ء کښې پېدا شوے یم. هغه وخت د پېدائش نېټې د لیکلو رواج نهٔ و، نهٔ څوک په لیک او لوست پوهېدل، نو زما د پېدا کېدو نېټه چا لیکلې نهٔ ده، خو دا چې زهٔ وایم، چې په کال 1890ء کښې پېدا شوے یم، د دې نه وایم، چې خدا ے دې زما مور وبخښي، ما ته ئې وئېل، چې ستا د ورور ډاکټر خان صاحب وادهٔ په دسمبر 1901 کښې شوے و او په هغه وخت ستا عمر یوولس کاله و، نو زهٔ څکه وایم، چې زهٔ په 1890ء کښې پېدا شوے یم. زما تعلق د محمدزئ قبیلې سره دے. زما نیکهٔ د محمدزو خان و او زما نیا یوسفزئ وه. د صوابۍ د مرغز کلي وه. دا قدرتي خبره ده، چې د محمدزو او یوسفزو شریک اولاد ډېر لائق وي.

**ابتدائي تعلیم:** د خوش قسمتۍ نه زما پلار سره د دې چې متقي مسلمان و، خو روښانفکره سړے و. هغهٔ د مُلیانو د پراپېګنډې پروا و نهٔ کړه او مونږ دواړه رونړه ئې په سکول کښې داخل کړو. پلار مې زهٔ او محبت خان چې زما د کشر ترهٔ څوے و او زما همځولے و، پلار ئې مړ و، د کلي په جومات کښې د اسماعیل استاذ سره سبق ته کښېنولو. زما د سبق په ناسته زما مور ډېره خوشاله وه. ډېرې شیرینۍ ئې ویشلې وې. د اسماعیل استاذ نه مې قران ختم کړو، خو زهٔ په قران پوهه نهٔ شوم. زمونږ کلي کښې یو پرائمري سکول و، خو زما مشر ورور خان صاحب دغه وخت کښې د پېښور په سکول کښې سبق وئېلو. زهٔ هغهٔ د سبق د پاره پېښور ته بوتلم او په هغه سکول کښې ئې زهٔ هم داخل کړم. د پرائمري پورې تعلیم مې هم دې سکول کښې وکړو. ما ته د پېښور د سکول نه د کلي سکول په دې ښهٔ و، څکه چې د تعلیم ذریعه خو د دواړو اردو وه، خو د کلي استاذ پښتو و او د ښار استاذ پنجابے، چې زهٔ ئې په ژبه نهٔ پوهېدم. ما چې پنځم جماعت امتحان ورکړو او شپږم ته پاس شوم، خان صاحب د لسم نه یوولسم ته پاس شو. زمونږ په ټوله صوبه کښې کالج نهٔ و. په دغه کال په مشن سکول کښې یوولسم پرانستلے شو، نو زما ورور په مشن سکول کښې په یوولسم کښې داخل شو. مونږ

ISSN201301

دواړه ورونه اؤ د تږۀ ځوي مهابت خان درې واړه
په بورډنګ کښې اوسېدو . څۀ وخت چې زما
ورور خان صاحب د ډاکټرۍ د تعليم د پاره بمبئ
ته لاړو، زۀ اؤ مهابت خان په بورډنګ کښې
يوازې پاتې شو .څو ورځې پس له بورډنګ نه ښار



ته راغلو اؤ په لوي بازار کښې مو يوه بالاخانه
ونيوله. دلته به اوسېدو اؤ سبق له به سکول ته
تلو، خو سبق ته مو ډېر نۀ لګېدې .زمونږ يؤ
نوکر ؤ، چې نوم ئې "بارانے" ؤ. هغۀ څۀ مُوده د
مومن خان ډېرې د خانانو سره نوکري کړې وه، نو
مونږ ته به ئې د خپلو خانانو قيصې کولې، چې په
پوځ کښې لوي لوي افسران وو . باراني را ته
غوړونه ډک کړل اؤ زۀ ئې دې ته تيار کړم، چې
پوځ ته لاړ شم . دغه وخت ما په اتم کښې سبق
وئيلو . باراني وې، چې تعليم ئې کړے وي اؤ د
خان ځوي وي، انګرېز ئې ډارېک (ډائرېکټ) په
کمېشن اخلي .زما د ورور خان صاحب يؤ اشنا ؤ .
فېصل محمود نومېدۀ. ما اؤ مهابت خان په هغۀ
يؤ درخواست کمانډر انچيف ته ؤليکۀ . په ډاک
مو واستوۀ .دا راز زمونږ د باراني کاکا اؤ پلار نه
مې پټ ؤساتۀ . ډېره موده تېره شوه .زۀ په لسم
جماعت کښې ؤم، چې د مرکز نه زمونږ ډپټي
کمېشنر ته يؤ حکم راغے، چې زما متعلق تحقيق
ؤکړي، چې زما څۀ حېثيت دے اؤ زما د خاندان
څۀ حېثيت دے؟ پټواريانو زمونږ ټول جائېداد
اسسټنټ کمېشنر ته ؤښودلو . اسسټنټ کمېشنر

بابا ته ټول احوال تېر کړو، چې ستاسو د جائېداد
جاج پړتال ستا د ځوي چې کمانډر انچيف ته ئې
کړے ؤ، د پوځ د کمېشن د پاره ؤکړو . بيا زما
ډاکټري معائنه ؤشوه . زما صحت اؤ ځواني
ښائسته وه .څۀ موده پس د برتۍ د پيرنګي حکم
راغے، چې په فلاني تاريخ حاضر شه . دغه ورځو
کښې خان صاحب د بمبئ نه راغلے ؤ اؤ د لوي
تعليم د پاره لندن ته روان ؤ .زۀ ئې د ځان سره د
برتۍ پيرنګي تهت بوتلم .پيرنګي مونږه سره ډېره
مينه ؤکړه اؤ ډاکټر خان صاحب ته ئې د لندن په
ژوند زړۀ پورې مشورې ورکړې . زما د لسم
امتحان شروع ؤ . درې پرچې پاتې وې، چې د
پيرنګي حکم راغے، چې ستا ډائرېکټ کمېشن
منظور شو . ډېر خوشاله شوم . په دې فکر کښې
ؤم، چې په پلټن به ښۀ وي، کۀ رساله؟ زما د
ملګري دا رائې وه، چې پلټن ښۀ دے . بدن دې
مضبوط دے، قد دې شپږ فوټه درې انچه دے .
په دغه وخت زمونږ د ډهېرۍ زرداد خان چې په
کومه رساله کښې ؤ، هغه جېکب اباد نه پېښور
ته را بدله شوه . يوه ورځ زۀ اؤ باراني کاکا د
ډهېرۍ د خان ليدو ته لاړو .هغه رسالدار ؤ .مونږ
سره ولاړ ؤ، چې يؤ کپتان انګرېز راغے، د ډهېرۍ
خان وېښتۀ د پيرنګي غوندې جوړ کړي وو .
پيرنګي چې ؤليدۀ، ډېره غصه ئې ورته ؤکړه اؤ
ورته ئې ؤوې، چې تۀ هم زمونږ پېښې کوې .زۀ
ډېر خفه شوم . کلي ته راغلم اؤ بابا ته مې ؤوې،
"زۀ دا نوکري نۀ کؤم". بابا ډېر کوشش ؤکړو، خو
ما وې، زۀ د پيرنګي نوکري نۀ شم کولې .ما د
نوکرۍ په خوشالۍ کښې سبق په مېټرک کښې د
امتحان دوران کښې پرېښودلے ؤ . کال مې ضائع
شوے ؤ .زمونږ د کلي د مولوي عبدالعزيز صېب
کشر ورور عبدالحليم سره مې مشوره ؤکړه، چې

زما جماعتي ؤ . د هغهٔ په مشوره کیمبل پور کښې په یؤ سکول کښې داخل شوم اؤ په بورډنګ کښې اوسېدم . دا ډېر ښهٔ سکول ؤ ، خو ما ته ئې خوند را نهٔ کړو .



چا را ته د قادیان ډېر صفت ؤکړو ، چې د تعلیم په لحاظ ډېر ښهٔ ځائے دے . زهٔ اؤ عبدالحلیم قادیان ته روان شو . مونږ چې قادیان ته ؤرسېدو ، په دغه زمانه کښې حکیم نورالدین صیب خلیفه ؤ . مونږ د هغهٔ لیدلو ته ورغلو . د هغهٔ ساده بې تکلف ژوند اؤ د مینې محبت خبرو را باندې ډېر اثر ؤکړو . هغه ډېر لوي عالم ؤ اؤ با اخلاقه سړے ؤ . مونږ د هغهٔ سره ناست وو ، چې د مرزا غلام احمد صیب ځوے چې اوس د دې جماعت امیر دے اؤ هغه وخت ئې په کالج کښې سبق وئیلو ، راغے ، نو مونږ ترې نه رخصت واخستو . د سکول بورډنګ ته راغلو ، دلته چې څومره هلکان وو ، د اکثرو په خلو کښې دا خبره وه ، "ابنِ مریم کی بات چھوڑو ، اس سے بهتر غلام احمد هے" . دا اواز مونږ ته ډېر ناشنا ؤ . مونږ هلکانو هغه "جنتي مقبرې" ته بوتلو . څومره چې مونږ د قادیان د حالاتو خبرېدو ، زمونږ تعجب زیاتېدو . فکر واخستو ، چې پاتې شو ، کهٔ لاړ شو؟ بله شپه خوب وینم ، چې یؤ لوي ژور کوهے دے . زهٔ ور پرېوځم ، چې یؤ سپین ږیرے سړے لاس راواچوي اؤ د کوهي د پرېوتو نه مې بچ کړي . را ته وائي "پام کوه" . چې سحر شو ، زهٔ اؤ عبدالحلیم نمانځهٔ ته پاڅېدو . ما هغهٔ ته خپل خوب ؤوایهٔ . هغهٔ هم څهٔ خوب لیدلے ؤ . نمونځ مو ؤکړو اؤ واپس کلي ته را روان شو . عبدالحلیم په زوړ سکول کښې داخل شو اؤ زهٔ علیګړه ته لاړم . په علیګړه کښې مې په بورډنګ کښې ځاے ؤ نهٔ موندلو اؤ په ښار کښې په یؤ هوټل کښې دېره شوم . په دغه ورځو کښې نواب وقارالملک د علیګړه کالج سېکرټري ؤ . ساده ژوند ئې تېروهٔ . یوه ورځ مونږ د نمانځهٔ نه راوتلو ، ما ورته پښې سمې کړې . هغهٔ زر ما ته پښې سمې کړې اؤ زما شکریه ئې هم ادا کړه . د علیګړه د بورډنګ اؤ ښار په سوسائټۍ کښې ډېر فرق ؤ . د علیګړه د بورډنګ سوسائټي عالمانه اؤ مهذبه وه اؤ د ښار ژوند جاهلانه اؤ غېر مهذب ؤ . اؤ بله دا چې برسات شروع شوے ؤ . د ښار نه کالج ته تګ را تګ هم ګران ؤ . په دې وخت زما ورور خان صاحب چې د لندن حالاتو سره بلد شوے ؤ ، ما ته هم خط راؤلېږهٔ ، چې تهٔ هم راشه . زهٔ د علیګړه نه د ګرمو چوټیانو کښې کلي ته راغلم . بابا ته مې د ډاکټر صیب خط ؤښودهٔ ، خو د هغهٔ ورسره اتفاق نهٔ ؤ ، نو ما د لندن د تللو اراده ختمه کړه اؤ فېصله مې ؤکړه ، چې نور سبق نهٔ وایم اؤ د قوم ملک خدمت کؤم .

زما تعلق د فضل محمود مخفي صیب ، مولوي عبدالعزیز ، د پکلې مولوي فضل ربي صاحب چې د ګدر د دارالعلوم مهتمم ؤ ، پېدا شو . مولوي تاج محمد صیب د بغدادې چې بي اے تعلیم ئې کړے ؤ اؤ مذهبي علوم پرې سر دوبالا وو ، په اسلامیه هائي سکول پېښور کښې سېکنډ ماسټر ؤ . مولوي فضل ربي د دېوبند سند یافته ؤ . مولوي عبدالعزیز د بهوپال نه تعلیم کړے ؤ .

د مخفي صیب د وجې مې د ترنګزو د حاجي صیب سره شناخت ؤشو ، چې د دین اؤ دنیا دواړو

په صحیح اؤ حقیقي شکل کښې ئې د قوم رهنمائي کوله. زۀ چې په مشن سکول کښې ؤم، د خپل هېډماسټر وېګرم اؤ د هغۀ د ورور ډاکټر وېګرم نه ډېر متاثره شوے ؤم. زما هم خیال ؤ، چې د قام اؤ وطن خدمت مې ؤکړے. په دغه ورځو کښې پښتون قام د جهالت په تورو تیارو کښې ډوب ؤ. د حکومت لخوا د تعلیم هېڅ انتظام نۀ ؤ. په 1910ء کښې ما اؤ مولوي عبدالعزیز صېب یوه مدرسه په اتمانزو کښې جوړه کړه اؤ د نورو مدرسو د جوړولو د پاره مو دورې شروع کړې.

د دېوبند سره تعلق، د حاجي صېب ترنګزو، مخفي صېب، مولوي فضل ربي اؤ مولوي تاج محمد دوي سره زما تعلق ؤ. د هغوي د وجې زما دارالعلومونو اؤ مدرسو ته تګ را تګ زیات شو اؤ تر دېوبند ؤرسېدم.

په هاغه وخت د دېوبند مشر محمود الحسن صېب ؤ. ډېر نېک، پاک، خدائے پرست اؤ لوي عالم اؤ باعمله انسان ؤ. زما اؤ زما د ملګرو اؤ د دېوبند د علماء کرام مرام اؤ مقام مشترکه ؤ ــــ د ملک ازادي. مولانا عبېدالله سندهي، محمد میا، د خورجي مولانا صېب، مولانا محمود الحس سره زما اؤ زما د ملګرو به زیات وخت د هند د ازادۍ اؤ د پیرنګي د هند نه د ویستلو مشورې اؤ صلاګانې کېدې.

د مولانا عبدالعزیز، مخفي صېب اؤ مهتمم صېب مجلسونو ما کښې قامي مینه زېږوله. د مولانا ابوالکلام ازاد "الهلال" اخبار اؤ د ظفرعلي خان "زمیندار" اخبار قامي مینه اؤ لار راؤښودله، چط د قام رهنمائي به څۀ رنګ کیږي اؤ کومه لار به خپلول وي.

د 1912ء کال په اخره کښې پلار ما له وادۀ ؤکړو. ما لا په سکول کښې سبق وئېلو، چې زمونږ د کلي نه نزدې رځړو نومې کلي کښې د کنان خېلو د یار محمد خان لور ئې را ته کوېژدن کړې وه. زما سخر یار محمد خان اولنے خان ؤ، چې د لور په سر ئې پېسې وانخستې، ګنې په هغه زمانه دا عام رواج ؤ، چې کۀ غریب ؤ کۀ خان، په لور به ئې پېسې اخستې.



د حضرت باچاخانؒ د ژوند دا څغلنده نظر مونږ ته ښائي، چې څنګه په بېلابېلو پړاوونو کښې هغۀ فکري ارتقائي مزل کړے دے. د زېږون نه واخله، د قامي تحریک پېل پورې په لاره کښې د مختلفو ښؤنځو اؤ دیني اؤ دنیاوي علومو سره وابستګي اؤ بیا د هغه وخت د جید عالمانو سره تړون اؤ بیا په دغه لاره کښې نۀ ستړے کېدونکے اؤ نۀ په شا کېدونکے مزل ــــ دا ټول هغه څۀ دي، چې حضرت باچاخان رح پښتون قام خپل لارښود ؤمنلو اؤ د فخرِ افغان اؤ باچا خان نومونو سره ئې درناوے ورکړو.

# حضرت باچاخان رح اؤ د برصغیر وېش

ظهور خان

قائدِتحریک خان عبدالولي خان د خپل کتاب *ریښتیا ریښتیا دي* په سرلیک کښې لیکي:

Comment is free, but facts are sacred.

ژباړه: په تبصره کولو بندېز نشته، خو ریښتیا سپېڅلي وي.

دلته چې زما د مضمون کوم عنوان دے، پکار ده چې د هغې تر لاندې زۀ هغه خبرې اوبۀ رښې کړم، کومې چې د تاریخ د دروغ کولو د پاره خرې کړې شوې دي. د هندوستان د وېش په حقله چې د استعماري طاقتونو په خوښه کوم تاریخ لیکلے شوے دے اؤ په هغې کښې د حضرت باچاخان بابا مخ په څۀ رنګ کښې د څرګند کولو کوشش شوے دے، مونږ دا باور لرو، چې نن هم باید د پاکستان د ښوونځو، پوهنځو اؤ کتابتونونو د پاره لیکلو شوؤ کتابونو کښې د دغه تېرونو سمون ؤشي.

دا خبره تاریخ کښې ډېر په شور سره کیږي، چې د لاهور یؤ شاعر اقبال صېب هندوستان کښې د دوؤ قومونو نظریه کال نولسوه دېرش کښې وړاندې کړه اؤ بیا جناح صېب د دغه نظرئیې په اډانه د مسلمانانو د پاره د یؤ ځانګړي وطن تر لاسه کولو مرام ته د رسېدلو هلې ځلې پېل کړې. هم د دې مفروضې په رڼا کښې د برصغیر دننه د اوسېدونکو تر منځه دومره کرښې راکښلې شوې، چې انسان حېران شي، چې د دومره ډېرو کرښو په موجودګۍ کښې دا اولس په زرګونو کلونه یؤ ځاے څنګه پاتې شوے دے اؤ بیا د اسلام راتګ نه وروستو دا دیارلس نیم سوه کلونه څنګه دوي په یوه جغرافیه کښې د یؤ وطن دننه تېر کړل؟ یقیناً چې د وټېلو به ډېر څۀ نۀ وي؟

ملګرو ته دې یاده وي، چې هندوستان کښې د مذهب په بنیاد د دوؤ لویو قومونو هندو اؤ مسلمان تاده 1909ء کښې د مورلے مېنټو ریفارمز (Morley-Minto Reforms) په نوم اېښودې شوې وه، کله چې دا فېصله ؤشوه، چې د یونین کونسلو اؤ میونسپلټۍ ووټونو کښې به مسلمان مسلمان اؤ هندو هندو له ووټ ورکولے شي.



تر څو چې د هندوستان د وېش په حقله خبره ده، نو څرګنده دې وي، چې کله 1921ء کښې د چارسدې نه د دېوبند تحریک لاربښود ترنګزو حاجي صېب د یوې اسلامي مدرسې بنیاد کېښودلو، چې پښتنو کښې علم اؤ پوهه راولي، نو باچاخان بابا د ترنګزو حاجي صېب سره ملګرتیا ؤکړه اؤ هم په دغه لاره د دېوبند مشرانو سره د باچاخان بابا اړیکې روغې شوې. وروستو چې کله د دېوبند نه مولانا محمودالحسن اؤ مولانا عبېدالله سندهيؒ دا استازے ترنګزو حاجي صېب ته واستولو، چې هغوي دې قبائیلي سیمو ته هجرت ؤکړي اؤ د پیرنګي خلاف دې د جهاد اعلان ؤکړي، نو باچاخان بابا دا مشوره ورکړه، چې وړومبے دې قبائل منظم کړے شي اؤ هغوي دې په دې پوهه کړے شي، چې پیرنګي

ځنګه زمونږ خپلواکۍ ته زيان رسولے دے اؤ زمونږ د پرمختګ لاره کښې دېوال شوے دے، هغې نه وروستو به دا کار په يوه منظمه لاره مخ په وړاندې بوتلے شي . ترنګزو حاجي صيب هغه وخت دا خبره ؤ نۀ منله اؤ باچاخان بابا د هغوي نه خپله لاره بېله کړه اؤ د "انجمنِ اصلاح أفاغنه" په نوم ئې يؤ تحريک پېل کړو . د دغې تحريک سره مخ په وړاندې بيا "افغان جرګه" وه کۀ "خدائي خدمتګار تحريک"، دا ټولې لارې د عدم تشدد په فلسفه ولاړې وې اؤ د دوي مرام خپل اولس له پوهه اؤ علم ورکول وو اؤ د ازادۍ تر لاسه کولو د پاره يؤ شعوري اؤ عملي جدوجهد ؤ .



کله چې د دوېم نړيوال جنګ په وخت د هندوستان اولس دا محسوس کړل، چې ډېر زر به د پيرنګي پليت ګامونه د دې خاورې نه وځي، نو دې لړ کښې د برصغير بېلا بېلو سياسي اؤ سماجي ډلو لکه خدائي خدمتګار، ديوبند، کانګرېس، مسلم ليګ اؤ نورو د خپلو تګلارو په رڼا کښې فکرونه کول . بلخوا انګلستان کښې ناست د کنزروېټيو پارټۍ وزيراعظم چرچل اؤ د هغۀ ملګري هم خپل تګ نه وروستو افغانستان نه بېله کړې خاوړه باندې د خپلو مفاداتو خوندي کولو اؤ د روس د نظرياتي اؤ جنګي يلغار د مخنيوي د پاره سرونه نيولي ناست وو . د 1946ء انتخاباتو کښې په پښتونخوا صوبه کښې خدائي خدمتګارانو په پنځوسو کښې درې دېرش ځوکۍ ګټلې وې .

د چرچل په ځائے چې کله برطانيه کښې ايټلے وزيراعظم شو، نو د خدائي خدمتګارانو دغه درې دېرش ځوکۍ هغۀ ته لکه د بؤ ؤدرېدلې، اؤ هغۀ ؤګڼل، چې کۀ په پښتونخوا کښې خدائي خدمتګاران بريالي شول اؤ دغسې نور هندوستان کښې کانګرس ځوکۍ ؤګټلې، نو روس سره نظرياتي اؤ مفاداتي جنګ کښې به انګلستان لوي بېلات ؤکړي . په دې خبرو خو د پيرنګي ټول سرکاري خطونه اؤ ډائريانې ګواه دي، چې مسلم ليګ د برصغير د تقسيم د پاره د انګلستان دوېم آپشن ؤ اؤ هغوي د ټول برصغير د پاره د مشروطه ازادۍ خبره کوله، خو د کانګرېس کلک مؤقف د هغوي اميدونو باندې اوبۀ واړولې اؤ هغوي دوېم آپشن ته کښېناستل .

زمونږ خبره د هندوستان د وېش په حقله د لوي بابا د فکر رڼاوے دے، نو بايد چې دا خبره سْپينه شي، چې بابا له سره د هندوستان د وېش په حق کښې نۀ ؤ . هغوي د هندوستان وېش د مسلمانانو وېش ګڼلو اؤ د تېرو پنځۀ شپېتۀ کلونو تاريخ کښې د برصغير هر قام ډېر ځلې د بابا په وېنا پسې لاسونه ؤمروړل ـــ هغه چا هم، چې د بابا فکر سره ئې ټربګني کوله . د لارډ ماؤنټ بېټن راتګ سره چې کله کانګرېس د برصغير وېش ته غاړه کېښودله، نو د پښتنو په سيمه کښې رېفرېنډم کښې ځکه برخه وا نۀ خستلې شوه، چې حضرت باچاخان د پښتنو د ځان له بېل وطن نوم وړاندې کړو، خو کۀ پيرنګي دې ته غاړه اېښودله، نو بيا ئې دوه ځائے تقسيم ولې کولو؟ د دې سبب دا ؤ، چې بابا هغه وخت هم ليدل، چې پيرنګي واکمن د هندوستان وېش ته ولې غاړه اېښې وه؟

# پوهنا، بالکي اؤ خدائي خدمتګار

حيات روغانے

**وړومبۍ شپېه**

**منظر**: په دڕيز يؤ مشر پوهنا سرے ناست دے. هغۀ پټکے تړلے دے اؤ هغۀ نه چاپېره څو بالکي ناست دي. منځ کښې يؤ مجمر کښې سپيلني/انمبر/عود لوګے کيږي. پوهنا مشر د مجمر نه سترګې نۀ اړوي اؤ بالکي د پوهنا مشر نه سترګې نۀ ؤباسي.

په دريز رڼا ډېره نۀ ده، څکه د ناستو
کسانو څاندرې پوره نۀ ښکاري.

(هم دغه منظر به د پايې تر شپېې وي)

**پوهنا**: فرښتو وې، "انسان به په زمکه وينه تويوي اؤ فساد به کوي".

الله وې، "زۀ ښۀ پوهېږم".

الله زمکه خوره کړه اؤ په دې زمکه ئې غرونه لکه د مېخونو ټکوهل، چې زلزلې ئې نۀ خوځوي. الله په زمکه د سمندر چينه ؤبهوله، چې تندې خړوب کړي اؤ بيا ئې پړې د اسمان څپر ؤتړلو. انسان هغه دے، چې د اسمان د څپر لاندې خوره شوې زمکه پليته نۀ کړي.

**بالکے1**: انسان څوک دے؟

**پوهنا**: (يؤ ځل د تپوس کؤنکي مخ ته ؤګوري اؤ بيا مجمر ته سترګې واړوي)

"انسان د قدرت شاهکار دے. انسان د زمکې په مخ د خېر اؤ شر سبب هم دے اؤ پېژندونکے هم. انسان د زمکې په مخ مينه، امن اؤ سوکالي راوستونکے هم دے اؤ کړکه، شر اؤ خواچيني ته وده ورکوونکے هم. د جنت خوندونو اؤ د دوزخ لمبو کښې انسان ځان له ځاے خوښوي.

**بالکے2**: خېر اؤ شر، جنت اؤ دوزخ څۀ دي؟




**پوهنا**: جنت د مينې اؤ امن نوم دے ـــ دوزخ د کړکې اؤ فساد نوم دے. خېر د جنت اؤ شر د دوزخ لار ده.

**بالکے3**: مينه څۀ ده؟ نفرت څۀ دے؟

**پوهنا**: مينه خداے دے اؤ کړکه شېطان. چې کله ما تۀ د ځان غوندې ؤګڼلې، نو مينه ؤزيږيږي اؤ چې کله ما د ځان نه سپک اؤ بد ؤګڼلې، نو کړکه د مينې ځاے واخلي اؤ د ژوند ساه په سکيندو شي.

**بالکے4**: ژوند څۀ دے؟

**پوهنا**: ژوند يؤ څو د پاره مرام اؤ نورو ټولو د پاره د ساګانو شمېر دے.

**بالکے5**: ورورولي څۀ ته وائي؟

**پوهنا**: چې يؤ وګړے د خپلې ژبې، لاس پښو د ازار نه بل وګړے ؤساتي اؤ په ښه ورځ ورسره ؤخاندي اؤ په بده ورځ ورسره ؤژاړي، دا وروروليِ ده.

**بالکے6**: انسانان فرقې فرقې، ډلې ډلې ولې شو؟

**پوهنا**: خدمت کښې اختلاف نۀ پېدا کيږي ـــ اختلاف د خودغرضۍ نه پېدا کيږي. د ادم ځامن په يؤ بل د ځان غوره ثابتولو جنګ کښې خوارۀ وارۀ شوي دي.

ISSN201301

**بالکے7**: دا اتفاق به څنګه پیدا کیږي؟ دغه فرقې به څنګه سر خوري؟

**پوهنیا**: برداشت اؤ عدم تشدد (لږ غلے شي) کۀ زۀ اؤ تۀ یؤ بل برداشت کړو اؤ خپلو کښې عدم تشدد له وده ورکړو، نو یؤ به شو۔

**بالکے8**: اقتصاد اؤ صنعت څۀ دي؟

**پوهنیا**: مونږ خپلو کښې یؤ بل نه ځان شوکولو د پاره پنجرې بنلې دي۔ تر څو چې مونږ دغه پنجرو نه بهر شوي نۀ یو، مونږ پرمختګ کولے نۀ شو۔ پوره وي کۀ سپوره وي، په شریکه به وي۔

راځئ! چې خپلو کسب کوونکو ته سپک نۀ ګورو۔

راځئ! چې مونږ له د خداے راکړې د قدرتي وسائلو خزانې اؤ پنګې په کار راوستلو د پاره صنعتونه اؤ کارخانې روغې کړو۔ دې سره به زمونږ ټولنه کښې ؤزګار وګړي په روزګار شي اؤ زمونږ د اولس لاسونو له به دومره نغدې راشي، چې د ضرورت په وخت به بل ته د لاس خورولو اړتیا نۀ لري۔

**بالکے9**: ادب څۀ دے؟

**پوهنیا**: خداے ادیب له لاسونه، سترګې اؤ ژبه ورکړې دي۔ ادیب به ټول خاؤرې شي، خو د هغۀ سترګې، ژبه اؤ ګوتې به نۀ خاؤرې کیږي۔ کوم ادب چې د خپل اولس اؤ خپلې خاؤرې اؤ خپلو حالاتو خبرې نۀ کوي، هغه ادب وخت تېرېدلو سره مړ شي۔ هغه ادب نۀ دے۔ هغه د وخت تېرولو بهانه اؤ ذهني عیاشي ده۔ زۀ عبادت کوُم د هاغه خداے، چې ادم باندې ئې قلم پېرزو کړے دے۔

**بالکے10**: ثقافت څۀ ته واتي؟

**پوهنیا**: ثقافت د یؤ قام د ژوند رنګ دے۔ باید دغه رنګ کچه نۀ وي، پوخ وي ـــ سپک نۀ وي، دروند وي ـــ لوڅ لغړ نۀ وي، حیادار وي اؤ د خواهش په ځاے د ضرورت مطابق وي۔

**بالکے11**: سیاست څۀ دے؟

**پوهنیا**: د خپل اولس د الله د رضا د پاره خدمت سیاست دے۔ دغه لاره کښې د هر ازمېښت زغمل عبادت دے اؤ مرګ شهادت دے۔ کۀ د الله د رضا د پاره وي اؤ د اولس خدمت ئې مقصد اؤ مرام وي، نو سیاست د مذهب غوندې سُپېڅلے دے اؤ کۀ خودغرضي اؤ ذاتي فائدو د پاره وي، نو پلیت دے۔

**بالکے12**: جمهوریت څۀ دے؟

**پوهنیا**: د یؤ بل خبرې اؤرېدل، د یؤ بل په خبرو ځان پوهول اؤ د یؤ بل د خبرو احترام کول جمهوریت دے۔ د ښې خبرې مُرستې اؤ د بدې خبرې مخنیوي د پاره ؤدرېدل جمهوریت دے۔ خپلو کښې اختلاف د خبرو تر لارې هوارول جمهوریت دے۔

**بالکے13**: مذهب څۀ دے؟

**پوهنیا**: مذهب د ژوند د تېرولو افاقي ائین اؤ دستور دے ـــ چې د ژوند څلیریشت ساعتونه د مذهب په کرښه دننه ستا هره ساه خپله ملګرې کړي، نو پوهه شه چې مذهب تۀ ځان کښې ځاے کړې اؤ تا مذهب خپل کړو ـــ چې کله تا خپل ژوند د مذهب په کرښه دننه کړو اؤ د خپلو حقونو، د خداے د حقونو اؤ د خداے د مخلوق د حقونو په حقله دې زړۀ ډاډه شو، نو بیا به مرګ تا وېرولے نۀ شي۔

**بالکے14**: سباؤن څۀ معنا لري؟

**پوهنیا**: ماشومان راتلونکے سباؤن دے۔ ماشومان د امن اؤ مینې زیرې دي۔ د مینې معصوم اؤ نیازبین رنګ له پړدې رنګونه ورکول د قام د راتلونکي سحر قتل دے۔

**ټول بالکي**: تۀ څوک ئې؟

**پوهنیا:** زهٔ د الله د یؤ بنده اؤ د محمد ﷺ بن عبدالله د یؤ امتي اؤ د باچاخان بابا﷫ د لارې د یؤ شهید قبر یم.

**ټول بالکي:** مونږ شهید نه ځهٔ اؤرېدل غواړو ـــ

**پوهنیا:** (څو شېبې غلے وي) راځئ! چې د شهید روح ته هرکلي د پاره ؤدرېږو!

**دوېمه شېبه**

**منظر:** ټول بالکي اؤ پوهنیا ؤدرېږي. پوهنیا سینه بهر ویستلې هسکه غړې ولاړ وي اؤ بالکو سرونه ټیټ نیولي پخپل پخپل ځاے ولاړ وي. دغه وخت رڼا بیخي نهٔ وي اؤ چې کله غږ راشي،

لا تقُولُوا لِمنْ يقْتلُ فِيْ سبِيلِ اللهِ امْواتاً...

نو رڼا شي

**روح:** زهٔ د یؤ خدائي خدمتگار روح یم. خداے د اشنغر، ملاکنډ، پېښور، بټګرام، کابل، جلال اباد، خېبر، هرات، بنو، کوهاټ، ژوب، کوئټې، دیر، سوات اؤ د پښتونخوا د نورو برخو خاوړې نه زما ځاندره روغه کړه اؤ زما ځاندره کښې ئې د خپلې خؤښې، د محمد ﷺ بن عبدالله د لارې اؤ د باچاخان بابا د فکر رڼا واغړله. زما سترګو د امن د رنګ نه پرته بل رنګ نهٔ خؤښولو اؤ زما غؤږونو د امن نه پرته بله سندره نهٔ خؤښوله. زما ژبې د الله اؤ د هغهٔ د پېغمبر ﷺ نه پرته د بلې لارې خبره کول نهٔ غوښتل اؤ زما قدمونه د امن اؤ مینې نه په بل لور نهٔ تلل. زما لاسونو د شر لاره نیوله اؤ زما زړهٔ کښې د عدم تشدد دومره وسله وه، چې کهٔ اورنګ ؤ اؤ کهٔ پیرنګ ـــ مغل ؤ کهٔ د نړۍ بل استعماري طاقت ـــ زهٔ ئې ټیټ نهٔ کړم ـــ زهٔ ئې مات نهٔ کړم ـــ زهٔ ئې غلام نهٔ کړم. ځکه چې خداے پخپله مینه مست روحونه ازاد پېدا کړي دي. نن زهٔ د تاریخ لاسونو ته سپارلے شوے یم. نن وختونه په ما خاوړې نولي اؤ د خدائي خدمتگار د لارې دعوې کوونکي د خدائي خدمتگار تحریک په قبر لکه د منجورانو ناستې ته خوښ دي.

(د بالکو خؤا له ورشي اؤ د هرې خبرې سره د هغهٔ اواز کښې راغلے جلال اؤ ویاړ څرګندیږي)

ټیټ سرونه مو نېغ کړئ!

خوبولې سترګې مو وېښې کړئ!

د زړونو نه د باچاهانو وېرې ؤباسئ اؤ د الله خؤښه پکښې ځاے کړئ!

دا خپل را ټول شوي لاس پښې خؤارهٔ کړئ!

د ظلم اؤ جبر مخې ته لکه د غر ؤدرېږئ!

وهمونه پخپل ایمان ؤوژنئ!

خپل خور وور برخو کښې ویشلے وطن یؤ کړئ!

خپله پېژندګلو تر لاسه کړئ!

پاڅئ! علم تر لاسه کړئ! هنر تر لاسه کړئ! خپل وطن اؤ خپله خاؤره اباد کړئ! د امن اؤ مینې ملګرتیا ؤکړئ!

حضرت باچاخان بابا خپلو ملګرو ته د ژوند ادا ښودلې وه. د حضرت باچاخان بابا ملګري داسې ورک نهٔ دي، خدائي خدمتگار داسې ورک نهٔ دي، چې مرګ ئې ؤوژني.

پاڅئ! ځان کښې خدائي خدمتگار ژوندي کړئ!

د الله د رضا د پاره د الله د مخلوق خدمت ؤکړئ!

مینه ژوندۍ کړئ!

ورورولي ژوندي کړئ!

انسانیت ژوندے کړئ!

دنیا ته ؤښایئ، چې د الله د رضا د پاره د الله د مخلوق خدمت کوونکي تل ژوندي وي.

{دې سره په دریز خؤره شوه رڼا هم رو رو تتېرېږي اؤ د خدائي خدمتگار د روح اواز هم رو رو کښېني اؤ څومره چې دا غږ کښېني، دومره په پس منظر کښې د سپېځلي سورة الضحیٰ اواز څرګندیږي}

# د عبدالغفارخان (باچاخان) په ژوند لیکلي شوي کتابونه

عالمګیر شاهین

د عبدالغفار خان شخصیت اؤ د هغهٔ د ژوند ګڼ اړخونه د نړۍ د قلم څښتنو د پاره یؤ زړهٔ راکښونکے سرلیک دے. دې لړ کښې د نړۍ د هرې ژبې اؤ هر ځاے لیکوالانو د هغهٔ په ژوند خپله پوهه راسپړلې ده اؤ په سلګونو کتابونه ئې د هغهٔ په ژوند لیکلي دي. مونږ دلته د دغه کتابونو یوه لړۍ ستاسو وړاندې ږدو.

دې لړۍ کښې به یقیناً چې ډېر شمېر کتابونه نهٔ وي، کوم چې تر دې زمونږ لاسونو ته راغلي نهٔ دي. اوس اوس د امریکا ولایتونو کښې د پېلیزو ښؤنځو (پرائمري سکولز) دننه ورړو ته د امن، زغم اؤ مینې ښونه کولو د پاره د شلمې پېړۍ د شپږ بیشتو نوموړو په ژوند یؤ کتاب نصاب کښې شامل کړے شوے دے. دغه کتاب کښې د باچاخان شتون ښائي، چې اوس نړۍ د هغهٔ د امن اؤ د عدم تشدد فکر اؤ نظریه خپلوي. د هغهٔ د فکر اؤ نظریې ضرورت د نړۍ د بل یؤ قام په ځاے پخپله پښتنو دے، ځکه چې د نړۍ په مخ ټولو نه زیات جنګ ته څپلمه سیمه هم د پښتنو ده.

د کتابونو لړۍ په دا ډول ده:

1. دوه خدائي خدمتګار (مهادېو ډیسائي)
   هندوستان ټائمز 1935ء
2. سرحد اؤ د دې ګاندهي (جے اېس برائټ)
   الائیډ انډین پبلشرز لاهور 1944ء
3. سرحدي ګاندهي ته پېرزؤنه (میریبار)
   انټرنېشنل بک هاؤس ممبئ 1956ء
4. عقیده مجاهده ده (ډي جي ټنډولکر)
   ګاندهي سولئیز ترون ممبئ 1967ء
5. په شرمخانو سپارلے شوے (پیارے لال)
   ختیځ رڼا کتابپلور کلکته 1966ء
6. خپلو غرونو هومره هسک سړے (ا. ایسوارن)
   پینګوین کېلیفورنیا 1984ء
7. زما ژوند اؤ جدوجهد (کے بي نارنګ)
   هند کتابپلور 1969ء
8. د سُولې د پاره تګ: ګاندهي اؤ سرحدي ګاندهي په سرحد کښې (پیارے لال)
   نوګیوان پبلېشنګ احمداباد 1950ء
9. د سرحد وېنا (محمد یونس)
   هند کتابځاے ممبئ 1947ء
10. سرحدي ګاندهي (جي اېل جوشي)
    نېشنل پبلېشنګ دهلي 1970ء
11. تاریخ کښې د سرحدي ګاندهي ځاے (خوریجو)
    اوکسفورډ یونیورسټي پرېس کراچۍ 1993ء
12. انډیا، پاکستان یا پښتونستان (اټرلېنډجونسن)
    وېسکال انټرنېشنل پرېس 1981ء
13. عبدالغفار خان: سرحدي ګاندهي (آر بخشي)
    انمول پبلیکېشنز دهلي 1992ء
14. خدائي خدمتګار اؤ قامي تحریک (پي رامو)
    اېس اېس پبلېشرز نیو دهلي 1992ء
15. خان عبدالغفار خان: د انسانیت یؤ رېښتونے خدمتګار (ګیردهاري لالپوري)
    کانګرېس سنټراري کمېټي دهلي 1985ء
16. باچاخان: پاک هند ترون (پي رامو)
    اېس اېس پبلېشرز نیو دهلي 1991ء
17. خان عبدالغفار خان ته د عقیدت پېرزؤنې
    نهرو مېموریل اېنډ لائبرېري 1995ء
18. باچاخان، کانګرېس اؤ صوبه سرحد کښې قام پرست سیاست (جمعه خان صوفي)
    دینګارډ بوکس لاهور 2005ء
19. عبدالغفارخان، پښتونستان اؤ افغانستان

(فدا یونس)
وینګارډ بوکس لاهور 2003ء

20. عبدالغفارخان: د پښتنو امن خوښے باچا
(راجموهن ګاندهي)
پینګوین ګروپ انډیا 2004ء

21. د اسلام امن خوښے سرلښکر (جیان سیرینا)

22. زما ژوند اؤ جدوجهد (باچاخان)

23. باچاخان اؤ خدائي خدمتګاري (څلور ټوک)
(عبدالولي خان)

24. خدائي خدمتګار تحریک (دوه ټوک)
(احمد کاکا)

25. د باچان خان ژوند قیصه (کے بي نارنګ)

26. باچاخان (پروفیسر وقار علي شاه)

27. د تنګي د خدائي خدمتګارانو تذکره
(محبوب ګل یاسر)

28. ګاندهي جي د باچاخان وطن کښې (پیارے لال)

29. د باچاخان د وېناؤ اؤ لیکونو ټولګه
(خان غازي کابلي)

30. د خان عبدالغفار خان لیکونه (عبدالله بختاني)

31. باچاخان د غرېدلو سترګو په نظر کښې
(نېک محمد) 1990ء

32. خان عبدالغفار خان: غدار یا محبِ وطن؟
(جاوېد احمد صدیقي) 1988ء

33. دعبدالغفارخان د ژونداؤسیاست مختصر خاکه
(فاروق قرېشي) 1987ء

34. د سُولې اؤ ازادۍ قهرمان : خان عبدالغفار خان
(عبدالله بختاني)

35. د بابا مشالونه (عبدالله بختاني)

36. د باچاخان اخیري سفر (هارون الرشید) 2003ء

37. پښتون قام اؤ باچاخان (هارون الرشید)

38. باچاخان په افغانستان کښې (شېرزمان طائزے)

39. د باچاخان سیاست اؤ عقیدې
(مفتي مدرار الله نقشبندي) 1995ء

40. د خدائي خدمتګار ورک اتلان (فهیم سرحدي)

41. باچاخان (فارغ بخاري)

42. انډیا، پاکستان اؤ افغانستان (اتر چند)

43. تحریک آزادي اؤ باچاخان (فارغ بخاري)

44. زما ژوند اؤ جدوجهد (ژباړه: جیپرکاش نارائن)

45. امن ته چمتو پښتون (مالوکا بینرجي)
اکسفورډ یونیورستي پرېس 2002ء

46. افکارِ باچاخان (شاهنواز خان)
نیا پاکستان پبلېشرز لاهور

47. رېښتیا رېښتیا دي (عبدالولي خان)
دیر هاؤس راولپنډي 1988ء

48. عبدالغفارخان: د پښتنو امن خوښے باچا

49. راجموهن ګاندهي
پنګوین بوکس نیودهلي 2004

50. ژوندون: د یؤ خدائي خدمتګار ډائري
(فضل رحیم ساقي)

51. د خدائي خدمتګار مختصر تاریخ
(فضل رحیم ساقي)


د باچاخان مرکز پېښور تر سیوري لاندې د باچا خان په ژوند اؤ خدائي خدمتګار تحریک باندې د څېړنو اؤ پلټنو د کار په رڼا کښې دا تاریخ نور روڼ اؤ ځلاند شوے دے. داسې ډېر نومونه اؤ نور کردارونه هم مخې ته راځي، چې د پښتون تاریخ د پاره د ویاړ اؤ افتخار پېلامونه دي. مونږ دا خبره کوو، چې د پښتنو تاریخ تل نورو لیکلے دے، ځکه ګنې حوالې د شک تیاره کښې پرتې وي، خو د باچاخان اؤ د هغهٔ د ملګرو ژوند لکه د هغوي د دریز اؤ مرام روښانه اؤ ځلاند دے، ځکه چې باچاخان اؤ د هغهٔ ملګرو خپل کردارونه اؤ تاریخونه مونږ ته سپین اؤ سپېځلي رارسولي دي اؤ دغه تاریخ مونږ د پاره ژوندون اؤ ویاړ دے.

ISSN201301




# بحرالأدب

## حرفونه

اروابناد شبر شاه ترخوي

(تېر پسې)

د صرف اؤ نحو د قاعدو تر مخه "حرف" يوازې هېڅ معنا اؤ مفهوم نۀ لري، خو د لفظونو اؤ جملو تر منځه د يؤ بل سره په خپلو کښې په ربط اؤ تعلق پېدا کولو کښې ډېر اهم کردار ادا کوي، نو ځکه د يؤ لازم جُز حېثيت لري، ولې چې د حرف نه بغېر کۀ اسم وي اؤ کۀ فعل، دواړه بې کاره وي. کله چې د لفظونو اؤ جملو تر منځه حرف نۀ وي، نو هره خبره بې معنې اؤ بې مزې وي. په دې غرض د حرف د صحيح استعمال پېژندنه ډېره ضروري وي اؤ په ادبي ليک کښې خو ورته ډېر لوي اهميت حاصل دے، چې تفصيل ئې لاندې کرښو کښې ورکولے شي.

**د حرفونو قسمونه**

د صرف اؤ نحو عالمانو حرفونه په پنځۀ قسمونو کښې ويشلي دي. تفصيل ئې دا دے:

1. عطف 2. ربط 3. تخصيص

4. فجائيه 5. استفهام

1. **د عطف حرف**: د عطف د حرف وصف دا دے، چې د دوؤ يا د دوؤ نه د زياتو جملو يا لفظونو تر منځه ترون راولي، چې دغه لاندې ورکړے شوي حرفونه د خپل خاصيت تر مخه پکښې په خپل خپل ځاے خپل اثر په دې معامله کښې څرګندوي

1-1. **د وصل حرفونه**: د وصل حرفونه دوه جملې يا دوه کلمې سره خپلو کښې يؤ ځاے کوي، چې ذکر ئې سره د مثالونو لاندې کولے شي (اؤ، چې، يا، بلکې، هم، بيا، لا) وغېره.

* راځه! چې زۀ "اؤ" تۀ خپل غونه شمار کړو.

* په شعر کښې ئې مثال داسې دے:

زۀ "اؤ" يار چې سره خپل غمونه شمار کړو
يار و ما ته حېرانيږي، زۀ و يار ته
رحمان بابا

ISSN201301

* بیا به نهٔ وایم، "چې" د ږني نه ام راږغورځېدو.
* په شعر کښې ئې مثال داسې دے:

ستا د سپلميو په دوده مې قسم
نور به ږ نهٔ وايم "چې" ام پرېږدې
ولي محمد طوفان

"چې" دفتر زما د صبر کړو خطا خط
د هوس په لاس را نهٔ غے د وفا خط
بېدل

* سبا له به تهٔ ښار ته ځې "یا" به زهٔ ځمه.
* یوه تپه کښې ئې وضاحت داسې دے:

"یا" به زما نصیب کوته وي
"یا" به دا تولي یاراني دغسې وینه

* هغه د خپل ځان یوازې نهٔ، "بلکې" د ټول انسانیت په فکر فکر مند دے.
* شعر کښې ئې مثال داسې پېش کولے شو:

نهٔ کرم یوازې د خپل ځان خبره
"بلکې" کوم د هر انسان خبره

* څه! تهٔ لاړ شه! زهٔ هم درځمه.
* په شعر کښې ئې مثال دا دے:

چې زما د زړهٔ له کوره ئې غلا وکړه
بل څوک نهٔ دے، "هم" هغه زما دلدار دے

* زما په زړهٔ ئې "بیا" داسې اثر وکړو، چې اوس ئې د هېرولو چل نهٔ راځي.
* په شعر کښې ئې مثال داسې وړاندې کولے شو:

عاشقۍ مې په دې زړهٔ وکړو اثر "بیا"
بېلتانهٔ مې لمبې بلې کړې په سر "بیا"
رحمان بابا

* بې طمع نهٔ یم، "لا" په طمع یم.
* په شعر کښې "لا" حرف دا دے:

انتظار ئې د وعدې تر مخه کرمه
"لا" به کله د اشنا مخ جلوه ګر شي؟
مصري خان ګوګیانے

"لا" په طمع د یار یمه، چې به راشي
دا خراب خاطر مې سترے انتظار کړهٔ
ترخوي

1-2. **د تردید حرفونه**: د تردید حرفونه (یا، نهٔ، نه، کهٔ، ګنې وغېره) د څهٔ خبرې د ډیلتیا یا وروستوالي لپاره په استعمال کښې راځي، چې تفصیل ئې دا دے:

* اشنا به را شي "یا" به را نهٔ شي، ځکه چې خاطر ئې لږ دړوند غوندې ږ.
* یا دا مثال، چې:

"یا" به زما نصیب خراب وي
"یا" به دا تولي یاراني دغسې وینه

* دا چې څهٔ وائې، "نه! نه!" خبره داسې "نهٔ" ده.
* لکه دې تپه کښې د "نهٔ" وضاحت شوے:

"نهٔ" مې څوک ږ "نهٔ" مې پکار شول
په یک تنها وجود مې تېر کړل تکلیفونه

یا دا شعر:

وړے یم، نهر یم، خو پښتو مې په نس کانړے دے
لوږې! د داني په طمع دام ته مې ږ "نهٔ" سپارې!
ولي محمد طوفان

* اول خو به هغه ضرور راشي، "ګنې" بیا تاسو ور نهٔ شئ.
* په شعر کښې ئې مثال داسې دے:

یار چې یار وي، هغه یار ښهٔ
"ګنې" یار ښهٔ څهٔ؟ اغیار ښهٔ
حمزه خان شینواري

اوږ یا دا تپه چې:

اول به یار مې را پخلا شي
"ګنې" بیا در کښې ئې جونګړه جوړومه
(نور بیا کهٔ ژوند ږ)

# ستاسو کتابونه
# روښانه مشالونه

تبصره محمد اشرف غمګين

**لوظ**: مصنف سدهېرساده، شعري ټولګه، رنګين کارډ ټائټل، چې د لوظ د قول معنوي اؤ صوري عکاسي درلودي، "عربستان پښتو ادبي ټرون" خپور کړے دے. پاس شعر:

ستا د کوم لوظ په ډاډ اوښکې ؤچوي سترګو نه؟
چې د بېلتون سلګۍ خندا نه تکه شنه شوه ګرانه!

پړې کښلے دے. سدهېرساده د خادکزو کوز دير اوسېدونکے دے. ادب لپاره د ژوند ـــ ساده انشا ئي د رحمان بابا له دعا څخه رنګينه ده. اپرېل 2012ء کښې چاپ دا کتاب يؤ شل يؤ سل صفحات لري. محمدزرين پرېشان ارغونے صېب پړې په تفصيلي سريزه ليکلې ده. څۀ ارشادات تړې داسې دي: "لوظ يؤ خوږ شان کيفيت په احساس راخور شي ـــ شاعري د فنون لطيفه د باغ د ګلونو هاغه څانګه ده، چې ماحول پرې ټول معطره معطره شي". محمد اقبال شاکر صېب هم د سدهېرساده د شاعرۍ پوره جاج سپردِ قرطاس کړے دے. ليکي، "د چا په تخليق څۀ وئېل ډېر ګران کار دے". يقيناً دوه زره کلونه پخوا عروض وضع نۀ وو. دا د وروستو زمانو د پوهانو قافيه، رديف، استعاره، بحر وغېره ايجاد کړي اؤ تکامل سره ئي لا پسې نوي اصناف منځ ته راځي. لکه شېربهادر افتاب صېب رقمطراز دے، "اوس د وخت اؤ حالاتو بدلون سره د پښتو ادب رويې اؤ خويونه هم نور دي". حيات روغانے صېب په لوظ ليکي، "د ژوند هسې هم ؤدرېدل اؤ سټنېدل زده نۀ دي". رحمان بابا فرمائي:

دا چې هره ورځ خيژي بېل بېل نمر دے
هر چې پړېوځي، ختلے نۀ شي بيا

د ښاغلي سدهېرساده د دې کتاب لوظ په دې شعر اکتفاء

يؤ خوا حالات، بلخوا مې خلقه! خپل غربت ژړوي
څۀ مې ملګرو دا زړۀ چاؤدے محبت ژړوي

**د چارسدې تاريخ د دوړو لاندې**: ليکونکے اصف علي ورومبے محقق دے، چې په اول ځل ئې په کتابي شکل کښې چاپ کړه. دوه زره کلونه پخوا چې ويدونو، تاريخ پشاور بې شمېره مقالات اؤ کتب کښې د پشکلاوتي، ګندهاره خال خال ذکر ؤ، اصف علي دغه همه مواد راجمع کړي، مزيد څېړنه ئې پړې کړې، 2012ء کښې په ښکلي ګټ اپ شائع کړه، چې د څېړنکارو د پاره غټه اسانتيا پېدا کړه. په دې کتاب نوموړي ليکوال سعدالله جان برق صېب مقدمه ليکلې ده، چې د کتاب افاديت ئې يؤ په دوه کړے دے. "د اصف علي دا کتاب" عنوان لاندې پړې راقم هم سريزه کښلې ده چې د تبصرې حق ئې پړې نۀ جوړېږي. په يؤ کتاب چې نقد و نذر کېږي، د اوله تر اخيره کېږي چې ديباچې تقريظونه پکښې هم شامل وي، خو هغه د منبع وجود امير حمزه شينواري شعر دے:

خومره په ما ګران دي د اشنا ليدۀ
لاړمه، اوس راغلمه، اوس بيا ځمه

"دهرما" د سيريلنکا مشهور د بدھ مت عالم د اشنغر رڅر (چې اثار قديمه کنسته کښې کوم سوزېدلے اريا سماج ښکاره کړے دے) دلته راغللو اؤ د علم د تحصيل نه پسته له دې ځايه چين ته لاړو. اشنغر د ګندهارا تهذيب ځانګو ده. په دې ځانګو کښې بقول پروفېسر پرېشان ختک اؤ احمد حسن داني صېب د دې ځاے خلقو هم جوتې خوړلې دي. د روميانو اؤ د سکندر د پاتې

ستړي پوځونو د دې ځاے ښځو سره مېلاپ، د
"دي پټهان" غني خان (انګرېزي) اؤ د مصطفیٰ
کمال شمال انګرېزي د دواوا (دوآبه) کتابونو
مندرجات ورکول ضروري وو ـ دلته ئې عسکرې
راغلې وې، خو سکندر پخپله راغلے نۀ ؤ ـ محمود
غزنوي سره غازي چې په دې کتاب کښې لیکلے
شوے دے، بُتان به ئې ماتول اؤ د خپټو نه به ئې
تړې مالِ غنیمت تر لاسه کولو، فارسي خوان ؤ،
پښتون نۀ ؤ ـ

**نېنځک**: مصنف حیات روغانے چاپ اګست 2012ء
خپرؤنکے "عربستان پښتو ادبي تړون" الریاض
سعودي عرب اؤ حمنیٰ پبلیکېشنز چارسده پښتو
ناول دے ـ ناول واحد اؤ جمع ئې ناولونه د پروچ
ژبې (فرانسیسي) رومان مترادف دے۔ په دې
توګه ئې نوم "نېنځک" (ګوډاګے یا نازک) اسم با
مسماء دے، چې بنیادي پلاټ خو ئې د "مخنث"
دے، خو تنوع کښې همه جهت موضوعاتو احاطه
کوي ـ کرکرونده کښې کوداله، ببلچه، پرچاؤ، جغ
وغېره پکارولي کېدونکي اوزار محفوظ کوي ـ د
مرکزي کردار د پېدایښت سره د فطرت
ښکلاګانې ؤنې بوټي ګلونه ذکر کوي اؤ چې
ځلموټے کیږي، د موسم علامتونه پکاروي ـ
شمشتی اؤ ځمځېرې یادوي، د اصلاح کوشش
کوي، لیکي "موندر بیا د خپلوان وادۀ کښې په
مړدکي مړ شو"۔ یوه کلمه لیکي "د مَړې خاوَرې
وړې پښتانۀ" د عبرت لپاره ډېره ده ـ "کال 1909ء
کښې لارډ مورلے اؤ لارډ منټو د انډین کونسلز
ایکټ غړ ؤکړو، نو په وروستي ځل ئې د
هندوستان وېش د پاره د مذهب کرښه راکښله"۔
ناول کښې ئې دا ځومره ښکلې مکالمه ثبت کړې
ده، "وګړے نۀ د چیړرو نېنځکه ده، چې بیا به ئې
ؤګنډې اؤ نۀ د تامړو موټر دے، چې بیا به تامړې
نېغې اؤ کوشېر کړي"۔ د نېنځک پښتو ناول ښه
جدیدیت سره اړوند ده ـ د ډائیلاګ پخوانے طرزِ
تحریر "زېډ سوال ؤکړو، په ځواب کښې ورته بکر
ؤوئېل" نه اجتناب کوي ـ لکه د افلاطون داسې هم
نۀ لیکي، چې مکالمه پخپله وائي، کۀ څوک بل
فلاسفر وائي اؤ کۀ سقراط وائي ـ حیات روغانے
داسې د خندا یا څوک کوټې ته درومي داسې یؤ
اړیکې تر منځه کړي، چې لوستونکے یکدم پوهه
شي، چې دا کوم نومې کردار دے ـ د نېنځک
ناول ژبه هم روانه، پسته، ساده اشنغری اؤ
یوسفزواله ده، چې په کثرت پښتو املاء کښې
مروجه مستعمل ده ـ راقم الحروف حیات روغاني
ته د پښتو خلیل جبران وایم، ګونډې ؤګورئ د
دوي بل اثر "حیاتونه"۔ حیات، ژوند اؤ حیاتیات
هغه تهیوري چې د سرمایه دار طبقې فلسفې
ډارون وضع کړې ده ـ د "نېنځک" په موضوع
"شندي ګل" اؤ "مورئے ششئے" ناولونه هم چاپ
شته، خو صف د بدک یا ګډېدونکي پورې اړه
درلودي ـ د تنوع، بلاغت ه اړخیز سماجي
معاشرتي ناهموراى بحث د "نېنځک" ځانګړتیا
ده، چې مبارکي پَرې ورته وایم ـ

**د جنون په کنډاؤ**: د فضل حکیم عندلیب نثرونه
په زړۀ پورې کاوش دے ـ په فائن پېپر کښلے دا
کتاب مجلد مصور 216 مخونه درلودي ـ روانه
سُوچه ژبه، د بلاغت فصیح دقیق خپل مثال
پخپله دے ـ تقریظ کښې پرې حیات وغانے
لیکي، "د بدلون تاده اینبودلو د پاره به نظریاتي
اؤ تجرباتي مواد ورکوي، کۀ چرې دغسې لفظونو
ته د عملي وجود ورکولو هڅه ؤکړې شي" صحیح
ئې لیکلي دي ـ ګران عندلیب صېب د خپلو خلقو

د فلاح و بهبود لپاره ليکلي دي، چې ورځ ئې ښه شي، د هوسا او خوشحاله ژوند خاوندان شي .
"همت او انسانيت سره مينه"، "زمونږ ټولنه کښې هنر"، "اوښکې"، "لکه" او نور مختصر عنوانونو باندې ارټيکلز دي، چې پړې د تکل اثرات خپارهٔ دي. يو ځاے کښې ليکي:
"د وطن ګڼ شمېر ځلمي په نيمه کښې زدکړې پرېږدي او بهر وطنونو ته مزدوريانو له ځي او پردۍ غلامي کوي" او واکداران هغه ملکونو ته وائي، "مونږه سره افرادي قوت بېسيار دے، په لږ اجرأت کار کوي".
فضل حکيم عندليب د زيارت تلاش (دير) اوسېدونکے خليج کښې زيار باسي. د ادب په لړ کښې د دوي سيمه ډېره ښېرازه ده. ميادم کښې يو ښاغلي ډېر ښهٔ ناول چاپ کړے دے، خو په دې نوعيت زما د معلوماتو ترمخه د دغه سيمې نه دا ورومبے مستند کتاب دے، چې راتلونکي کښې مونږ د دې په تقليد کښې د نورو خوندورو ليکونو هيله لرلې شو. دا ډېره ضروري ده، چې دوي د دير د شاعرانو يوه تذکره وليکي او چاپ کړي او پښتو دبستان کښې خپل يو فصل رقم کړي. راقم الحروف په دې ښکلي کتاب "بلبلِ خوشنوا" ته مبارکي وايم. (ضميمه بيا کهٔ خېرو)

## هغه مشران وائي:

- اسمان ته منجيله مهٔ تړه!
- په خلهٔ خوږ ـــ په زړهٔ کوږ
- خدايه! تهٔ داسې مهٔ شه، لکه بنده
- يو غر په بل غر مهٔ وله!
- تټ پولې وچوده، سر نښې ترلے
- تنځريه! پخپلې خلې نيوليه!
- ازو ګل ئې ګټي او مازو ګل ئې بائيلي




د زنده باد په نعره مسته!
راشه چې چل د ژوندانهٔ در وښايمه
په ما د بنې اواز وشو
لکه ډوډۍ په تنارهٔ وسوزېدمه
په تنارهٔ ولاړې پېغلې!
ډوډۍ دې نهٔ خوړم د ديدن وږے دې يمه
په سينه يو لالے ځائېږي
زهٔ لونګين او جانان دواړه ګرځومه
زما د زړهٔ طوطي کمعقله!
چې په تنکو ځانګو کښېنې، ماتې به شينه
د جينۍ ځانګې ځانګې ونه
خدايه زمونږ په کور تړې راوله خالونه
وطن زما نه پاتې کيږي
لکه مرغۍ په ډکو شپې ورته کومه
مسافري دې ډېره وکړه
رب دې سبب د خپل وطن وکړه مئينه!
وار د دله سرې خطا وي
خلک نبستي له ارمونه ورکوينه
ستا د حجرې درشل کړه شه!
زما د زړهٔ ستني کړې درپسې دينه
په غبېدلو سپو راتېر شه
په خونړو چړو به زهٔ در تېره شمه
زما سرے د خوبه تړيخ دے
په ما به وکړي د سپياکو ګوزارونه
په سپينه ږيره لېونے شوې
په تور وربل مې لاس وهې، خندا راځينه

# اباسین په الوټ کښې

شېرشاه ترخوي

علم الادب یوه ډېره ژوره موضوع ده، چې په مختلفو وختونو کښې پړې د ادب عالمانو د خپل بصارت اؤ بصیرت تر مخه محققانه بحثونه کړي دي، خو اکثریت په دې متفق دے، چې علم الادب د دولسو (12) مستقلو علمونو نه مستعار دے، چې پکښې اتۀ علمونه "اصول" اؤ څلور علمونه "فروعي" په ګوته کړے شوي دي. په اصولي علوم کښې علمِ نحو، علمِ صرف، علمِ لغت، علمِ اشتقاق، علمِ بیان، علمِ معاني، علمِ عروض اؤ علمِ قافیه شامل دي، خو د علم الادب د اصولو تر مخه دغه ذکر شوي علوم د علم العروض اؤ علم القافیه تابع ګڼلي کیږي. په فروعي علمونو کښې علمِ رسم الخط، علمِ قرض شعر، علمِ انشاء اؤ علمِ محاضرت شمېرلي کیږي.



د ادب وجۀ تسمیه د معنې په اعتبار سره ظاهره ده، چې په کلام کښې هوښیارتیا، ښائست اؤ خوند ته وائي. د مذکوره علمونو د عالم په خبرو اؤ لیک کښې به یقیناً داسې وصف موجود وي، چې اؤرېدونکي اؤ لوستونکي له به خوند اؤ پند ورکوي. ولې چې هره جمله به ئې د عقل، پوهې په تول پوره، د سوچ اؤ فکر فهم وړ وي، ځکه چې الفاظ به ئې په داسې احسنه طریقه د ادب په مزې کښې پېرلي وي، چې د لفظونو د ملغلرو د امېل مینه به پړې ماتیږي. کۀ په دې نظر د ښاغلي اباسین یوسفزي د "الوټ" کتاب چې په کال 2005 کښې د ستمبر په میاشت کښې د بخت روان عمر خېل، اکرام الله خان، حاجي محمد فراز اؤ د عبدالقادر صیاد ښاغلو په اهتمام چاپ شوے دے اؤ دوه سوه پنځۀ نوي مخونه لري، چې ترون ئې د پښتو ژبې سره د عقیدت یوه ځلانده نمونه ده، چې د ترون الفاظ ئې دا دي:

"د پښتو په نوم، چې زۀ ئې هم په سرو
کښې شمېر کړم".

کۀ د مذکوره کتاب د ترون په دې الفاظو نظر واچولي شي، نو د ښاغلي اباسین یوسفزي د پښتو نیت، جذبه اؤ هغه ټول خاصیتونه به ورته په نظر راشي، کوم چې د یؤ اعلیٰ اؤ ارفع پښتون د شان سره سمون خوري. کۀ یؤ طرف ته پښتو ژبه ده، نو بل اړخ ته د پښتو د ننګ، غېرت نه تعبیر اؤ د یؤ سپېڅلي قوم د ثقافت نوم هم دے، چې په "الوټ" کښې په څۀ نا څۀ حواله ذکر راغلے دے.

"الوټ" اسمِ صفت دے اؤ دا د ښاغلي اباسین یوسفزي د شعرونو مجموعه ده، چې په نظمونو، قطعاتو اؤ غزلیاتو مشتمله ده. کۀ د لفظ "الوټ" د علمِ بیان د مطالبو په رڼا کښې مطالعه اؤ څېړنه وکړې شي، نو معلومه به شي، چې موصوف د تشبیهاتو، کنایاتو، استعاراتو اؤ اشاراتو په وزر د خپل مرام اؤ مقصد په لور په "الوټ" کښې الوت کړے دے، ځکه چې د کتاب د مندرجاتو نه ظاهریږي، چې ښاغلے په ډېر اطمینان د خپلو ملفوظاتو په ډاډ ډېره ډاډه خبره په ډاګه کوي اؤ د ابلاغ رویه خپلوي، وائي:

اے د قام اودۀ احساسه!
لړ د خوبه خو راپاځه!

چې سرې په سترګو ړوند وي
نو تیاره څهٔ؟ اؤ رڼا څهٔ؟
تکې زیړې مو ګونې دي
له غربته، له افلاسه
اے د قام اودهٔ احساسه!
لږ د خوبه خو راپاڅه!
ټول په خپلو لارو ځغلو
په رهبر اؤ رهنما څهٔ؟
در په در خاؤرې په سر یو
همېشه له خپله لاسه
اے د قام اودهٔ احساسه!
لږ د خوبه خو راپاڅه!
په غوټو باندې اور بل دے
د چمن د زړهٔ د پاسه
زهٔ وېرېږمه ملګرو!
د دوران له التماسه
پښتونخوا نهٔ ده، دوزخ دے
اباسینه! پښې ؤباسه!
اے د قام اودهٔ احساسه!
لږ د خوبه خو را پاڅه!

دې حساس اؤ باشعوره شاعر د شعر په ژبه د "الوت" په پاڼو کښې د "هېواد" عنوان لاندې په یوه څلوریزه کښې د لوی څښتن نه داسې سوال کړے دے، چې:

خدایه! بچ مې کړې پښتون له دې فساده
هسې نهٔ چې پښتونخوا مې شي برباده
د کابل د نظارو مخونه تور شول
د بارودو لوګے خیژي له هېواده

په دې پورته شعرونو کښې شاعر خپل قام مخاطب کړے اؤ د اشاراتو ژبه ئې خپله کړې ده، چې پکښې ئې عمومیت پېدا کړے اؤ په شعرونو کښې د دائمي ابلاغ روح پوکلے دے. لکه په حال کښې چې یؤ بهرنے استعمار زمونږ په خاؤره یلغار کړے اؤ خپل مقصد ونه سر کوي.

دا د یؤ ښهٔ شاعر د تخیل برکت وي، چې د حال د حالاتو د عکاسۍ سره سره پخپلو شعرونو کښې د ابلاغ عنصر ته دائمیت وربخښي.

دا خو واضح حقیقت دے، چې "شعر" د عربۍ ژبې تورے دے اؤ د شعور نه "مشتق" دے، نو د شعر په حواله شاعر ته د شعور د څښتن نسبت کېږي، ځکه چې شاعري د انساني تجرباتو، خیالاتو اؤ جذباتو نوم دے. دغسې شاعري د ژوند تفسیر وي اؤ د تفسیر ترجماني د شعریت په رڼا کښې هغه وخت کېږي، چې په یؤ مفسر کښې تخیل اؤ جذبات دواړه موجود وي، ځکه چې په نورو لفظونو کښې شاعري په موزون الفاظو کښې د جذباتِ قلب د اظهار نوم هم دے، نو کهٔ د "الوت" په شاعرۍ غور ؤکړے شي، نو نظر به دغه منظر د زړهٔ دنیا ته د فکر په لاره منتقل کړي، نو ډېر زیات د فکر وسعت ته به ئې تقویت ور ؤبخښي.

بلاغت د شعر یؤ صفت دے. هغه دا چې کلام به د متقضائے حال مطابق اؤ فصیح به وي، چې اؤرېدوکي یا ویونکي په دې قانع کړي، چې د متکلم مقصد دا دے. دغه خاصیت د "الوت" په غزلونو کښې په ډېر شدت سره محسوسېږي، چې ترې څو شعرونه د نمونې په توګه رانقل کولے شي:

څوک چې لاسونه ټپوي اؤ قدمونه اخلي
زما اولس په ټپو سترګو په هغو پسې ځي
ملګرو! کربښه به راکاږو، سپیناوے به کوو
چې په کرسو پسې څوک ځي، کهٔ په پښتو پسې ځي
هغه سرے به خامخا چرته لېوان ماتوي
څوک چې د غرونو په طرف په لېونو پسې ځي
چا چې بلبل په سترګو هم چرته لیدلے نهٔ وي

نو مجبوراً به د زاغانو ترانو پسې ځي

د شعر د سلاست په حواله د "الوت" د غزل د مندرجاتو نه د نمونې په توګه يؤ څو شعرونه هم را مخې ته کولے شي، چې د "الوت" د ليکوال د تخيل د الوت راز را برښيره کړے شي، چې په کوم هنر ئې د شعرونو جوړښت کړے دے. وائي:

بيا زما سارۀ اهونه در په ياد شو
کۀ نه شونډې دې رپيږي د يخنۍ نه
بس دے،نور دې څۀ راپورې دي؟ قلار شه!
لاس مې پورته کړه قسمته! د مرۍ نه
ستا د زلفو تار د زړۀ په رباب سُر کړم
څۀ خوږې سندرې اؤرم د ځوانۍ نه
هسې نۀ چې د طوفان شکل اختيار کړي
زۀ وېرېږمه د خپلې خاموشۍ نه

مينه هم يوه جذبه ده، چې انسان د ځان سره د ازل نه راوړې ده، خو شاعر چې د مينې د اقدارو کومه ستائنه کوي، په هغې کښې د سوز اؤ ګداز انداز شامل وي، چې په دې موضوع په "الوت" کښې يؤ شمېر شعرونه په نظر راځي اؤ د ښاغلي موصوف د محبت د الوت اندازه ترې کيږي، چې په څومره کاميابۍ سره ئې دا موضوع هم رنګينه کړې ده. دلته يؤ څو شعرونه را نقل کولے شي:

د درد سره تړلے محبت دے، ځکه خوږ دے
د دۀ هم د ښائست هومره قيمت دے،ځکه خوږ دے
ګلونه اؤ خوشبو را باندې ګران د چا په مخ دي
د ساز مې د جانان سره نسبت دے، ځکه خوږ دے
اسمان چې کله ؤبريښي، خندا دې را په ياد شي
باران خو ستا د حسن تلاوت دے، ځکه خوږ دے
مرګے خو د جانان غېږې له تلۀ دي، خوشحالي ده
ژوندون خو له جانانه عبارت دے، ځکه خوږ دے

د "الوت"د مطالعې نه د "الوت" د مصنف د علميت، خيالاتو، جذباتو، رجحاناتو اؤ مطالباتو اندازه په ډېره اسانه د علم الادب پوهان لګولے شي. تر کومه حده چې زما د مطالعې تعلق دے، نو زۀ د دۀ د شعرونو د مطالبو په حواله دومره عرض کولے شم، چې يؤ ښۀ شاعر اؤ اديب په دې دے، چې په شعرونو کښې ئې د ادبي علومو اثار موجود دي اؤ په مناسب ځايونو کښې په ډېره زړۀ ورتيا اؤ احسنه طريقه ئې په شعرونو کښې ځاے ورکړے دے. نو د دې نه دا هم جوتيږي، چې د لفظونو په استعمال هم عبور لري. کۀ چرې مطالعه کؤنکي ئې په احسنه طريقه مطالعه ؤکړي، نو زما سره به په څۀ نا څۀ حواله متفق شي، خو دا خبره هم اظهر من الشمس ده، چې د انسان فکر د حال اؤ حالاتو تر مخه د بدلون عنصر لري، ځکه د سوچ اؤ فکر په رڼا کښې هر انسان د خپل نکته نظر د دخل مداخلت اختيار مند وي، چې په کومه زاويه شروع کوي، کولې شي —— خو کوم خلق چې مثبت فکر لري، نو د هغې ډېر ښۀ اثرات مرتب کيږي. د نفرت اؤ کرکې نه کرکه کول د انسانيت د اقدارو نه يؤ ډېر ښۀ قدر دے، لکه چې په دې باب له هم ښاغلي اباسين يوسفزي د شعر په چوکاټ کښې داسې اظهار کړے دے:

بې د نفرت نه هره چاره کؤم
زۀ د انسان په زړۀ کښې لاره کؤم
زۀ ښائستونو له غرور ماتؤم
زۀ محبت د دې د پاره کؤم

د "الوت" په مطالعه کښې به ځنې حضرات د نقد رويه هم خپلوي، خو نقد هم خپل يؤ اصول لري. کۀ په هغه اصول د يوې فنپارې د کره کوټه جاج واخستے شي، نو څۀ بده خبره نۀ وي، خو چې په نقد کښې د تعصب عنصر شامل شي، نو نقاد پخپل نقد کښې د سهوې ښکار شي. بايد چې يؤ

نقاد د چا په فنپاره تنقید کوي، نو هغهٔ له پکار دي، چې د هغې فنپارې فنکار پوره له هره جانبه مطالعه ؤکړي اؤ بیا د علم په رڼا کښې په دلیلونو ئې تنقیدي جاج واخلي . کهٔ داسې یؤ نقاد ؤ نهٔ کړي، نو بیا خو د ادب تقاضا مجروح کیږي .

ما د "الوت" د تنقیدي جاج په مقاله کښې د ابلاغ اؤ علمي فن تر مخه سرسري جاج واخستو. د پوره کتاب جاج اخستل خو د یوې مقدمې صورت اختیارول دي اؤ دا موقع داسې نهٔ ده . بهرحال، زما د علم په رڼا کښې به چرته د چا په کومه زمانه کښې هم داسې لیک تر نظره نهٔ وي راغلے، چې د تنقید نه به مبرا وي، خو دا مسلمه خبره ده، چې د انسان مصنوعه کښې به په څهٔ نا څهٔ حواله کمے نهٔ وي واقع شوے، خو هغه کمے سهواً یا مجبوراً واقع کیږي . په هغې شدید نیوکه پخپله یوه سهوه ښکاري .




د ښاغلي
اباسین
یوسفزي
د دوېمې
شعري
ټولګې
**الوت**
مخپانه

زهٔ په اخره کښې به صرف دومره عرض ؤکړم، چې د اباسین یوسفزي کومه فنپاره زما زېرِ نظر ده، په دغه فنپاره کښې ښاغلي د قامي جوش ولولې اظهار په ډېره احسنه طریقه کړے دے اؤ زما تر نظر کامیاب ښکاري . نور هم ډېر څهٔ پکښې شته دے اؤ هر څوک تږې د خپلې خوښې په رڼا کښې اخذ کولے شي، خو کهٔ ؤغواړي .

نظم **سوالکره**

کنګلیز موسم کښې ناسته پهـ سړک ده
پهـ خېرات کښې د دنیا نه ژوندون غواړي
مجبورۍ ئې پهـ هر ویاړ باندې پښه ایښې
د نیستۍ توري بلا نه خلاصون غواړي

پهـ امید لاس و هر چا ته کړي ور اوږد
د انسان د سخاوت اندازه ګوري
خلک تېر شي اؤ دا پاتې شي تش لاسې
د خپل ژوند د هر ارمان جنازه ګوري

د درد ډکې سترګې پورته کړي اسمان ته
د قدرت د وېش نه زړهـ کښې ګیله ؤکړي
خپل نهر ماشوم ئې سترګو ته ؤدرېږي
ډېر دردونه ئې دننه سینه ؤکړي

فقراللہ سالک

پهـ شهادت خو راژوندے شو بلور
پهـ پېښور کښې هر سړے شو بلور
شهید پښتون تاریخ له وینه ورکړه
زما د خاؤرې پسرلے شو بلور
د بابا فکر څوک وژلے نهـ شي
پهـ شهادت باندې موسکے شو بلور
د سرې جهنډې سُور انقلاب راولي
د پښتونخوا هر یؤ ځلمے شو بلور
بم به شي خلاص، سینې به ختمې نه کړي
د باچا خان هر یؤ بچے شو بلور
اوس به ئې پېغلې په سندرو سْتائي
د خپلې خاؤرې ننګیالے شو بلور
اول به یؤ بشیر بلور یادېدهـ
راشه! اوس هر یؤ پېښورے شو بلور
افغانه! ؤځلېدهـ، ؤپړقېدهـ
د باچاخان د تاج غمے شو بلور

عمرزاده افغان

# د غني خان دارُالأمان
## کهٔ
# د مشال خان دارُلسپایان

معظم جان معظم

څوک چې د یار کلي ته لاړ شي
چې بې دیدنه تړې راځي، ،نو مړ دې شینه

زمونږ د محرم لسمه، د واکمنو نهمه ــ ګرځنده ټنګ ټنګې چپ دے. د کرنل حیدر خان د لُور د کلیزې په خیرات کښې مې غټو وریژو، ډیرو غوښو زما خوښو ته پرلت وهلے ؤ، چې ګرځنده ټنګ ټنګې په زور شو، چې تر غوږ مې کړو، د صادق ژړک بې سلامه "کاکا" مې واورېدو. ما وې "ژړکه! بلا دې واخلم! کوټه په امن ده څهٔ، چې ټنګ ټنګې دې ژغیږي؟". وئیل ئې، "نه کاکا! په سرډهیرو کښې یم د صدر صیب په دوکان کښې. شپه مې په سخاکوټ کښې وه. اوس نو دغه تا ته رانږدې شوم". ما وې، "ژړکه! تل راشې. د رحمان بابا وینا ده، چې مېلمه رحمت وي، خو د جیب ټنګ ټنګې زحمت. دا د ګناه پلار، کاسیر رېبار، د شیطان یار، د خوړو او نمانځهٔ په ووخت خپل مالک د نعمت او عبادت څخه محرومه کړي. کهٔ غټې وریژې مې ډېرې خوښې دي، خوړې دي، خو د ژړکه جار شه!"

کرنل صیب ته مې دعا وکړه او په څغل تر صادقه راورسېدم. سلیم قندهارے ورسره ؤ او د فیصل فاران لاره ئې څارله، چې له صوابۍ را روان ؤ. فیصل فاران راورسېدهٔ او د صدر صیب نذر محمد نه مو یو څل بیا چاے ګوټ کړه. چې نرے باران وي، خوارهٔ یاران وي، نو معظم نور له خدایه څهٔ غواړي؟ کهٔ زرها مې د کور ودانې په تندي په سکني ماښام د غرمې دولس بجې وې، خو کهٔ مرګ ګران دے، د مړو ناکام دے. چې مجازي خداے ورته لوي خداے د لاشعور د خاوندانو یار کړے دے ــ کهٔ یوه سترګه ئې خاندي بله ژاړي، متې به رانغاړي ــ اور به بلوي، کټوی به پخوي.



صادق ژړک او فیصل فاران "دار الامان" ته د تلو او د نسیم بي بي د لیدو ارمان د ځان سره پیلسکي پورې تړلے راوړے ؤ. د دواړو کورنیو ټنګ ټنګي کهٔ ګونګ نهٔ وو، نو چاړاګان خو وو ــ ځواب ئې را نهٔ کړو. ما د ژړک خان او فیصل فاران ارمان شنډ لیدهٔ، خو ظاهره مې نهٔ کړه. خودکشې سرکشې سیلۍ د امن د علمبردارو د کورونو دروازې بندې کړې دي او د غني خان "دار الامان" اوس د بهرام خان او مشال خان مانۍ ده او په مانو کښې د منو د خوړلو خلې د چایو ګوټ او د بسکټ خوړ تر خلې کولے شي، د سوکړک خلې نهٔ. په نهٔ زړهٔ مې په ما ګران مېلمانهٔ دار الامان ته روان کړل، چرته چې به د غني روڼ تندي خندل او د چینارونو سیوري به سکون بخښهٔ. د تالاب اوبو به تنده ماتوله، ګلونو به

هرکلے کول ـ هغه دار الامان، چرته چې به ورځې
لحظې کېدلې ـــ شپې لمحې کېدلې ـ د غني پټو
سترګو به د جهانونو عکسونه فکرونو ته سپارل
اؤ چې دوه ورځې به معظم د دار الامان څخه غېر
حاضر شو، نو د غني بابا لعل دین به ئې د کور
تمبې ماتولې ـ



یوه ورځ په دار الامان کښې د بابا سره ناست ؤم،
د لوئې جرګې چې بابا ئې کنوېنئر ؤ، زۀ ئې رابطه
سېکټر ؤم ـ د کنونشنګ کمېټۍ دوه معتبر غړي
افراسیاب خټک اؤ لطیف افریدے راغلل ـ ما اؤ
بابا ته ئې دعوت راکړو، چې سبا د بشیر مته (چې
زۀ ورته بشیر چته وایم، ځکه چې مته د توریالو
پښتنو استوګن کلے دے اؤ زما په بشیر د پښتون
تکے پېرزو نۀ شي، چې دے پرې پېژندګلو ؤلري)
په کور آبدره روډ یونیورسټي ټاؤن کښې میټنګ
سحر لس بجې مقرر کړے دے ـ ستاسو راتګ
ضروري دے ـ څۀ ډېرې مهمې فېصلې به پکښې
کوو ـ ټول ملګري به راځي ـ بابا ما ته ؤکتل ـ ما
وې، "لطیف لالا! خامخا به انشاء الله راشو". بابا
نه مې اجازت واخستو ـ په لار مې سوچ کوۀ، چې
څۀ خو دې داسې په لاس کښې شرشم زرغونئول اؤ
بیا تېل ترې ویستل؟ ـــ نۀ دار الامان، نۀ د
لطیف لالا کور ـــ د بشیر مته کور ولې؟ خو ما
وې "بلا مې دې ترې خبر شي". الا بلا به ګردنِ مُلا ـ
زموږ ئې لمبول دي، بخښل ئې د خدائے ـ چې
شپه تر منځه وې، د هغې بلا نه مۀ وېرېږه! هسې
هم غني بابا په ژوند کښې د قاعدې قانون وعدې
ګاټې ډېر پابند نۀ ؤ ـ د زړۀ باچا ؤ ـ کۀ زړۀ ئې ؤمنل
خو "ښه"، ګنې "نه" ـ ما وې، کېدے شي، سبا ئې
اراده بدله وي، خو زما دغه اسره هم زهیره شوه ـ
بابا پوره نهه بجې په وردګه کښې حاضر ؤ ـ پاکې
جامې، ایسترې واسکټ ـــ چې د کوره راوتلم،
په وېښتو کښې ئې ګوتې وهلې ـ وې "خان! تۀ لا
تیار نۀ ئې؟" ما وې، "بابا! یوه پیالۍ چائے؟" وې
"نه! کۀ کور ته لاړم، بیا مې وارۀ کله پرېږدي اؤ کۀ
موټر کښې ئې څښکم، بیا به مې په لار تش اودس
ماتے تنګوي". ما زر جامې بدلې کړې اؤ روان شو ـ
تقریباً لس بجې ټاؤن ته ؤرسېدو ـ د بشیر "چته" د
کور مخې ته دوه څلور د پولیس سپایان ولاړ وو ـ
موږ موټر په ګېټ دننه کړو ـ دننه هم دوه څلور
کسان ټوپک په لاس ولاړ وو ـ نۀ لطیف لالا ؤ نۀ
خټک صیب ـ بشیر چته زېږ غوږونه خړې سترګې ـ
په بوټ تندي ئې را ته سترے مۀ شې ؤوې ـ موږ
لا ناست نۀ وو، چې بې ادبه ادیب، بې سنده
فلسفي، د پرون کامرېډ د نن اسلامي ارشد خان د
پړانګو هم را نازل شو ـ موږ لس اتۀ منټه نۀ وو
تېر کړي، چې د "زنده باد! مُرده باد!" چغې مو تر
غوږ شوې ـ چغې نزدې کېدې اؤ مته رپېدلو ـ لږ
ساعت کښې چغې بېخي رانزدې وې ـ بشیر چته
ارشد خان ته په غوږ کښې څۀ ؤوې ـ ارشد خان
بابا ته رانزدې شو ـ بیا ئې د بابا د ناستې سائېکل

د ګېټ پله روان کړو . زۀ زر راپاڅېدم . د ارشد خان نه مې سائېکل واخستۀ، چې د ګېټ نه بهر شوم، په سوونو خلق دي ــ سرې جهنډې دي ــ غټې غټې بېنرې دي . د بشير چېه د مرده باد اؤ د استعفا چغې وهي . کوتک په لاس ارباب مجيب الرحمان چې د عوامي نېشنل پارټۍ ضلعي صدر دے، ټرې نه وړاندې دے اؤ خلک ورپسې . ارباب مجيب چې غني بابا ؤليدو، يکدم ؤدرېدۀ . په ټول جلوس د مرګ خاموشي خوره شوه . ارباب مجيب ډېر په مرِ اواز جذباتي جلوس ته مخاطب شو، چې مونږ ئې په اواز په لس ګامه کښې نۀ اؤرېدۀ اؤ بيا جلوس ښکته سرونو مړو ګامونو سره واپس شو . غني بابا حق حېران ؤ . زما هم د پښو نه زمکه تښتېدلې وه . بلا وه برکت ئې نۀ ؤ . بابا ارشد خان ته وې، "د خدائے بنديانو! زۀ خو به مو خبر کړے وے" . د جرګې مرام اؤ مقصد دواړه اؤ د جرګې د اداکارانو دې کردارونو د بابا غورځنګي جذبه سړه کړه اؤ جرګه بې مرامه بې مقامه خپل منطقي انجام ته ؤرسېده . د چېه د کور نه چې را روان شو، بابا خاموشه ؤ . زما هم زړۀ د خبرو توان نۀ لرۀ . بابا ما ته مخ را واړؤلو . وې "معظمه!" ما وې "جي!" ــ وې "کۀ مړ شوم، هغه د ښځو خبره دې بعضو خلکو ته خو به مې مخ هم نۀ ښائي . د دوې په دعا دې ما نۀ بخښي" . ما ؤخاندل . ما وې "بابا! خدائے دې نۀ کړي، خو کۀ تاسو نۀ وئ، والله چې دا خلق به مشران وي . مونږ به لکه د غلۀ د مور د کندو په شا اوښکې څڅوو . بې دعا لپې به دوي اوچتوي" .

ښه! نو زۀ دار الامان ته سره د فېصل فاران، صادق ژړک، سليم قندهاري راؤرسېدم . دروازه بنده وه . هارن مې ؤوهلو . د دروازې په څوڈي کښې يؤ سړي چې مونږ ته ډېر په غور ؤکتل، بيا ئې چا سره مشوره ؤکړه . ور ئې دومره ببرته کړو، چې ډېر په خوارو ټرې نه راوتے شو . زما خوا ته را نزدې شو، ستړي مۀ شي ئې راسره ؤکړل . داسې ښکارېدل، لکه چې د خان نوکر نۀ وي، د سرکار اهلکار وي . لا زما پوره پېژندګلې ئې هم مناسب ؤ نۀ ګڼله . په منډه په دروازه ننوتلو . لږ ساعت پس څوړند سر ټيټې سترګې داسې ښکارېده، د دروغو هنر ئې لا پوره نۀ وې زده . وې "جي! خانان خو اسلام اباد کښې دي" . هغه څۀ خبر ؤ، چې د لاشعور خاوندان د نفسياتو ماهران هم وي . دروغ رېښتيا پېژني ــ بختور سپېرۀ مخونه زر لوستے شي . د چيو ست ئې د شونډو په سر ؤکړو، لکه چې په مونږ تنګ وي اؤ زر راڅخه ځان ؤزګاروي اؤ دغسې فېصل فاران، صادق ژړک اؤ سليم قندهاري سره زما د دار الامان د چيو اؤ بسکټونو په ارمان بې نوا را رخصت شو . چې وردګې ته را نزدې شو، خپلو د لاشعور مينه والو ته د ساقي روح لاس په نامه ولاړ ؤ، چې د يادونو ماښامے ورسره ؤکړي .

## د پښتونخوا کرکټ کلب الرياض لخوا
## د شهيد بشير احمد بلور لاس نيوه

د عوامي نېشنل پارټۍ لخوا د پښتنو د سټر مشر اؤ لاربنود اؤ د صوبه پښتونخوا د سينئير نائب وزير شهيد بشير احمد بلور شهادت د امن په لار کښې هاغه قرباني ده، چې يوه ورځ به دې وطن ته د امن اؤ سُولې زېرے راؤړي . هغۀ د غازي ژوند تېر کړو اؤ د شهادت مرګ ئې په برخه شو . مونږ پڼې وياړ کوو اؤ د شهيد لاره زمونږ لاره ده اؤ په پښتون وطن امن لپاره هېڅ نه په شا نۀ شو .

**الطاف خان**

کپتان . پښتونخوا کرکټ کلب . الرياض




# چیندرو

وار راپور

لکه څنګه چې مونږ د "ویاړ" په دې پاڼو کښې د پښتنو په خاوره د کېدونکو لوبو یوه لړۍ وړاندې کوو، په دغه لړۍ کښې نن د چیندرو خبره کوو.

چیندرو سُوچه د جینکو لوبه ده. د کور دننه انګنونو کښې یا په کوڅه کښې لوېګانې جینکۍ دا لوبه کوي. چیندرو دوه ګامونه پلن او پنځۀ ګامونه اوږد راښکلي شوے کور وي، چې بیا په پلنه دوه ځایه او په اوږدو پنځۀ ځایه ویشلے شوے وي. دغسې دا لس کوټګۍ وي. د څلور ګوټیز کور سر ته یوه غونډه کرښه وي، چې "ګرونج" ورته وئیلے شي. ګرونج ته څېلمه دوه وړومبۍ کوټنۍ "ایکه" (Eeka)، ورپسې ته "دوکه" (Dooka)، ورپسې ته "دړېکه" (Dreyka)، ورپسې ته "څلورکه" (Salorka) او د پایلې کوټنۍ ته "پنځکه" (Penzka) وئیلې شي. {د دې کوټنو شمېر څۀ سیمو کښې زیات هم کېدے شي}.

د لوبې پېل نه اګاهو، چې کوم ځاے خوښ کړے شي، هغه ځاے جارو کړے شي، تر څو هلته څۀ ګیټۍ، پوختکي یا نوره ښځله پاتې نۀ شي. دې پسې هلته دغه څلورګوټیز کور په زمکه د څۀ ډکي یا تېرۀ کاڼي ترلارې راکښلے شي او برخو کښې ؤویشلے شي. بیا جینکۍ دوه ډلې شي.

د یوې ډلې جینۍ راځي او یؤ ټیکرے، چې د خټې نه غونډ موندۀ روغ شوے وي، د ګرونج نه په ایکه کښې ؤغورځوي او بیا ټې د ښي اړخ د کوټنو نه پېل ؤکړي او په یوه پښه بیا ګرونج ته را ؤرسوي. په پنځکه کښې هغه دواړه پښې په زمکه ږدي، چې دې ته "دمه" وئیلې شي. دغسې ایکه پسې دوکه، پسې درېکه، پسې څلورکه او بیا پنځکه.

کۀ چرې یوه جینۍ د دمې ځاے نه اګاهو دوېمه پښه په زمکه کېږدي، نو دې ته "سُوزېدل" وائي. بیا د هغې په ځاے د هغې د ډلې بله جینۍ ټیکرے د یوې پښې د ګوتو په سر ټېلوهي، تر څو دغه پنځۀ کوټنو نه اوړېدلو کښې بریالۍ شي.

ISSN201301

کله چې ګرونج نه ایکه ته تیکرے ؤغورځوي، اؤ بې د سوزېدلو بیا ګرونج ته راؤرسي، نو دوکه د پاره بیا ګرونج نه تیکرے دوکه کوټنې ته غورځوي، بیا درېکه، بیا څلورکه اؤ بیا پنځکه.

د هر ټرپک اؤ هر ټوپ سره د لوبې نه خوند اخستلے کیږي . د پنځۀ کورونو نه بریالی راتلونکي لوبغاړې بیا ګرونج کښې ؤدریږي، کوټنو ته شا کړي اؤ د بلې ډلې د غوښتنې سره سم تیکرے هغه کوټنې ته غورځوي، چې کومه ورته ؤښودلې شي . د چیندرو د هم دې پړۍ له مخه، زیاتره سیمو کښې د چیندرو ناپ اؤ شمېر یؤ ساتلے کیږي، تر څو دا لوبه راتلونکي کهول ته ؤرسي .

د چیندرو د پاره ګرونج، کور اؤ کوټنې




یوه جینۍ چې کله پېغلوټې شي اؤ ستر کړې شي، نو بیا هغې د پاره د چیندرو کول غوره نۀ ګڼلې کیږي، تر څو د هغې ستر اؤ "پرده" په ځاے وي اؤ د هغې وادۀ شوي ژوند کښې هغه د څۀ تور اؤ سټونزې سره مخ نۀ شي .

د چیندرو لوبه په دوه ډلو کښې د لوبغاړو ویشلو اؤ په هغوي کښې د یوې مشرې ټاکلو سره هغوي ته راتلونکي ژوند د پاره یؤ ځاے د کار کولو ښونه ورکوي . دې سره د چیندرو د ایکي نه تر پایه پړۍ ژوند کښې هغوي تر د یؤ ترتیب اؤ یوې سلیقې ښودنه هم کوي . دغسې چې کله پښه په کرښه راشي اؤ یا تیکرے روغ د کرښې نه بل اړخ ته اړولو کښې بریالی نۀ شي، نو هغه جینۍ خپل تېر هماغه وخت ؤمني اؤ تیکرے د خپلې ډلې بلې جینۍ ته ؤسپاري، چې دا ورته راتلونکي ژوند کښې د خپلې غلطۍ منلو پوهه اؤ مشق ورکوي .

د چیندرو د پاره زیاتره مازیګر نه وروستو اؤ ماښام ته نزدې وخت خوښولے شي . دغه وخت دا هڅه کوي، چې زر تر زره د کور کارونو کښې د خپلې برخې کومک ؤکړي اؤ چې څومره زر کولے شي، ځان لوبو ته ؤزګار کړي . دې لړ کښې کله کله هغوي د بلې ملګرې/سوېلې کومک ته اشر له هم ورځي، تر څو لوبه په څۀ ډول نیمګړې نۀ شي . دا هم دغه جینکو ته د راتلونکي د پاره یؤ ډېر ارزښت لرونکے پند ورکوي . د مازیګر د زېړي کېدلو سره دغه جینکۍ خپل وارۀ ورونه خوېندې په ټوټې اخستې چیندرو ته ځان رسوي اؤ دغسې د لوبو سره سره خپلې مېاندې د کور پخلي ته ؤسپاري اؤ وارۀ تړې قلاروي .

د وخت سره سره د دې لوبو رنګ کۀ هر څو تت شوے نۀ دے، خو په کولو کښې ئې کموت راغلے دے . یؤ خوا د تې وي راتګ سره اؤ بلخوا د حالاتو څۀ غوښتنې هم . بیا هم، داسې جینۍ به نۀ وي، چې چیندرو ته "نه" ؤوائي .

# پاکستان د شلوریزو پال مات کړو

## وړومبۍ ورځنۍ لوبه کښې شنۀ بریالي شو

## هاکي اتلولۍ هم ستر مات کړو



نهادخان

د کرکټ په شلوریزه لوبو کښې اخر پاکستان د هند له لاسه پرله پسې د ماتې خوړلو پال مات کړو ـ د یوې ځوندورې ډغرې نه وروستو پاکستان دغه لوبه کښې بریالے شو ـ ډېله د حفیظ وېنا سره سمه پرېوتله اؤ هغۀ پنډوس لاس کښې واخستلو اؤ د مهېندر دهوني ډلې د منډو غر ؤدرؤلو لپاره پېل ؤکړو ـ لوبځاے کښې ننداره کؤنکې سترګې هغه وخت بقي پاتې شوې، کله چې اووۀ پوټه یوه اینچې عرفان پنډوس ویشتلو لپاره راغلو ـ هغۀ د خپلې برخې څلېریشت غنډوري ډېر په شمېر اؤ تول ور ؤغورځول اؤ دغسې نورو پنډوشو (باؤلرز) هم د هغۀ سره ملاتړ ؤکړو ـ د هند لخوا پرانسته کؤنکو ګوتم ګمبهیر اؤ راج راهنے 77 منډې روغې کړې، خو چې کله وړومبے لوبغاړے ګوتم د شاهد افریدي د لاسه ؤسوزېدلو، نو د هند راتلونکې تولې ډلې 47 منډې زیاتې کړې شوې ـ د پاکستان لخوا عمر ګل 3، سعید اجمل 2، افریدي اؤ عرفان یؤ یؤ لوبغاړے ؤسوزؤلو ـ دوه منډه کښې ؤسؤزېدل ـ د 134 منډو تکل کښې د پاکستان لوبغاړي ډاډه نۀ وو ـ د هند لخوا په وړومبي ځل راغلي بهونیشور کمار دومره په تول پنډوسونه ؤتلل، چې د پاکستان درې لوبغاړي په 12 منډو سوزېدلي وو ـ دې نه وروستو کپتان حفیظ اؤ شعیب ملک تمبوان ښخ کړل اؤ لوبه ئې بریالیتوب ته ډېره نزدې کړې وه، چې حفیظ تړې په یؤ شپېتۀ منډو د بهونیشور کمار په لاس ؤسوزېدلو ـ افریدے په سره سینه راغلو اؤ شعیب سره ؤدرېدلو اؤ شعیب په شپږه پاکستان لپاره د دې لوبې غوځه ؤکړه اؤ دغسې پاکستان شلوریزو لوبو کښې په وړومبي ځل هند ته ماتې ورکړه ـ

سردار پټېل لوبځاے کښې دوېمه لوبه د هند په برخه شوه ـ دا ځل پنډوس لاس کښې د اخستلو د حفیظ پرېکړه د یوراج سنګهه 72 منډو ته ملامته شوه اؤ هند د 193 منډو غر پاکستان ته ؤدرؤلو ـ عمر ګل څلور لوبغاړي ؤسوزؤل ـ دنګ عرفان کۀ ثوک ؤ نۀ سوزول، خو خپلو څلېریشت غنډورو باندې شل منډې ورکؤلو سره ئې لوبه مېړانه ؤکړه ـ پېل کؤنکو احمد شهزاد اؤ ناصر جمشېد شنو له هیلې هسکې کړې ـ وروستو د حفیظ توندو پنځۀ پنځوس منډو نور هم زړۀ په ځاے کړو، خو د هغۀ تګ نه وروستو مېلمنې لوبډلې د 193 مرام نه یوؤلس منډې اګاهو ساه ؤتوکله اؤ په یؤ یؤ د هند اؤ پاکستان تول یؤ شو ـ




د درې ورځنیو لوبو د لړۍ وړومبۍ لوبه کښې هند باندې خپسه کښېناستله ـ ځلمي جنېد خان د هند څلور دېوان له مونډه ؤویستل اؤ یؤ وخت

داسې برېښېدل، چې هند به سلو منډو ته هم ؤ نهٔ رسيږي . داسې وخت کښې مهېندر دهوني وروميے د راڼنا اؤ بيا ايشوان سره بدرګه هند 228 ته ؤرسولو . دهوني 113 منډې په يوازې ؤکړې . ځواب کښې په وروميې پنډوس د حفيظ سوزېدلو سره د پاکستانۍ لوبډلې پښې خوټېدلې وې، خو بيا ځلمي ناصر جمشېد اؤ ځيرک يونس خان د بياستې سر ؤنيولو . يونس خان خپلو اتهٔ پنځوس منډو سره شنو لپاره لوبه خوندي کړه . ناصر جمشېد 101 منډې ؤوهلې . شعېب ملک په څلورکې وهلو خپلې منډې څلور دېرش کړې اؤ پاکستان لپاره ئې د بريالېتوب بېرغ هم هسک کړو .



تر اوسه د دوارو لوبډلو جغ يؤ دے . پاکستان په دنګ عرفان اؤ ځلمي جنېد خانوياړي اؤ هند په مندري بهونېشور . دا درې واړه پنډوشي راتلونکي کښې نړيوال کرکټ کښې د ترهې اؤ وېرې پېلامونه ګرځېدلے شي . کهٔ دوي ته څېر شو، نو د جنېد خان اؤ بهونېشور تيکنيک ښهٔ دے، خو عرفان لکه چې د کوټې د سر نه پنډوس ووليې اؤ هم دغه ئې ګټه ده . بيا هم، وخت تېرېدلو سره کهٔ د عرفان په توپ وهلو خواري ؤشي، نو ارو مرو به د کرکټ د نړۍ يؤ لوي نوم وي.

# ايشين چيمپينز ټرافي
## پاکستان هند څخه ؤتروړله

دوحه (قطر) په ايشيائي هاکۍ اتلولۍ کښې هند د پاکستان لخوا په يؤ ګول ماتې ؤخوړه اؤ دغسې پاکستان دا اتلولي پخپل نوم کړه . د يوې مودې وروستو په داسې لويه لوبه کښې د پاکستان د ډلې بريالېتوب د پاکستان دننه د هاکۍ راتلونکي لپاره يؤ زېرے دے .



د پائيزې لوبې په وروميۍ نيمايه کښې هند د يؤ په ضد دوؤ ګولو سره وراندې ؤ . د نيمايې نه په وروستو لوبه کښې شفقت رسول ګولونه غبرګ کړل اؤ بيا چې لوبه سر ته رسېدله، د پاکستان لخوا د هند د څلورو ګولونو ځواب کښې پنځهٔ ګولونه ؤشول . د پاکستان لخوا عمران اؤ وقاص دوه دوه اؤ شفقت رسول يؤ ګول ؤکړو .

## د بنګله دېش راتګ ؤځنډېدلو؟

د سريلنکا د کرکټ لوبډله باندې لاهور کښې د ترهګرو بريد د پاکستان درشل کښې نړيوالو لوبډلو ته بؤ کښېنولے دے . دغه بؤ لرې کؤلو لپاره دوه مياشتې اګاهو د جے سوريا مشرۍ کښې د نړيوالو يؤلسو د لوبډلې راتګ ښهٔ پال ؤ اؤ بيا د بنګله دېش اعلان د کرکټ مينه والو لپاره زېرے ؤ خو اوس داسې برېښي، چې بنګله دېش د پي سي بي سره کړې لوظ نه په شا کيږي .

# هغوي بشير بلور شهيد ؤوژلو؟

**كاكي جان لالا**

نن بشير احمد بلور فاني دنيا نه رحلت ؤكړو.
انّالله و انّا اليه راجعون ٥

الله پاک دې ورله په هغه دنيا کښې نورې ډېرې خوشالۍ نصيب کړي اؤ الله پاک دې په جنت الفردوس کښې اوچت مقام ورکړي (امين ثم امين) .
هسې خو دشمن په خپله ناپاکه منصوبه کښې کامياب شو، چې بلور صېب ئې ټارګټ ؤ اؤ هغه ئې شهيد کړو، خو سوال دا پېدا کيږي، چې دبشير صېب په مرګ به د دښمن مسئله حل شي اؤ کهٔ نه نوره به هم زياته شي اؤ يا په مرګونو چا مسئلې حل کړې دي؟ ـــــ خو زما په خيال دا خلک صرف اؤ صرف د پښتون قوم مشران وژل غواړي، چې دا قوم نور هم يتيم شي، ځکه چې دا قوم خو د مخکښې نه هم يتيم پاتې شوے دے . قوم په مشر اؤ سرلښکر تُوره کوي اؤ خپل حق حاصلوي اؤ چې مشر نهٔ وي، نو هغه قوم هيڅ قوم نهٔ وي، خو خبره دا ده، چې دا خام خيالي ده، چې بشير صېب شهيد شو، نو د دوي مقصد پوره شو .
هغه د چا خبره:



مُلا اؤ طالب د قربانۍ په خوږو څهٔ خبر دي؟
چې يؤ سر پرېوځي،نو راپورته کړي بلها سرونه

بلور صېب خو جسماني اؤ بدني طور باندې جدا شو اؤ دا يؤ حقيقت دے، چې هغه به مړ کېدلو، دا دنيا ابدي نهٔ ده، خو د خدايۍ دعوه ګيرو چې د خدا ے ذمه واري په سر اخستې ده، نو د هغوي دا خيال دے، چې مونږه کامياب شو، خو داسې بلکل نهٔ ده، ځکه چې هغه د يؤ باچا خبره ده، چې په يؤ ملک ئې حمله ؤکړه، نو هغه ملک ئې فتح کړو . په هغه ملک کښې ئې يوه ښځه هم خوښه وه، نو هغه ښځه ئې هم په زور راوستله اؤ تپوس ئې ترې ؤکړو، چې "اوس څهٔ وائې؟ اوس خو ما قبضه کړې". نو هغه ښځې ورته ځواب کښې ؤوې، "باچا صېب! تهٔ زما بدن باندې قبضه کولې شې، خو زما زړهٔ اؤ روح قبضه کولے نهٔ شې اؤ نهٔ زما په زړهٔ حکومت کولے شې". نو خبره دا ده طالب جانه! چې تاسو خو بلور صېب په بدني جسماني لحاظ سره د خلکو نه جدا کړو، خو بلور صېب چې پښتونخوا د کروړونو پښتنو په زړونو کښې اوسيږي، هغې سره به څهٔ کوې؟ کهٔ نه د ټولې پښتونخوا ټهېکه مو په سر اخستې ده . ټول پښتانهٔ کهٔ تاسو وژل غواړئ، نو داسې ټکاخان هم د بنګال باره کښې وئيلي وو، چې زما بنګاليان نهٔ دي پکار، ما ته د بنګال د خاؤرې ضرورت دے، خو ټکاخان څهٔ شو؟ اؤ بنګاليان نن هم د هغې نه ډېر دي . چا چې خپل قوم سرتور کړو، نو هغه الله پاک په خپل قدرت داسې سرتور کړي، چې بيا ئې د ناستې ځاے هم نهٔ ړي اؤ داسې حالاتو نه کتابونه ډک پړاتهٔ دي، خو لوستل غواړي . چا چې د تاريخ نه سبق نهٔ دے اخستے، هغه قوم اکثر د سمندر په خړو اوبو لاهو دے اؤ کله چې قومونه تباه شي، نو د هغې وخت د داسې

مذهبي خلکو د لاسه تباه شي، چې د مذهب په معنا هم نۀ پوهیږي، ګنې تاریخ ؤلټوئ.

زما پخپله د بلور صیب سره ذاتي تعلق نشته، چې ګنې زۀ ئې په ذاتي تعلق مړسته کؤم اؤ نۀ ئې د پارټۍ سره څۀ تعلق لرم. خو په حېث د یؤ مسلمان اؤ یؤ پښتون دا وئیل غوارم، چې یؤ نر، بهادر، قوم پرست اؤ محب وطن لیډر قتلول نۀ وو پکار، بلکې د هغۀ مړسته ضرور پکار وه. د بلور صیب خدمت چې هغۀ خپلې حلقې کښې کړے دے، نو دا د هېرېدلو نۀ دے. داسې بنده د قوم د خدمت کولو د پاره ژوندے ساتل پکار وو. خو زۀ پوهېږم نۀ چې پښتون قوم د چا سره دومره بد کړي دي، چې ټولې نړۍ نه ئې خلک راغونډ کړي دي اؤ په شریکه پښتانۀ وژني. هغه کۀ عرب دي اؤ کۀ چیچن، ازبک دي اؤ کۀ د سوډان. د دنیا د ګوټ ګوټ نه د پښتون قوم د قتلولو اؤ بې عزته کولو لپاره ئې د اسلام په پاکه نامه راغونډ کړي اؤ دا ناپاکه اؤ بې ایمانه عمل پړې سر ته رسوي، چې پښتانۀ مسلمانان شهیدان کړي. اخر ولې؟ ګناه صرف دا ده، چې د مذهب په نوم باندې د انسانانو د وژلو مخالفت ئې کړے ؤ. چې د خداے لپاره انسانان مۀ هلاکوئ! دا څناور نۀ دي چې تاسو ورته څانونه قصابان کړي دي. قصاب څاروي حلالوي، انسان چا حلال کړے نۀ دے. کۀ ابراهیم علیه السلام ته حکم شوے ؤ، خو عملي شوے نۀ ؤ. هغه د چا خبره، په یؤ ځاے کښې کوهے پلیت شوے ؤ، نو هغه خلکو یؤ سړے ورکوز کړو. هغه چې د کوهي وېخ ته ؤرسېدو اؤ پورته ئې ؤکتل، نو سترګې پړې تورې شوې. غږ ئې ؤکړو، چې تاسو دا کوهے پاکوئ اؤ کۀ پلیتوئ؟ خلکو څواب ورکړو، چې مونږه ئې صفا کول غواړو، نو هغه ورته وائي، چې بیا ما در ؤخېژوئ! ــــ نو زما په خیال دا خلق پاکستان صفا کوي اؤ کۀ عراق یا فلسطین به ټرې جوړوي. د مذهب په نوم دا سوچ ډېر وړاندې نه متعارف کړے شوے دے، چې څوک هم د امن، پرمختګ اؤ ترقۍ خبره کوي، هغه خلک د وخت د مُلا، پنډت اؤ راهب دښمنان شوي دي. د ریښتیا د دغه غږ چقولو اؤ د خپلې اجاره دارۍ په ځاے ساتلو لپاره د خداے اؤ مذهب په نوم دغه مترقي اؤ امن خوښي خلک وژلي شوي دي. دا د دې صدۍ خبره نۀ ده اؤ نۀ یوازې اسلام پورې تړل ئې مناسب دي ــــ ښکاره تاریخ کښې مونږ د تېرو درې زره کلونو نه د داسې واقعاتو یؤ اوږد تاریخ لرو.

مغربي دنیا کښې د علم رڼا داسې وهمونه اؤ غلطې عقیدې د منځ نه یؤړلې. د عیسائي دنیا ټولو نه لوي پادري ئې یؤ وړوکي ریاست کښې په غټ تخت باندې کښېنولو اؤ د الله مخلوق ساه واخستله. د یؤ مسلمان په حېثیت مونږ دغه انقلابونه چې په تېرو یؤ نیم زر کلونو کښې شوي دي، د اسلام د انساني عظمت اؤ علمي حقیقتونو لاره پرانستلو سره شوي دي.

په دې هر څۀ سربېره، کۀ عیسائیت کښې د خداے په نوم وژنې کېدلې، نو هغې پسې اسلام راغلو اؤ د امن پیغام ئې ځان سره راؤړلو. خو الله دې خبر کړي، ځکه چې اسلام پسې خو بل دین نشته، نو بله لاره هم نشته.

فساد د اسلام د غلطې تشریح کؤنکو له مخه دے. پکار ده، چې مونږ د اسلام په روح اؤ معنا ځان پوهه کړو اؤ په کومه ورځ چې د اسلام په روح اؤ معنا مونږ ځان پوهه کړلو، په هغه ورځ به امن وي.

نو طالب جانه استاذه! څۀ دې خیال دے؟

زما نه بل خوش نصیب نشته
زۀ د جانان وطن په مینه شهید شومه

# جده (سعودي عربستان) کښې شهید بشیر بلور ته پېرزوېنې

فضل شاه مومند

د سعودي عرب په جده ښار کښې د شهید بشیر بلور په درېمه یؤ مقامي هوټل کښې د یؤ تقریب اهتمام د اے اېن پي جدې څانګې مشرانو ښاغلي نوشېروان خټک اؤ ښاغلي عزیزخان کړے ؤ. د تقریب پېل قاري ګل زمین خان د تلاوت کلام پاک سره ؤکړو، چې ورپسې شهید بشیر بلور د پاره یوه اجتماعي دُعا ؤشوه. د دغه تقریب مشر مېلمه قونصلر مظهرخان کاکاخېل سره په سټیج ناستو مېلمنو کښې د پي پي پي سعودي عرب صدر ریاض بخاري، د پاکستان مسلم لیګ (ن) جده صدر ملک محي الدین، د جے یو آئي جده څانګې صدر طاهر بهائي اؤ نائب قونصلر تحسیم الحق حقي موجود وو. هر څۀ نه اول چې د دې تقریب اهمیت ئې نور هم سېوا کړو، هغه د پېښور نه د عثمان بلور ټیلیفوني خطاب ؤ. هغوي خپل خطاب کښې ؤوې، چې زما والد صېب د دې قوم د پاره قرباني ورکړه. دا جنګ د هغۀ ذاتي جنګ نۀ ؤ. خپلې وېنا کښې هغۀ حاضر محفل ته د ایصال ثواب د پاره د دوؤ دوؤ رکعتونو د نفل درخواست ؤکړو اؤ د دې تقریب منعقد کؤلو ئې د منتظمینو شکریه ادا کړه. تقریب ته ورومبي مقرر ښاغلي عزیز خان خپلو خبرو کښې د دې پېښې په سختو ټکو کښې غندنه ؤکړه. هغوي دا هم ؤوئېل، چې داسې د شهادت مرګ په لکهونو کښې چاته مېلاوېږي. بشیر بلور د شهزادګانو غوندې پېدا شوے ؤ اؤ د زمري په شان مړ شو. هغۀ په ترهګرو غږ ؤکړو، چې د غارونو نه راؤځئ، بورقې ؤغورځوئ اؤ مخامخ مېدان ته راشئ. ښاغلي سربلند خان خپل تقریر کښې ؤوئېل، چې اخر مونږ نه ولې د قربانۍ ګډوري جوړ دي. دشمن دې مونږ ته ؤوائي، چې اخر زمونږ ګناه څۀ ده؟ څوک چې د حق اؤ د انصاف خبره کوي نو هغه دې وژلي کیږي. دا جنګ یوازې زمونږ جنګ نۀ دے، خو ولې بیا هم یوازې مونږ وژلے کیږو. د نورو ګوندونو راغلو مشرانو خپلو خبرو کښې د شهید بشیر بلور ژوند اؤ شهادت دواړه د امن لپاره د یؤ مقدس اؤ پیاوړي جدوجهد علامتونه یاد کړل اؤ د خپلو ګوندونو لخوا ئې تعزیت وړاندې کړو.

د دې غونډې مشر مېلمه ښاغلي مظهرخان کاکاخېل خپلخ وېنا کښې ؤوئېل، بشیراحمد بلور یؤ داسې شخصیت ؤ، چې د هیچا څۀ قسمه اعتراض پرې نۀ ؤ، خو ولې بیا هم د ترهګرو نخښه شو اؤ دا د ترهګرو لخوا په لیډرشپ یؤ ډېر ظالم وار ؤ. هغۀ زیاته کړه، چې شهید بلور زما ګاونډي ؤ اؤ د هغه په ظاهر اؤ باطن پاک سړے ؤ. د غونډې په اخره کښې ښاغلي نوشېروان خټک د تمامو مېلمنو شکریه ادا کړه اؤ د ډوډۍ خوړلو بلنه ئې ورکړه، چې هم دغه هوټل کښې ئې اهتمام شوے ؤ. د دې غونډې د سټیج چارې راقم الحروف تر سره کړې.









# موسيقي اؤ تال

خيام يوسفزے

د لاسونونو په يو مخصوص انداز کښې په وزن اؤ د ټاکلې شوې ماترو په حساب طبله غږولو ته "تال" وائي. لوستونکيو ته دې ياده وي چې د تال غوږولو د پاره دوه قسمه ډولکي پکارولې شو، چې يؤ ته "زير" اؤ بل ته "بم" وئيلے شي. دلته دا خبره د فکر وړ ده، چې استاذان د موسيقۍ الات د يؤ بل سره د هم اهنګۍ لپاره سوروي، لکه د مثال په توګه د طبلې زېر د سندرغاړي د غږ د کهرج سره سُورولے شو اؤ پکار ده، چې ټول الات د "کهرج" سره سُر شي، خو د سُر د سورولو بيان ځان له يؤ باب دے اؤ دا به مخکښې ليکونو کښې په تفصيل سره راشي. دلته به په تال خبره ؤکړو. د استاد طبله نواز په لاسو کښې قدرت وي چې د طبلې نه هر ډول درز ؤباسي يا ټرې هر رنګه اواز ؤباسي ـــــ خو د تال د پاره څو مخصوص درزونه ټاکلي شوي دي، لکه دها، دِهن، تو، نا، تِن، تا، ترک، ترکټ وغېره عامې د ي اؤ دغه شان نور. د طبلې يؤ "درز" يوه ماتره حسابيږي اؤ دغه شان مختلف درزونه يؤ تال يا ټيکه حسابيږي. دې درزونو ته په اردو کښې "بول" هم وائي اؤ دغه بول چې سره يؤ شي نو ډېر زړه راښکونکے تال ترې جوړ شي.

په موسيقۍ کښې تالونه ډېر زيات دي، خو کوم چې عمومي پکارولې شو، د هغې خبره سره د هئيته څۀ په دا ډول ده:

### تين تال

شپاړس ماترې يا درزونه لري چې په دا ډول دي 4/4/4/4

دها دِهن دِهن دها / دها دِهن دِهن دها / نا تِن تِن نا /دها دِهن دِهن نا

**يک تال**

دولس ماترې لري

2/2/2/2/2/2

دِهن دِهن/دها تِرک /تُو نا /کت تا/دها ترک / دِهن نا

**جب تال**

لس ماترې دي

2/3/2/3

دِهن نا/ دِهن دِهن نا / تِن نا / دِهن دِهن نا

**دادرا**

شپږ ماترې لري

3/3

دِهن دِهن نا / تِن تِن نا

**کِهروا**

اتۀ ماترې لري

4/4

دها تِرک تِن تِن / تا تِرک دِهن دِهن

**روپک**

اووۀ ماترې لري

3/2/2

تِن تِن نا / دِهن نا / دِهن نا



د ماترو د سر نه تر اخره پورې يؤ چاپېرچل وي اؤ په دې کښې اهم څېز ټيمپو وي، چې د وخت کمے يا زياتے پکښې رانۀ شي اؤ چرته چې دغه چاپېرچل ختمېږي، دغې ته د موسيقۍ په اصطلاع کښې "سم" وئيلے شي. (نور بيا که ژوند ؤ)

# چناب گاندهي باچاخان

## د لېلا بنسالي باچاخان ته پېرزوئنه

روزي خان ناز

په 2009ء کښې په ورومبي ځل د نومورې فلمساز ې مېکلوهن لخوا "باچاخان: د امن مشال" په نوم ډاکومنټري فلم ټولو نه غوره جائزه تر لاسه کړه. د سټر لاربنود ژوند نړۍ ته وړاندې کولو اؤ پېژندو دغه ورومبۍ هڅه وه. نومورې يوېشت کلونه دغه فلم باندې تېر کړي وو.

اوس اوس د هند د سنېما لوي نوم سنجے لېلا بنسالي د ازادۍ د جنګ د دې سټر مبارز اؤ د عدم تشدد د فلسفې پېژندګلو خان عبدالغفار خان (باچاخان) په ژوند د "چناب ګاندهي" په نوم د يؤ فلم تابيا کړې ده، چې د هند د سنېما ځلنده ستورے ميتابه بچن به پکښې د باچاخان رول لوبوي. د فلم نورو کردارونو لپاره راجيو کنډېلوال اؤ ويديا بالن چوڼ شوي دي. قېصه هم د لېلا بنسالي لخوا د نومورې "هېلن کېلر" په ژوند اډانه فلم "بلېک" قېصه ليکونکي بهاواني لئير ليکلې ده. سنجے د دې فلم په حقله وائي، "د باچاخان په ژوند دا فلم زۀ يوازې خپل ځان لپاره نۀ، بلکې په نړۍ کښې د امن لپاره جوړوم. زۀ ګنم چې دې وخت کښې نړۍ ته د باچاخان د فکر د نور کله نه زياته اړتيا ده".

ميتابه بچن دې فلم اؤ دې کښې د خپل کردار په حقله وائي، "هندۍ سنېما کښې به زما د ژوند دا هغه کردار زۀ کؤم، چې ما ئې ارمان لرلو".

د "بلېک" قېصه اؤ د هغې اغېزو ته چې ګورو، نو هيله کوو، چې دا فلم به د حضرت باچاخان د ژوند ګڼ اړخونه څرګند کړي اؤ ذهنونه به بدل کړي.

ISSN201301

# ټیلیویژن او سي ډي

## د سَتر معیار به څوک ټاکي؟

حضرت الله قائد

د سَتر معیار د سیمې سره بدلیږي او د یوې ژبې، یو کلتور، یوې سیمې او یو قام دننه هم د کلي، بازار او ښار سره دغه معیارونو کښې بدلون راځي. دې سره د سَتر معیار د پاره د مذهب نوم استعمالولو کې دا تېر کوي، چې د مذهب ښکلې مخ د خپلې پوهې رنګ او هئیت سره جبراً د نافذ کولو خبره کوي او دغسې مذهب بدناموي.

د سَتر او د فحاشۍ حدونو باندې به هغه خلک جګړې او پرزوني کوي، چې د چا په ټولنه کښې تورسرې سرتورې او تنګ لنډ اغوستن یا سارهي کلچر سره انډول لري. مونږ پښتانه که هر څومره جدیده او ازاد خیاله سیمه کښې مېشته شو، خو هغه د ښاغلي حمزه شینواري د شعر مفهوم دے، چې که اسلام نه وُ، نو بیا هم زما کلتور د سَتر، ننګ او پت نخښې د پېړیو نه خوَندي مونږ ته را رسولې دي.

د پاکستان دننه چې بَرېښنائي رسنیو (الیکټرانک میډیا) څومره ازاده او پراخه شوې ده، دومره سَتر دړکې سره مخ شوے دے. د پېسو او کمرشلزم یو داسې سېلاب راغلے دے، چې هغوي پخپله د هغه نظریې سره متصادم ولاړ دي، کومه نظریه چې دوي د "دو قومي نظریه" په نوم د مملکتِ خداداد تادې ایښودلو د پاره خپله کړې وه. د هندو سنېما او ټي وي ډرامې ئې کورونو ته دننه کړې او د هغې اغیزې دا راغلې، چې نن د بولیوډ د سنېما یو کردار خو وړوکے ماشوم هم پېژني، خو د قام نوموړي او نومیالي نه پېژني. دې فکر په ټولنه کښې هاغه قوتونو له بیا ژبه ورکړله، کوم چې د مذهب یا تهذیب په نوم د ژوند لوئې نه لویه مسئله باندې سترګې پټې وي، خو دغه خبرې راخلي او د اولس ژوند پرې لا سْتونزو او ازمېښتونو سره مخ کوي.



اوس سوال دا پېدا شوے دے، چې د ډرامې لپاره به د سَتر معیار څوک ټاکي؟ دې لړ کښې مونږ دا خبره کوو، چې د کېبل او ډش راتګ سره د دې سېلاب مخه نیول ګران شوي دي. بیا د انټرنېټ تر لارې هر ډول موادو ته رسېدل د ګوتو د سر لوبه ده. دې حالاتو کښې ټولو نه لویه ذمه واري په مور پلار راځي، چې د خپلو بچو د پاره د دې ډول ټولنیزو بدو اغیزو نه ژغورنې لپاره ګامونه پورته کړي. د هر سړي پرښته او شېطان هغه کښې دننه اوسیږي. چرته چې لوڅې بربنډې چېنلې شته، نو هلته د سَتر حدونه او لارې هم شته، خو دې فکر سره داسې نه ده، چې ګنې ریاست بري الذمه شو. د ریاست ذمه واري ده، چې د وطن پولې ساتلو سره نظریې هم خوَندي کړي. اوس دا خبره زیاته زور او شور سره مخې ته راوړلې شوې ده او باید ریاست د دې لپاره څه معیار وُټاکي، ځکه چې دې وېره باندې سترګې پټولې نه شو، چې که دا سَتر ټاکل هم ځان ته د ښې لاس ویونکو ته وُسپارلې شي، نو انجام به ئې یوه بله د تشدد د خونړۍ سلسله وي.

ISSN201301



د شهیدانو روحونو ته سُور سلام
مونږ پخپله خاوره امن غواړو
څانګه به نن سبا کښې ګل شي
مائې په سر کښې سُري غوټې لیدلې دینه
مونږ په دې ورځ د حضرت باچا خان اؤ د پښتنو شهیدانو
روحونو سره دا لوظ کوو، چې د عوامي نېشنل پارټۍ بیرغ په
لاس کښې به د پښتونخوا دننه امن راوستلو لپاره هیڅ
قربانۍ نه مخ نهٔ اړوو
تل دې وي پښتانهٔ اؤ تل دې وي پښتونخوا
زمونږ یؤ غږ
امن
امن
امن
پیر علي محمد
چیف ایګزیکټیو
مجموعة مصانع بير علي محمد للدهانات و براميل المعدنية
WYAARH advertise 03009339128

wyaarh.ashnaghar@gmail.com



شېربهادر آفتاب

ننګيالے پښتون

# د امن شهيده!

## شهادت دې مبارک شه!

اوس د بدلون سپرلے راځي د پښتنو په خاوره
اوس پښتانۀ د وطن غلۀ پېژني، روغ پېژني
اوس د تيارو د امامانو فتنې شنډېږي واخله!
پښتانۀ ويښ شول، رېښتيا پېژني، دروغ پېژني



بشير احمد بلور شهيد
۱۹۴۳-۲۰۱۲

## د مرام تاکنه په عقل کيږي، خو تګ ورته لېونتوب غواړي

حضرت باچا خان رح

# چې قام نۀ وي نو رياست څۀ؟ اؤ سياست څۀ؟

د پښتنو پرمختګ اؤ په پښتنه سيمه د امن اؤ سُولې لپاره کۀ عوامي نېشنل پارټۍ يؤ خوا د ښوُنځو، ليسو اؤ پوهنتونو لړۍ خوره کړه، نو بل اړخ ته ئې د صوبې تباه شوے انفرا سټرکچر هم بيا ودان اؤ نور خپور کړو، خو په دې هر څۀ لوي برياليتوب دا دے، چې د ترهګرو اصلي مخ ئې اولس ته څرګند کړو اؤ دا د رڼ اؤ ځلاند سباؤن نخښه ده



د حضرت باچا خان د امن اؤ عدم تشدد فلسفه د اے اېن پي د سياست تګلاره ده اؤ په دې لړ کښې هڅوي په دې خاوره د امن راوستلو د پاره د هېڅ ډول قربانۍ نه ځنډه ؤ نۀ کړله اؤ د اولس ژوند خوندي کولو اؤ د سيمې پرمختګ د پاره عملي مېدان کښې ولاړ دي اؤ هېڅ قيمت باندې هم خپل اولس نه په شا نۀ شول





# عوامي نېشنل پارټي

سعودي عرب څانګه